لا إله إلا الله محمد رسول الله

وَالَّذِينَ جَٰهَدُوا فِينَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا ۚ وَإِنَّ اللَّهَ لَمَعَ الْمُحْسِنِينَ

(سُوۡرَةُ العَنكبوت: ۶۹)



# جهادي فکر او روزنه


ليکوال: استاذ همت الله حقمل (خادم المؤمنين)



نېټه: ۱۴۴۵ هـ ق

بسم الله الرحمن الرحیم

# د کتاب په اړه

**نوم: جهادي فکر او روزنه**
**لیکوال: استاذ همت الله حقمل**(خادم المؤمنین)
**کمپوز او ترتیب: خپله لیکوال**
**چاپ: نه دی چاپ شوی**

**اړیکه**

**ایمیل: hhaqmal600@gmail.com**
**واتساف: +93706004042**

**پاملرنه: کتاب د الله تعالی د رضا لپار لیکل شوی، نشرول یې خپله جهادي دنده وګڼئ، په دې ثواب کې ځانونه راسره شریکان کړئ او هیله ده چې الله تعالی تاسې ته هم د دې کتاب د لیکلو په اندازه ثواب درکړي.**
**کتاب د مبارزینو ورونو سره، ډېره همکاري کوي، هیله ده چې په خپلو لیکنو کې به استفاده ورڅخه وکړي.**

# ډالــــۍ

- د اسلامي اُمت هغه اتلانو ته چې د دین لپاره یې خپل مال، ځان او ژبه په پوره ډول استعمال کړل؛ د جـهاد او قربانۍ په لاره یې تر آخري سلګۍ (مرګ) پورې استقامت وکړو او په هسکه غاړه د الله تعالی حضور ته لاړل!
- هغه غیرتي اتلانو ته چې د اسلامي اُمت د مظلومانو احساس ورسره وي او د هغه د نجات لپاره په پوره معنی هڅې کوي؛ د جـهاد او قربانۍ لاره یې نیولې ده!

# د مـوضـوعاتو لړلیک


1. مـقـدمـه ........ 1
2. نیت او اخلاص ........ 5
3. جـــهـاد ته اړتیا ........ 6
4. لیکوالانو او مبارزینو ته وایم ........ 13
5. دښـمن مو څـــاري ........ 14
6. دښـمن مو پرمختګ نه غواړي ........ 15
7. دښمن مو اتحاد او یو والی نه غواړي ........ 16
8. د قومیت او تعصب ناره نفرتونه زیږوي ........ 18
9. د مـــاديـــت رنځ او ناروغـــي ........ 23
10. جـــهـادي فکر هم اصلاح کوونکی دی ........ 25
11. د دین په لار کې ستونزې تېرول نبوي سنت دي ........ 26
12. خطرونه په سر اخیستل د اتلانو سنت دي ........ 28
13. د خواهشاتو او شهوتونه یو مثال ........ 29
14. جـــهـاد په څو جملو کښې وپېژنه! ........ 31
15. دیـن هم پر مونږ حـــق لري ........ 32
16. خپل فکر، عقیده او فرهنګ وساتئ! ........ 34
17. د یرغل سره فکرونه بدلیږي ........ 38
18. جـــهـاد سراسر ګټه ده ........ 40
19. شـــهـــادت بالکل نوی ژونـد دی ........ 41
20. د نسلونو روزنه خپل مسئولیت وګڼئ! ........ 42
21. په اسلامي عقیده خپلواک فکر په کار دی ........ 46
22. د اُمت علماء او د جـــهـاد مسئله ........ 47
23. کفر یو ملت دی اسلامي اُمت ټوټې شوی دی! ........ 55
24. د حق علماؤ د بدنام کولو هڅې ولې کېږي؟ ........ 56
25. نبـوي لوبــې او کرکـیټ ........ 58

26. د ټولنې فرهنګ بد خلک خرابوي ........ 60
27. جــهـادي فـــكر ........ 63
28. د حکومت دوې مهمې دندې ........ 65
29. دا صـحنې به هم تاريخ وليکـــي ........ 66
30. د کفارو ملګرتيا د دنيا او آخرت رسوايي ده ........ 70
31. څــوک بـــشر دوستان دي؟ ........ 72
32. د مــور او پـلار يوه غلط فهمي ........ 74
33. په ځوانانو کښې دوه شيان ډېر قوي وي ........ 76
34. د اسلامي حکومتونو د زوال اسباب ........ 79
35. د کفارو ظلمونه او زمونږ چوپتيا ........ 84
36. د افکارو خپلواکي فرهنګي خپلواکي زېږوي ........ 86
37. غرب ته تللي او تلونکي خلک ........ 88
38. د صحابه کرامو رضي الله عنهم يقين ........ 89
39. زه په دې وېره کښې يم! ........ 90
40. د اسلام پخوانی او اوسنی حالت ........ 91
41. ديـــن او سياسـت ........ 92
42. د ښځو په اړه غربي فرهنګ ........ 94
43. اوسني او پخواني پلرونه او سپينږيري ........ 95
44. د حـــزب التحرير ګوند ........ 97
45. تحريريان د نبوت په يوه برخه عمل کوي ........ 103

# مـقـدمـه

الحمد لله الذي أمر المؤمنين بقتال الكفار والمنافقين، وفضل المجاهدين أجرا عظيما على القاعدين، ووعدهم بجنان الفردوس والحور العين، والصلاة والسلام على قائد الانصار والمهاجرين، نبينا محمد وعلى آله وأصحابه اجمعين، وعلى من تبعهم بإحسان إلى يوم الدين.

اما بعد: قال الله تعالى: **وَقَٰتِلُوهُمْ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ كُلُّهُۥ لِلَّهِ ۚ فَإِنِ انتَهَوْا فَإِنَّ اللَّهَ بِمَا يَعْمَلُونَ بَصِيرٌ** (سُوۡرَةُ الاۡنفَال: ٣٩)

**يَٰٓأَيُّهَا النَّبِيُّ جَٰهِدِ الْكُفَّارَ وَالْمُنَٰفِقِينَ وَاغْلُظْ عَلَيْهِمْ ۚ وَمَأْوَىٰهُمْ جَهَنَّمُ ۖ وَبِئْسَ الْمَصِيرُ** (سُوۡرَةُ التّوبَة: ٧٣)

قال رسول الله (صلى الله عليه وسلم): **جَاهِدُوا المُشرِكِينَ بِأَموالِكُمْ وَأَنْفُسِكُم وَأَلسِنَتِكُم** (رواه ابو داؤد باسناد صحيح)

**ان سياحة امتي الجـهاد في سبيل الله** (رواه صيح ابو داؤد)

له هر څه مخکې، يو ځل د خپل مهربان او لَوروونکي رب (جل جلاله) شُکر په ډېره عاجزۍ سره ادا کوم، چې زما په څېر کمزوري شخص ته يې قلم په لاس او د دې کتاب د ليکلو توفيق ورکړو؛ له دې څخه وروسته بيا دا دعاء کوم چې يا الله ته يې د خپلې رضا او د مسلمانانو د ګټې سبب وګرځوې!

نن هغه زمانه راغلې ده چې يوه لحظه هم بايد د کفارو له مبارزې او مقابلې څخه غفلت ونشي، د اسلامي اُمت هر وګړی په دې مکلف دی چې د دې مبارزې ميدان ته راودانګي؛ په خپل مال، ځان، ژبه او قلم سره په پوره اندازه مقابله او جـهاد وکړي؛ ځکه چې اسلامي اُمت په ډېر مظلوميت کښې دی.

کفار په پوره معنی د جګړې میدان ته را وتلي او د اسلام په خلاف يې ټوله نړۍ سره يو ځای کړې ده. د اسلامي نړۍ زیاتره بې غیرته حکومتونه، بې ضمیره، او بې احساسه تش په نامه مسلمانان يې هم په څنګ کښې ولاړ دي. په پوره ډوّل په مظلومو مسلمانانو ظلمونه کوي، وينې يې تويوي، ښځې او ماشومان يې بې عزته کوي. اسلامي خاورې يې غصب کړې دي او کوي يې، د اسلام او اسلامي مقدساتو سپکاوی کوي. په ټوله نړۍ کښې مسلمانان سر نشي ترې پورته کولای. په داسې حال کښې د اسلامي اُمت وحدت او يووالي ته ډېره اړتيا ده، په کار ده چې مسلمانان په اسلاميت سره وپيژني او يو له بل سره بايد د اسلاميت په اساس مرسته او همکاري وکړي. د اسلامي اُمت زياتره کسان د غربي تبليغاتو ښکار شوي او اوس هم ټول هغه نظريات بيانوي کوم چې غربي فرهنګ او فکر پکښې لوړ او ښه ګڼل شوی؛ چې په حقيقت کښې داسې نه ده؛ په کار خو دا ده چې له دې حالت څخه دا شغال شوي فکرونه وايستل شي، دا خلک د غفلت له خوب څخه بايد راويښ شي، ضمير يې بايد راژوندی شي؛ د جـهاد په اهدافو بايد پوه شي، د جـهاد جذبې يې بايد تاندې او ځپاندې شي. مونږ ته په کار ده چې د خپلو نسلونو په روزنه کښې پوره پوره کوښښ وکړو، خپل اوسني او راروان نسلونه بايد د کفارو له دجالي او غولوونکو دامونو څخه وژغورو. خپل نسلونه بايد په پوره اندازه وروزو، د غيرت درس ورکړو د آخر زمان د فتنو څخه يې وساتو. روزونکي هغه څوک دي چې يو څوک يې خبره اوري هغه که د مکتب، د مدرسې او يا هم د پوهنتون استاذان دي، که د مسجد ملا امام دی، که د کور سرپرست دی، که ملک دی او که سپينږيری دی. دا ټول

هغه کسان دي چې دوی کولای شي د خپلو نسلونو روزنه وکړي، خپل نسلونه په جـهادي، غیرتي او ایماني نظریه وروزي او د الله تعالی له خوا مکلف هم دي؛ الله تعالی به سوال هم ورڅخه کوي. زمونږ یو هدف د مسلمانانو تر منځ نړیوال اسلامي اخوّت رامنځته کول، د مسلمانانو ترمنځ د معاصرو پولو لغوه کول او له منځه وړل دي؛ دا سرحدات هغه څه دي چې په اسلام کښې هېڅ اصل نه لري؛ یوه کفري لومه ده چې مسلمانان یې پکښې اچولوي او په ډېرو برخو یې سره تقسیم کړي دي. ترڅو پورې چې مسلمانان دا سرحدات له منځه یونسي تر هغې یې کامیابي او پرمختک ناشونی او غیر ممکن دی.

بل هدف مو په اسلامي اُمت کښې د جـهاد نظریه جوړول او عامول دي. هغه قومونه چې د جـهاد په ارزښت پوه شوي، هېڅ کله یې د غلامۍ زولنې پښو ته نه دي لوېدلې، هېڅ کله یې ذلیل او خوار ژوند نه دی کړی، هېڅ کله یې د ټیټو سترګو ژوند نه دی کړی. چا چې د جـهاد ارزښت پېژندلی بیا یې د قرباني لارې ته لبیک ویلي دي، بیا یې د دین له دښمنانو څخه څرمنې ایستلې دي، بیا یې اسلامي نظامونه ساتلي دي، بیا یې په شهادت خپلې د بقاء او همېشني ژوند تندې خړوبې کړې دي، بیا یې اسلام لوړ کړی دی او د عروج دنګو منارونو ته یې رسولی دی.

په دې کتاب کښې بېلابېل موضوعات تشریح شوي او یوه خاصه موضوع په بر کښې نه نیسي؛ خو بیا هم زیاته برخه یې (د اُمت یووالی، د کفارو دسیسې او پلانونه، د نسلونو روزل، معاصر سرحدات او د جـهاد پېژندنې) ته ځانګړې شوې ده. کېدای شي ځینې موضوعات یې ترخه وي، خو ټول

هغه څه په خپل ځان کښې رانغاړي چې د اسلامي اُمت د پرمختګ او کامیابۍ سبب ګرځي. دا کتاب د هغه موضوعاتو په اساس لیکل شوی چې ما غوښتل د میډیا په بېلابېلو صفحو یې نشر کړم، خو دا چې میډیا په پوره اندازه د غربیانو او کفارو په لاس کښې ده؛ مونږ ته اجازه نه راکوي چې خپل نشرات او حق تر خلکو په خپل اختیار او واک ورسوو، نو ومې غوښتل چې د کتاب په بڼه کښې دا خپل نظریات او لیکنې نشر کړم، اوس له لوستوونکو څخه هیله کوم چې تر نورو خلکو پورې یې ورسوي او په دې خدمت کښې ځانونه راسره شریکان کړي. که په کوم ځای کښې ستونزه وي او یا هم کوم څه، یا الفاظ مناسب نه وي، د هغې په اړه مونږ کمزوري وګڼئ او عفوه راته وکړئ. که ډېره اړتیا وه مونږ ته په شخصي کښې کولای شئ رابطه وکړئ. تر څو په راروان وخت کې اصلاح شي.

په پای کښې له هغه ټولو ملګرو څخه ډېره مننه کوم چې زما سره یې د دې کتاب په بیا کتنه کښې همکاري کړې، هڅولی یې یم او مشورې یې راکړې دي؛ د الله تعالی له پراخه دربار څخه ورته د جنت الفردوس غوښتوونکی یم.

په درنښت

استاذ هــمت الله حقمل (خادم المؤمنین)

ستاسې ورور د دعاء په هیله مو!

# نیت او اخلاص

اې مؤمنه وروره! هر څه چې کوې د الله تعالی د رضا او ثواب په نیت یې ترسره کړه؛ ترڅو الله تعالی درڅخه راضي او په مقابل کښې یې اجر درکړي.

رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمايي: **انما الاعمال بالنيات** (رواه البخاري ومسلم)

**ژباړه: بېشکه د عملونو دار او مدار (ثواب) په نیت پورې اړه لري.**

ځینې وخت ډېر لږ عمل وي خو الله جل جلاله په هغه سره انسان ته ډېر لوی اجر ورکړي، دا ځکه چې په اخلاص یې د الله جل جلاله د رضا لپاره ترسره کړی وي؛ خو ځینې وخت ډېر لوی عمل انسان ترسره کړی وي، خو الله جل جلاله هېڅ ثواب نه وي ورکړی او یا یې ډېر کم ثواب ورکړی وي، دا ځکه چې هلته بیا اخلاص کم وي او خاص د الله جل جلاله د رضا لپاره نه وي؛ رياکاري، نور مادي او معنوي اهداف یې ورسره یو ځای کړي وي او د هغه ترلاسه کولو لپاره خپل اعمال ترسره کوي. دا خو ښکاره خبره ده چې الله  تعالی په هغه اعمالو سره خپلو بندګانو ته ثواب ورکوي چې د الله تعالی د رضا او ثواب لپاره ترسره شوي وي.

اخلاص دې ته وايي چې ته هر کار د الله تعالی د رضا لپاره، یوازې د الله تعالی لپاره ترسره کوې. یا په بل عبارت: له ریا (ځان ښوؤدنې)، شهرت، مادي او معنوي امتیاز څخه پاک او صرف یوازې د الله جل جلاله د رضا لپار، د اعمالو ترسره کول اخلاص بلل کېږي.

که چېرې د دنیا دا څو ورځې ژوند په سالم او سم عقل سره په پوره معنی درک کړو، نو په دنیا کښې به پرته له دې چې الله تعالی پرې خوشحاله کیږي، نور هېڅ کارونه ونه کړو.

که چېرې د آخرت ورځ، جنت او دوزخ په صحیح او واقعي ډول درک کړو، نو هېڅ کله به راځخه هېر نشي او د دنیا ژوند به ټول د هغه لپاره قرباني کړو، ترڅو له دوزخ څخه خلاص او جنت تر لاسه کړو.

الله تعالی دې مونږ ته داسې درک او فهم راکړي چې د آخرت او دنیا حیثیت وپېژنو. په دنیا کښې که چېرې دا څو ورځې د الله تعالی د رضا لپاره د هغه په خوښه تېرې کړو، نو په آخرت کښې به بیا مونږ ته همېشه نعمتونه راکړي او د خوشحالۍ ژوند به رانصیب کړي.

## جـــهـاد ته اړتیا

په لومړي سر کښې یو ځل باید د هغه څه په اړه یو څه ولیکم چې اسلامي اُمت ته نجات ورکوي، اسلامي اُمت پورته کوي، هغه څه چې د اسلامي اُمت د بقاء لپاره الله تعالی په دې اُمت فرض کړی دی، هغه څه چې د اسلامي اُمت د برم او ولوړوالي ضمانت کوي، هغه څه چې په اوس وخت کښې پوره اړتیا ده ورته، هغه څه چې په اوس وخت کښې په مسلمانانو کښې ډېر کم خلک ورته تیار دي، هغه څه چې شهادت او د الله تعالی رضا پکښې نغښتې او ترلاسه کیږي؛ که مسلمانان یې ترسره کړي عزت به ترلاسه کړي، هغه څه چې په مسلمانانو کښې به مؤمنین او منافقین سره جلا کوي، هغه څه چې په مسلمانانو کښې به غیرتي او بې غیرته کسان سره جلا کوي، هغه څه

چې ډېر خلک يې آزار وهلي او د هلاکت کندې ته لوېدلي دي. جـهاد درته يادوم! جـهاد!

که په جـهاد باندې شپه او ورځ يو څوک ليکل وکړي بيا هم پرې کم دي، خو زه غواړم دلته په څو جملو کښې وليکم چې څه اړتيا ده چې مونږ جـهاد کوو؟ ضرورت څه دی چې مونږ په ځان هر ډول قرباني، سختۍ او خطرونه اخلو؟ دا ولې جـهاد د اسلام په تاريـخ کښې مسلسل را روان دی؟ مونږ ولې کوښښ کوو چې نورو هېوادونو ته په جـهاد پسې سفر وکړو او هلته جـهاد وکړو؟ ولې مونږ جهاد ته ځوانان هڅوو؟ ولې خپل نسلونه د جهاد او قتال په نظريه روزو؟ جواب به په لاندې څو کرښو کښې بيان کړو.

1. جـهاد ته ځکه اړتيا ده چې د مسلمانانو خاورې خپلواکې شي. ډېرې د مسلمانانو ځمکې له کفارو سره غصب دي او اوس کفار په هغه باندې خپل د عيش او بې حيايۍ ژوند په آرامه تېروي؛ هغه ځمکې له جـهاد څخه پرته په هېڅ طريقه سره نشي ترلاسه کېدای. نو ځکه مونږ د جـهاد نارې وهو چې جـهاد بايد وشي. آيا ستا ضمير دا غواړي چې د مسلمانانو پر ځمکو دې کفار په آرامه خپل حيواني بې حياء ژوند کوي؟ په داسې حال کښې چې له مونږ څخه يې په زور او جبر سره اخيستې دي! که دا ځمکې له جـهاد څخه پرته په کوم بل څه سره آزادېدای شي هغه به څه وي؟
2. جـهاد ته ځکه اړتيا ده چې د مسلمانانو بنديان راخلاص شي، بې شمېره ښځې او نر مو له کفارو سره بنديان دي؛ هر ډول ظلم او زياتۍ ورسره کوي تر دې چې خپل عزت يې هم نه دی ترې خوندي! آيا په مسلمانانو

کښې به داسې څوک وي چې دا ظلمونه وزغمي او وواېي چې پروا نشته څه خبره نه ده؟! دا بنديان خلاصول پرته له جـهاد څخه هېڅ امکان نه لري، نو جـهاد ته په همدې اساس اړتيا ده، بايد چې د اسلامي اُمت هر شخص برخه پکښې واخلي، که نر وي او که ښځه، سپينږيری وي او که ځوان، غلام وي او که آزاد. د بنديانو د خلاصون لپاره جـهاد فرض عين دی، کوم شخص يې چې نه کوي هغه ته مونږ بې غيرته وايو، ځکه چې د يوې ښځې د عزت په خاطر هم په ټولو مسلمانانو جـهاد فرض عين کېږي، دا چې اوس بې شمېره مسلمانې ښځې له کفارو سره بنديانې دي او هر ډول بې عزتي يې کوي، نو ولې به جـهاد ته تر هر وخت زياته اړتيا نه وي؟! او که دا بنديان له جـهاد څخه پرته په بله طريقه سره خلاصېدای شي هغه به څه وي؟!

3. جـهاد ته ځکه اړتيا ده چې په ځوانانو کښې د غيرت احساس را ژوندی شي. هغه ځوانان چې د مرميو شرنګهار ونه ويني، تر غوږونو يې مرمۍ تېرې نشي، لوږې تندې تېرې نه کړي، زخمونو، خطرونو او شهادت ته ځان ورمخته نه کړي؛ د داسې ځوانانو او د ښځو د احساس هېڅ توپير نشته. نو جـهاد ته بيا اړتيا پيدا شوه تر څو په ځوانانو کښې غيرت، استقامت او احساسات را ژوندي کړي؛ د اسلامي اُمت د پرمختګ او کاميابۍ جوګه وګرځي او قتال لپاره خپلې ملې راونغاړي.

4. جـهاد ته ځکه اړتيا ده چې د مسلمانانو څخه آخرت هېر نشي او د دنيا په خواهشاتو کښې غرق نشي. په جـهاد سره آخرت په يادېږي، ځکه هر ساعت دا فکر د سړي سره وي چې شهيد به شم او له آخرت سره

به وصل شم، کله چې دا فکر له شخص سره موجود وي، بیا په دنیا پورې زړه نه تړي، بیا د دنیا خواهشات خوند نه ورکوي، بیا په چوکۍ او قدرت پسې نه ګرځي، بیا په چا ظلم نه کوي او نه هم د دنیا ژوند خوند ورکوي، ځکه چې فکر یې له آخرت سره وصل شوی وي. نو په همدې اساس جـهاد ته اړتیا ده چې مسلمانان د دنیا په خواهشاتو کښې له دین څخه لرې نه شي، آخرت هېر نه کړي، چوکۍ پرستي، خواهشات او قوم پرستي پرې غالبه نشي.

5. جـهاد ته ځکه اړتیا ده چې په اسلامي ټولنه کښې مؤمنان او منافقان سره جلا کړي. د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په وخت کښې به چې کله د جـهاد تشکیل وو او صحابه کرام رضي الله عنهم به د جـهاد لپار روانېدل ډېر به خوشحاله وو او هر یو به تر نورو د مخکې کېدلو هڅه کوله، په همدې وخت کښې به منافقین په ډېر سخت غم او درد کښې وو، بېلابېلې لارې او پلمې به یې لټولې، تر څو له جـهاد څخه پاتې شي. اوس هم په اسلامي ټولنه کښې غیرتي او بې غیرته کسان په جـهاد سره معلومېږي، واقعي مسلمانان په سنګرونو کښې معلومېږي، د میدان اتلان د غزاوو میدان ګرموي. غیرتي کسانو پسې هر وخت سنګرونه او جهادي مرکزونه ګورئ؛ په کمزورو خلکو پسې تل کورونه او بازارونه ګورئ.

6. جـهاد ته ځکه اړتیا ده چې اشغال شوي اسلامي مقدسات آزاد شي. بیت المقدس د یهودو په لاس کښې دی، مسلمانان په پوره خپلواکۍ

سره عبادت  لا نشي پکښې کولای، په اندلس او نورو هېوادنو کښې
چې پخوا اسلامي وو، له بې شمېره مدرسو، کتابتونو او مسجدونو څخه
کليساوې، ګودامونه، سينماوې، ډمخانې او موزيمونه جوړ شوي. آيا
د لومړۍ قبلې (بيت المقدس) آزادول جـهاد ته اړتيا نه لري؟ آيا هغه
د مسلمانانو مسجدونه او مدرسې چې کليساوې، ګودامونه، سينماوې،
ډمخانې او موزيمونه ترې جوړ شوي له جـهاد څخه پرته په بل څه
سره آزادېدای شي؟ آيا دا به د يو مسلمان ضمير ومني چې مسجدونه
او مدرسې دې په داسې حال کښې وي؟! د دې مقدساتو آزادول که له
قربانۍ او جـهاد څخه پرته په بله لاره امکان لري هغه به څه وي؟!

7. جـهاد ته ځکه اړتيا ده چې مسلمانان په عزت کښې شي او د الله تعالی
دين لوړ شي. د الله تعالی دين د دې لپاره دی چې په ټوله نړۍ کښې
خپور شي او تر هر چا پورې ورسي، تر دې چې هر څوک غاړه ورته
کېږدي او يا احترام ورته وکړي، نو آيا که له کفارو سره مونږ جـهاد ونه
کړو، په جـهاد سره يې ذليله نه کړو؛ زمونږ دين ته به غاړه کېږدي؟ آيا
زمونږ د دين عزت به وکړي؟ آيا د قرآن بې حرمتي به پرېږدي؟ خبر دار
مسلمانانو! که غواړئ چې دين مو لوړ شي، بيا له جـهاد څخه پرته بله
لاره نشته، ځکه چې الله تعالی د دين د لوړوالي لپاره په جـهاد باندې
امر کړی دی **وَقَٰتِلُوهُمۡ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتۡنَةٞ وَيَكُونَ ٱلدِّينُ كُلُّهُۥ لِلَّهِۚ** (سُوْرَةُ الأَنفَال: ٣٩) **ژباړه: او اې مؤمنانو! له دې کافرانو سره تر هغه پورې وجنګېږئ
چې فتنه پاتې نه شي او ټول دين د الله تعالی لپاره شي.** مسلمانان به تر
هغه عزت پيدا نه کړي، ترڅو يې چې د جـهاد دنده په پوره مېړانه نه

وي ترسره کړې او دا تاریخ ثابته کړې ده، د اسلام په تاریخ کښې تاسې وګورئ، کوم قوم چې د جـهاد دنده پرېښوؤدلې، له هغې ورځې څخه خوار شوی، ذلیل شوی او د کفارو بې رحمه منګلو ته لوېدلی دی.

8. جـهاد ته ځکه اړتیا ده چې د ځمکې له مخ څخه ظلم او فتنه ختمه شي. په نړۍ کښې د مسلمانانو ځای ورک شوی، په هېڅ ځای کښې یې کفار د خپلې عقیدې او دین سره په آرامه نه پرېږدي، په هره طریقه چې وي له خپل دین څخه یې باسي، یا یې دې ته اړ کوي چې دین پرېږدي او د دوی غلامۍ ته غاړه کېږدي. که چېرې مسلمانان بیا هم په خپل دین عمل کوي، بیا نو هر ډول ظلم او وحشت ورسره کوي، وژني یې، بندیانوي یې او بې عزته کوي یې. په ټوله نړۍ کښې د کفر فتنه په زور او ځواک کښې ده، نو آیا له دې فتنې او ظلم څخه د خلاصون بله کومه لاره شته له جـهاد پرته؟ نو په داسې حال کښې چې مسلمانان جـهاد نه کوي بیا د کوم څه انتظار کوي؟!

9. جـهاد ته ځکه اړتیا ده چې کفار جزیه راکړي، ذلیله او خوار شي. په نړۍ کښې اوس کفار په قدرت کښې دي او په هر څه کښې د دوی اختیار چلېږي، بې غیرته مسلمانان یې غلامي او بوټ پاکي کوي؛ په زیاتو اسلامي هېوادونو یې راج او قانون چلېږي. الله تعالی فرمایي چې له کفارو سره جـهاد وکړئ تر دې چې جزیه ورکړي په داسې حال کښې چې دوی ذلیله وي. نو اوس خو کفار زورور دي څنګه به جزیه راکړي؟ څنګه به ذلیل شي؟ د دې کار لپاره الله تعالی خپله وایي چې تاسې جـهاد ورسره وکړئ، نو اوس د کفارو ذلیله کول په کار دي او د دې لپاره پرته

له جـهاد بل هېڅ شی هم کار نه کوي، نو مسلمانانو ته په کار ده، چې له کمزورۍ او ذلیل حالت څخه ځان راوباسي، جـهاد وکړي او که یې نه کوي پرته له بې غیرته مونږ بل څه نشو ورته ویلای!

10. جـهاد ته ځکه اړتیا ده چې د دین رسولو او خپرولو لپار لاره هواره شي. هغه کفار چې د اسلام حقانیت نه دی ورته رسېدلی، د اسلام په اهمیت او ارزښت نه دي خبر، د کفري ظالمو حکومتونو تر شا اوس هم په ګمراهۍ کښې ژوند کوي، د اسلام اصلیت نه دی ورته معلوم؛ نو مونږ ته په کار ده چې هغه خلک هم وژغورو، تر څو د اسلام په سپېڅلي او عادل دین مشرف شي او د جنت مستحقین وګرځي. نو د دې کار مخنیوی دا ظالم کافران کوي او مونږ نه پرېږدي چې د خپل دین دعوت په کفري ټولنه کښې خلکو ته ورکړو؛ د دې کار لپاره پرته له جـهاد بله لار نشته، لومړی به په جـهاد سره د کفارو زور او قوّت له منځه وړو وروسته به خپل دعوت په کفري ټولنه کښې کوو، تر څو د اسلام کلیمه لوړه شي او تر هر ځای پورې ورسېږي، خلک پرې مشرف او عزتمند شي.

11. بالاخره جـهاد ته ځکه اړتیا ده چې د جنت حورې د شهیدانو په انتظار دي. الله تعالی شهیدانو ته ډېر لوی نعمتونه ورکوي، په قرآن کریم او احادیثو مبارکو کښې د شهیدانو لپاره ډېر فضیلتونه بیان شوي، نو چې جـهاد نه وي دا فضیلتونه به څوک ترلاسه کوي؟ هغه په جنت کښې چې حورې په خپلو مجاهدو خاوندانو فخر کوي او

شهادت ته يې انتظار کوي نو د دې حورو انتظار به تر څه وخته وي؟ داسې خو به نه وي چې دا انتظار يې د بلې زمانې خلکو ته وي؟ نو ځکه مونږ ته په کار ده چې جـهاد وکړو او شهيدان شو، تر څو مو هغه د حورو انتظار پای ته ورسيږي او د خپلو ښايسته او مستانه حورو غېږې ته زر ځان ورسوو.

## ليکوالانو او مبارزينو ته وايم

اې ليکوالانو او مبارزينو ورونو! د خپلې ليکوالۍ او قلم حق پوره ادا کړئ، خپل قلم د حق په ليکلو ستړی کړئ، حق روښانه کړئ، ټولنې ته د جـهاد، قربانۍ او غيرت په روحيه د روزنې نوې کرښې وکاږئ، د غيرت انګېزې خپرې کړئ. ليکل کول وړه خبره نه ده، ليکوال چې خپل قلم سم او له حق سره موازي وڅرخوي، ډېر څه کولای شي، فکرونه بدلولای شي، ارادې قوي کولای شي، د غيرت انګېزې خپرولای شي. اې ليکوالانو او مبارزينو! باطل پرسته، شهوت پرسته او دنيا پرسته نړۍ رسوا کړئ، ټولنه د علم او پوهې په څراغ روښانه کړئ، د ځوانانو احساسات په ايماني او جـهادي ولولو راوپاروئ، د کفارو له وحشي ظلمونو څخه پرده پورته کړئ. په غرب کښې د انساني ژوند طريقه او اسلوب واضيح کړی، دوی خو د حيواناتو په شکل ژوند کوي، هره ورځ يې شمېره کسان ځان وژنه کوي، زنا او لواطت عام دي. کفار د دې هڅه کوي تر څو په ټوله نړۍ کښې د خپلې ټولنې ژوند او فرهنګ لوړ معرفي کړي، ټول انسانيت ورته را دعوت کوي او خپل فرهنګ غواړي په ټوله نړۍ (اسلامي او کفري) کښې خپور کړي. تاسې

کوښښ وکړئ چې د دوی ټولنیز او کورنی ژوند مطالعه کړئ، له هغه څخه وروسته یې خپلو مسلمانانو ورونو ته په تقریري او تحریري ډول تشریح کړئ، چې دوی څنګه ژوند کوي؟ انسانیت ته څنګه حقوق ورکوي؟ دا د هر لیکوال دنده او مسئولیت دی چې خپله ټولنه له غربي فکر او د هغه له دامونو څخه وساتي. غربیانو چې خپل فرهنګ ته په اسلامي ټولنه کښې کومه بڼه ورکړې ده په اصل کې له هغه سره سل فیصده توپیر لري؛ باید هېڅوک پرې ونه غولېږي. مونږ هغه وخت کولای شو چې خپله ټولنه له غربي تقلید څخه وساتو، چې زمونږ مبارزین او لیکوالان په اصلي بڼه غربي ټولنه وپېژني، د هغې اصلي بڼه په مناسب ډول تشریح کړي او په معقول ډول یې بدوالی او ابطال بیان کړي؛ خپل اسلامي ارزښتونه وپېژني او له هغه څخه د دفاع روحیه پکښې را ژوندۍ شي.

## دښــمن مو څـــاري

اې د اسلام زمریه! دښمن مو ټول وخت له مورچل څخه څاري؛ نو هېڅ کله باید ورڅخه بې خبره او غافله پاتې نه شو. هره لحظه مونږ باید په دې فکر کښې شو چې څنګه خپل دښمن له ماتې سره مخ کړو او د هغه له هر ډول چل او فریب څخه ځانونه وساتو، دښمن باید صرف د دښمن په نوم ونه پېژنو، بلکې له هغه څخه باید په هر وخت کښې نفرت ولرو او په دې فکر کښې شو چې څنګه د تېرو ظلمونو انتقام ورڅخه واخلو. دښمن هېڅ کله ستا سره دښمني پای ته نه رسوي؛ ځکه چې زمونږ او د دوی ترمنځ دښمني د عقیدې او اسلام په اساس ده. تر څو پورې چې په خپل اسلام او

عقیده ولاړ یو، د دوی دښمني به راسره روانه وي؛ ځکه چې الله تعالی فرمايي: **وَلَن تَرْضَىٰ عَنكَ الْيَهُودُ وَلَا النَّصَارَىٰ حَتَّىٰ تَتَّبِعَ مِلَّتَهُمْ** (سُوْرَةُ البَقَرَة: ۱۲۰)

**ژباړه: یهودیان او عیسویان به هېڅکله له تا څخه خوشحاله (راضي) نشي، تر څو ته د هغوی په لاره (دین) لاړ نشې.**

نو له دې آیت شریف څخه معلومېږي چې له مسلمانانو سره د کفارو (یهودو او نصاراؤ) دښمني حتمي او همېشنۍ ده. په دې دښمنۍ کښې مهمه خبره دا ده چې زمونږ مرسته کوونکی الله تعالی دی، تر څو پورې چې مونږ د الله تعالی سره خپل تعلق ساتلی وي، تر هغه به الله تعالی زمونږ سره مرسته او نصرت کوي او کله چې الله تعالی مرسته راسره وکړي، بیا د هیچا مرستې ته اړتیا نشته **إِن يَنصُرْكُمُ اللَّهُ فَلَا غَالِبَ لَكُمْ** (سُوْرَةُ آل عِمرَان: ۱۶۰) **ژباړه: که الله تعالی مو مرستندوی وي، نو هېڅ قوّت درباندې غالب کېدای نشي.**

دا چې الله تعالی مونږ ته وايي: چې زما مرسته درسره وي هېڅوک به درباندې غالب نشي، نو مونږ ته په کار ده چې د کفارو څخه په هېڅ وخت کښې وېره ونه کړو او نه هم د کفارو د اسبابو تر تاثیر لاندې راشو؛ ځکه چې زمونږ سره د آسمانونو او ځمکې مالک (جل جلاله) همکاري کوي.

## دښــمن مو پرمختګ نه غواړي

اې د اسلامي اُمت ځوانه! دښمن مو هېڅ کله نه غواړي چې مونږ پرمختګ وکړو؛ نو ځکه مونږ باید هره لحظه د پرمختګ په فکر کښې شو. په دې کښې هېڅ شک نشته چې زمونږ د پرمختګ یوازنی سبب تقوا او په دین عمل کول دي؛ خو د قرآن کریم د دې آیت **وَأَعِدُّوا لَهُم مَّا اسْتَطَعْتُم مِّن**

قُوَّةٍ... (سُوْرَةُ الاَنفَال: ۶۰) په اساس باید د دښمن په مقابل کښې هر ډول تیاری (معسکر او اعدا) وکړو لکه: جسمي روزنه، فکري روزنه چې د دې کتاب موضوع ده، علم او پوهه ترلاسه کول، اقتصاد جوړول، په خپل منځ کښې د اتحاد او یو والي کوښښ کول، بې علمي او ناپوهي له منځه وړل او صنعت ته پر مختګ ورکول؛ دا ټول کارونه او هغه څه دي چې په هېڅ ډول کفارو (دښمنانو) ته د زغملو وړ نه دي او په هر ډول کوښښ کوي، چې زمونږ د دې کارونو مخه ونیسي؛ خو مونږ باید هېڅ کله له دې کارونو څخه ستړي نه شو او خپل کم عمر د اسلام او دین په خدمت کښې د یو خادم په ډول په ډېر اخلاص سره تېر کړو، ترڅو راتلونکو نسلونو ته د تاریخ داسې زرینې کرښې پاتې شي چې هغه یې په تعقیب سره د اسلام سپیڅلې لاره ورکه نه کړي او مستقیم په مونږ پسې راروان وي.

## دښمن مو اتحاد او یو والی نه غواړي

مجاهده وروره! دښمن مو کوښښ کوي ترڅو مو په خپل منځ کښې د نفاق او دښمنۍ په اور کباب کړي؛ خو مونږ باید هېڅ کله د جګړې، اختلاف او انتقاد هدف مؤمنان ونه ګرځوو او همېشه باید په خپل منځ کښې د محبت او وحدت ژوند وکړو. تاسې تاریخ وګورئ! پخواني اسلامي حکومتونه چې له منځه تللي او کفار ورباندې مسلط شوي، اصل علت به یې په خپل منځ کښې د مسلمانانو نفاق او دښمني ستاسې تر نظره درشي. کفار همېشه دا کوښښ کوي، تر څو مسلمانان په خپل منځ کښې سره بې اتفاقه او وجنګوي؛ ترڅو هغه هدف چې دوی یې غواړي په داسې ډول ترلاسه کړي

چې دوي ته يې هېڅ زيان نه وي اوښتی. په خپل منځ کښې د مسلمانانو د بې اتفاقۍ او دښمنۍ ډېر لوی زيان دا دی چې دواړه اړخه مسلمانان کمزوري کيږي او دښمن په مکمل ډول په امن کښې خپل پر مختګ کولای شي. هېڅ کله دښمن له هغه قوم څخه وېره نه لري کوم قوم چې په خپل منځ کښې اتحاد او يو والی ونه لري؛ الله تعالی فرمايي: وَلَا تَنَٰزَعُوا فَتَفْشَلُوا وَتَذْهَبَ رِيحُكُمْ (سُوۡرَةُ الاۡنفَال: ۴۶) ژباړه: او په خپلو منځونو کښې شخړه (جنجال) مه کوئ؛ که نه نو په تاسې کښې به کمزوري پيدا شي او برم (د مقاومت توان) به مو لاړ شي. نو ځکه بايد هر مجاهد له خپل منځي شخړو، اختلافاتو او ظلمونو څخه ځان وساتي؛ او خپل اصلي دښمن (کافر) ته بايد متوجې شي، چې په مقابل کښې يې هر ډول مبارزه او جنګ بهترين عبادت (جـهاد) بلل کيږي او د هغه له خوا څخه وژل کېدل بهترين مرګ (شهادت) بلل کيږي. د بلاط شهداء په جنګ کښې د مسلمانو د ماتې سبب خپل منځي اختلافات وو، چې د قوم په اساس بربريانو او عربو يو له بل سره اختلافات کول او هر يو يې کوښښ کولو چې خپل ځان ته بهتروالی او مقدموالی ثابت کړي، د الله تعالی دا قَول يې له فکر څخه ايستل وو، چې فرمايي: إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللهِ أَتْقَكُمْ... (سورة الحجراة: ١٣) ژباړه: د الله جل جلاله پر وړاندې په تاسې کښې عزتمند هغه څوک دي چې په تاسې کښې تر ټولو زيات تقواداره وي. نو بيا د قوم، ژبې، سمت او وطن د فضيلت کوم حيثيت پاتې شو؟ که عرب وي که عجم، چې تقوا ولري هغه الله تعالی ته نيږدې دي؛ همدارنګه که عرب وي که عجم چې تقوا ونه لري او يا مسلمان نه وي، الله تعالی ته هېڅ نيږدېوالی نه لري او نه هم د الله تعالی په وړاندې بهتره دی.

## د قومیت او تعصب ناره نفرتونه زیږوي

کله چې په مسلمانانو کښې د قومیت او وطن پرستۍ نارې پېل شي؛ خپل منځي دوښمنۍ، نفرتونه او حسدونه په ټولنه کښې عام شي؛ ټولنه د یو هلاکوونکي سیند ته په خوله کښې ورشي او له یو مخه یې یوسي. تاریخ شاهد دی زیاتره د مسلمانانو ترمنځ جنګونه چې زیات تلفات یې لیدلي او د پرمختګ مخه یې نیولې وه، د قومیت او تعصب څخه یې سرچینه اخیستې، په ټولنه کښې د قومیت په اساس شعارونه او دښمنۍ رامنځ ته شوي، څکه مسلمانان هلاک شوي. په اموي خلافت کښې عربو د قومیت ناره پورته کړه او فضیلت یې د عربیت په اساس خپل ځان ته منصوبه کولو، تر دې اندازې قومیت ورسېدو چې عرب به د عجم تر شاه په لمانځه کښې ولاړ وو، وروسته به یې ووېل چې دا مې د الله تعالی لپاره عاجزي وکړه؛ ځکه چې په لمانځه کښې د عجمي تر شاه ولاړ وم؛ هغه وو چې عجم یې په مقابل کښې راپورته شول او د عباسیانو سره یو ځای یې د امویانو په خلاف سازشونه او پلانونه پېل کړل؛ تر دې چې اموي خلافت له منځه لاړو او په ځای یې عباسي خلافت رامنځ ته شو. تاریخ لیکونکي زیاتره په دې نظر دي چې د اموي خلافت د سقوط یوازنی لامل قومیت او تعصب وو. د عثماني خلافت د نړېدو یو لامل هم قوم پرستي وه چې عربو نه غوښتل په دوی باندې عجمي خلافت حاکم وي، هغه وو چې عربي لیکوالانو او علماؤ به په عثماني خلافت پسې تبلیغات کول او د هغه په مقابل کښې یې کتابونه جوړول؛ د عثماني خلافت حاکمیت یې ټولنې ته داسې معرفي کولو لکه

انګرېزي استعمار. قومي اختلافات او جنګونه د دنيا او آخرت بربادي ده په دنيا کښې به مسلمانان د خپل منځي اختلافاتو په اساس کمزوري شي او د دښمن منګلو ته به ولوېږي او په آخرت کښې به الله تعالی د دې ګناه سزا ورکړي. رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمايلي: لَيسَ مِنّا مَن دَعا إلى عَصَبِيَّةٍ، ولَيسَ مِنّا مَن قاتَلَ عَلى عَصَبِيَّةٍ، ولَيسَ مِنّا مَن ماتَ عَلى عَصَبِيَّةٍ (سنن ابي داؤد) ژباړه: رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمايلي: زمونږ څخه نه دی هغه څوک چې دعوت کوي (خلک رابلي او ترغيبوي) قوم پالنې ته، زمونږ څخه نه دی هغه څوک چې په قوم پالنه کښې جنګېږي او له مونږ څخه نه دی هغه څوک چې مړ شي په قوم پالنه کې. هېڅ کله مسلمانانو ته نه ده په کار چې په خپل منځ کښې د قوم، وطن او ژبې په اساس خلک دعوت کړي، نارې او شعارونه پورته کړي. مسلمانان به صرف د ايمان او اسلام په واسطه سره پېژني، مينه، همکاري او تعلق به يې هم د دين په اساس وي. په ټولنه کښې بايد هغه علماؤ، ليکوالانو، شاعرانو او نورو داسې کسانو ته وخت ورنکړل شي، بلکې په پوره اندازه يې مخه ونيول شي چې قوم پرستۍ، لسان پالنې او وطن پالنې ته لمن وهي. په اوس وخت کښې مونږ ځينې شاعران او ترانه ويونکي وينو چې د قوم پرستۍ په اساس ستاينې کوي، او خپل د شهرت بازار يې ګرم کړی؛ د داسې شاعرانو بايد په کلکه مخنيوی وشي، ځکه چې داسې شاعران د ټولنې لپاره هېڅ په خير نه دي، د شر او نفرت توخم په ټولنه کښې شيندي. رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمايلي: دعوها فانها منتنة (رواه البخاري ومسلم) د قوميت له نارې څخه ځانونه وساتئ، دا ناره يوه بد بويه ناره ده. نو په دې کې هېڅ شک نشته چې د ځينې

شاعرانو له خولې څخه په نن وخت کې همدا بد بوې خپرېږي او ټول وخت د يو خاص قوم، او وطن په اساس شعرونه زمزمه کوي؛ د دې لوی زيان دا دی چې هر څوک بيا کوښښ کوي، د هغه چا ستاينه وکړي چې د خپل قوم او وطن يې وي؛ په دې ستاينه کې بيا شک نشته چې له زيات افراط او تفريط څخه کار اخلي؛ خلک هڅوي دې ته چې حسد وکړي او د يو بل په مقابل کې ودرېږي.

## مسلمانان ټول د يو بدن مثال لري

د اسلامي اُمت هر وګړی بايد په دې پوه وي چې په هر ځای کښې د مسلمانانو پرمختګ د ټول اسلامي اُمت پرمختګ دی، نو هېڅ کله بايد په خپل منځ کښې يې ځايه رقابت او حسد ونه کړي؛ يو له بل سره همکاري وکړي او د ټول اُمت په اساس د خير او مرستې فکر بايد ورسره وي. د دين او اسلام تقاضا دا ده چې د نړۍ په هره برخه کښې په يو مسلمان باندې ظلم او تېری کېږي، بايد هر مسلمان چې د دنيا په هره برخه کښې وي ورباندې وردردېږي او د مرستې کولو هڅه يې وکړي.

کفارو په ټوله نړۍ کښې په مسلمانانو مستقيم او غير مستقيم ظلمونه او وحشتونه روان کړي دي، خو مسلمانان ويده دي او هېڅ فکر نه کوي چې د دې ظلمونو په اړه سخت مسئوليت لري او الله تعالی به په پوره اندازه پوښتنه ورڅخه کوي. الله تعالی فرمايي: **إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ** (سورة الحجرات) **ژباړه: يې شکه مسلمانان يو له بل سره ورونه دي.** دا چې مسلمانانو ته الله تعالی ورونه ويلي دي هغه چې په هر ځای کښې ژوند کوي؛ بيا چې هر څوک د

ملک قوم او سرحد نظریه رامنځ ته کوي، د ملکونو او قومونو په اساس خبره کوي، دا بلکل غلطه ده. بل ځای الله تعالی فرمايي: إِنَّ هَذِهِ أُمَّتُكُمْ أُمَّةً وَاحِدَةً (سورة الأنبياء) ژباړه: بې شکه دغه ستاسې اُمت دا یو واحد اُمت (ډله) ده.

دا چې الله تعالی دې اُمت ته یوه واحده ډله ویلې؛ بیا باید په هر قیمت چې وي د سرحداتو لومې له منځ څخه یوړل شي، د اُمت د یو کېدلو هڅې وشي، د جـهاد او قرباني لمن پراخه شي. تاسې وګورئ کفارو دا سرحدات یوازې د مسلمانانو د تقسیم لپاره رامنځ ته کړي دي؛ کفار په ټوله اروپا کښې پرته له کوم پاسپورټ داسې ګرځي لکه د پلار په کور کې، خو زمونږ لپاره یو همسایه ملک ته داخلېدل او تلل په شپو شپو کار غواړي، چې پرته له پاسپورټ هېڅ امکان هم نه لري.

رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمایلي: مَثَلُ المُؤمِنينَ في تَوادِّهِمْ وَتَعاطُفِهِمْ وَتَراحُمِهِمْ مَثَلُ الجَسدِ؛ إذا اشتكى مِنهُ عُضوٌ تَداعى سائرُ الجَسَدِ بالسَّهَرِ والحُمّى (متفق علیه) ژباړه: په شفقت، مینې او خواخوږۍ کښې د مؤمنانو مثال داسې دی لکه د یو بدن غړي؛ که یو غړی شکایت وکړي، د بدن پاتې برخه یې په بې خوبۍ او تبې سره د بدن نور غړي د ګډون لپاره رابلي. په دې حدیث شریف کښې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) مسلمانانو ته داسې لارښوونه کوي چې مسلمانان باید یو د بل په درد او غم کښې سره شریکان وي هغه که په هر ځای کښې وي. هېڅوک نشي کولای چې د نړۍ په هر ځای کښې مسلمان وي د بدن د شریکوالي څخه یې وباسي. په دین کښې د ملک، قوم، ژبې، سرحد او سمت هېڅ حیثیت نشته؛ اړیکه به یوازې د ایمان په اساس وي او دا اړیکه د چا په اختیار کښې نه ده؛ که څوک ایمان

لري مسلمانان به یو بدن او یو وجود ګڼي. د مسلمانانو تر منځ محبت باید د قربانۍ په حد کښې وي؛ چې د ګټې په ځای کښې خپل ورور مخکې کوي او د زیان په ځای کښې خپله مخته کیږي؛ دا بیا د مؤمنانو تر منځ د محبت آخري حد دی، چې یو له بله سره یې باید وکړي.

بل ځای رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمایي: المؤمن للمؤمن کالبنیان یشد بعضه بعضا، ثم شبك بین أصابعه (رواه البخاري ومسلم) ژباړه: یو مؤمن د بل مؤمن لپاره د یوې مظبوطې ودانۍ (دېوال) حیثیت لري، چې ځینې برخې یې ځینې نورو ته مظبوطوالی (کلکوالی) ورکوي؛ بیا رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د مثال لپار د لاسونو ګوتې یو په بل کښې دننه کړې. کله چې د ودانۍ او دېوال ځینې برخې زیانمنې وي، نو داسې ودانۍ بیا د طوفانونو او کړاوونو په مقابل کښې استقامت نشي کولای؛ همدا مثال د اسلامي اُمت دی چې کله ټوټې شوی او په برخو تقیسم شوی وي او یو له بل سره اړیکه ونه لري؛ له شک پرته خپل کلکوالی له لاسه ورکوي او د هر ظالم تر ظلم به لاندې وي. بل ځای رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمایلي: المسلمون کرجل واحد ان اشتکی عینُه اشتکی کُلُّه وان اشتکی رأسُه اشتکی کُلُّه (مسلم) ژباړه: مسلمانان داسې دي لکه یو شخص، که چېرې یې په سترګه درد وي، ټول بدن ورسره په درد وي او که په سر یې درد وي ټول بدن ورسره په درد وي.

په همدې اساس د ټول اسلامي اُمت مسلمانان چې د نړۍ په هر ځای کښې ژوند کوي، د نور اسلامي اُمت د بدن یوه برخه بلل کیږي، کله چې په هغه درد راشي باید ټول اُمت ورسره په درد شي. دا درد لازمي دی، خوک په دې کښې اختیار نه لري؛ ځکه چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) مؤمنان د

یو بدن او یو شخص په مثال بیانوي. داسې هېڅ عقل نه مني چې په پښو درد وي سر بې غمه وي، یا په سر درد وي پښې خوشحاله وي، نو دا بیا څنګه عقل ومني چې په فلسطین، او نوره مظلومه اسلامي نړۍ کښې مسلمانان په سرو اورونو کښې سوزي او مونږ بې غمه او بې درده وو؛ هېڅ د همکارۍ او درد احساس نه لرو؟

مسلمانان باید د ایمان په اساس یو له بل سره تړلي وي؛ یو د بل مرسته او همکاري باید خپله وجیبه وګڼي. په همدې ډول مسلمانان باید یو د بل په پرمختګ خوشحاله شي؛ یو له بل سره باید په هر ځای او هر ډول مرسته وکړي؛ په ناکامۍ یې خفه شي، مسلمانان باید همېشه له کفارو سره دښمني او رقابت وکړي او په هر څه کښې له هغه څخه مخته شي. مجاهد باید ټول وخت په دې فکر کښې وي چې څنګه پر کفارو غلبه ترلاسه کړي او هغوی ته یو ځل بیا د عمر، خالد بن ولید، سعد ابن ابي وقاص، اوبو عبیده بن جراح رضي الله عنهم، موسی بن نصیر ، طارق بن زیاد، صلاح الدین ایوبي، محمد بن قاسم، محمد الفاتح رحمهم الله او داسې نورو د اسلام سالارانو او مجاهدینو تاریخ ور په یاد کړي.

## د مـــاديــت رنـځ او ناروغــي

مسلمانانو هغه وخت خپل قیادتونه له لاسه ورکړي؛ کله یې چې په مادیت باندې تکیه کړې ده، د هغه لپاره یې هڅې کړې دي، معنویت ته یې ترجیح نه ده ورکړې، خپل اعمال یې نه دي صالح کړي او د تقوا روښانه ډېوې یې مړاوې شوې دي. کله چې په مسلمانانو کښې د تقوا څیراغونه

مړاوي شي؛ ایمانونه کمزوري شي، نفسي خواهشات زیات شي؛ نو بیا د الله تعالی د مرستې او نصرت هیله نه کیږي، داسې خلک به خامخا له ذلالت سره مخ کیږي. د مادیت په نښه مست ځوانان هېڅ کله د سنګر او قربانۍ لاره نشي نیولای. د دنیا له خواهشاتو سره دومره محبت کول چې د آخرت ژوند ورڅخه هېر کړي او یا هم د آخرت د جوړولو هڅې په یو شخص کښې کمزورې کړي، دې ته مادیت وایي. کله چې د خواهشاتو محبت دې اندازې ته ورسیږي چې له شخص څخه آخرت هېر کړي، بیا نو غیرت هم کمزوری کوي چې غیرت د جـهاد، مېړانې او قربانۍ لپاره مرکزي حیثیت لري. تر څو پورې چې مونږ د مادیت نړۍ ته شاه نه کړو تر هغې د قربانۍ لاره خپلول راته ګران کار دی. مسلمانان چې له هلاکت سره مخ کوي هغه همدا خواهشات، او مادیات دي چې انسان خپل ځان ته نیږدې کوي او په زړه کښې یې وېره پیدا کوي. په اسلامي نړۍ کښې مادیت او دنیا خوښونه دومره حد ته ورسېده چې زیاتره مسلمانان د اسلام او دین له ټولو پولو ورته تېر شول، د شیطان، کفر او غربیانو لاره یې ونیوله؛ چې د مسلمانانو لپاره تر دې لوی هلاکت نشته. ډېره هوسایي او خواهشات هغه څه وي چې اشخاص له دنیا سره آشنا کوي او د آخرت څخه یې غافله کوي. د دنیا له خواحشاتو څخه ځان ساتونکي اشخاص به تل د الله تعالی په دین د قربانۍ لپاره تیار وي؛ ځکه چې خواحشات ترک شي، خامخا د آخرت فکر پیدا کیږي، چې د آخرت د فکر په اساس بیا د قربانۍ او جهاد میدان ته په ډېر شوق او مینه سره داخلیږي.

## جــهـادي فکر هم اصلاح کوونکی دی

مسئولینو ورونړو ته وایو چې هېڅ کله به هغه مسئول ل له خپل قدرت څخه غلطه ګټه پورته نه کړي، کوم چې په نورو ملکونو کښې د جـهاد کولو په فکر کښې وي. هغه مسئولین چې غواړي له کفارو سره تر آخره جـهاد ته دوام ورکړي؛ نو خپل مسئولیت په ښه ډول ترسره کوي، ځکه هغه د پرمختګ په فکر کښې دي او په دې ډول هېڅ پرمختګ نشي کولای چې هغه له خپل قدرت څخه نامناسبه او غلطه ګټه پورته کړي. خپل مسئولیت که لوی وي او که کوچنی باید په پوره اخلاص ترسره شي او داسې فکر ونه شي چې نور به د جـهاد میدان ته داخل نشو. هغه اشخاص چې په نورو ملکونو کښې له جـهاد څخه غافله شوي تاسې فکر ورته وکړئ خامخا په دنده کښې غفلت کوي او هم خیانت کوي، په هغه ډول یې نه ترسره کوي څنګه چې ښایي او څنګه چې الله تعالی امر کړی. نو په همدې اساس د جـهاد فکر خپله اصلاح کوونکی دی، څوک چې د جـهاد کولو فکر کوي هغه بیا په موجوده نظام کښې خیانت او غفلت نه کوي، هغه بیا له چا سره ظلم او زیاتی نه کوي، ځکه د جـهاد تقاضا دا نه ده او دا کارونه د جـهاد له اهدافو څخه نه دي، چې په خپله دنده کې غفلت وشي، د خلکو حقوق وخوړل شي، له بت المال سره خیانت وشي او د خپلو شخصي ګټو لپاره وکارول شي، هغه څوک چې خپل ځان ته مجاهد وایي او غواړي چې جـهاد وکړي، هغه بیا دا کارونه نه خوښوي او نه هم د دنیا په خواهشاتو کښې بوخت کیږي.

# د دين په لار کې ستونزې تېرول نبوي سنت دي

**د دعوت او جـهاد لار خامخا تکليفونه او ستونزې لري؛ خو مونږ بايد پوه شو نبي کريم (صلی الله عليه وسلم) څومره تکليفونه تېر کړي دي؟**

له ماشومتوب څخه تر بعثت پورې له ډېرو غمونو سره مخ شو: نړۍ ته يې په داسې حال کښې سترګې وغړولې چې يتيم وو او پلار (عبد الله) يې مخکې له تولد څخه وفات شوی وو، د ژوند لومړي څلور کلونه يې د بي بي حليمې سره د خپلو نورو قريبانو څخه جلا تېر کړل، په شپږ کلنۍ کښې يې د خپلې مور سره د مدينې منورې په لور سفر وکړو، د لارې په اوږدو کښې د مور مبارکې له سيورې څخه هم محروم شو او وفات شوه؛ بيا يې وروسته د مور له وفات څخه کفالت نيکه عبدالمطلب په غاړه واخيستو، کله چې آته کلن شو خپل نيکه (عبدالمطلب) يې هم له لاسه ورکړو، له هغه څخه وروسته يې کفالت خپل تره ابو طالب کولو، دا چې د ابو طالب هم اولاد زيات وو او غريب هم وو، نو نبي کريم (صلی الله عليه وسلم) هم اړ وو، تر څو يو څه ګټه راوړي او مزدوري وکړي، په ماشومتوب کښې يې مزدوري پيل کړه بيا يې تقريباً تر څلوېښت کلنۍ پورې همداسې ژوند وکړو. وروسته د الله جل جلاله له لوري وحيې نازلې شوې او د پيغمبر په حيث د لار ورکو د هدايت لپاره وټاکل شو. له بعثت څخه وروسته د مکې مشرکينو ډېر وځورولو او ډېر ببلابېل تکليفونه يې ورکړل. په لومړيو ورځو کښې مشرکينو کوښښ کولو تر څو په هغه يوه مسخره جوړه کړي او هغه ته د دروغو نسبت وکړي. د مکې مشرکينو به ويل چې دا لېونی او جادوګر دی. رسول الله (صلی

الله علیه وسلم) له خپل دعوت څخه لاس په سر نشو او خپل دعوت به يې کولو، تر دې چې مشرکين يې په مقابل کښې په عملي ډول راولاړ شول او رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ته به يې بېلابېل تکليفونه ورکول، په لاره کښې به يې اغزي ورته اچول، په ډېرو به يې ويشتلو، په بدن به يې مرداري ور اچوله، شکنځل به يې ورته کول، د ده سره ملګري مسلمانان به يې وهل، د مکې مشرکين تر دې اندازې ورسېدل چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) قتل (شهيد) کړي، تر دې چې الله تعالی د هجرت امر ورته وکړو، په ډېرو سختتو شرايطو کښې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) له خپل وطن مکې څخه د مدينې په لور هجرت پيل کړو او مکه يې هغه شريرو مشرکينو ته پرېښوده. په مدينه منوره کښې په لومړيو ورځو کښې صحابه کرام ډېر کمزوري وو، خو بيا هم د دوی تر منځ ايماني محبت ډېر قوي وو، يو له بل سره په پوره اندازه همکار وو، ټول داسې وو لکه يو بدن او يا د يو کور خلک. په مدني دوره کښې الله تعالی د جـهاد امر وکړو، بيا رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په تش لاس باندې جـهاد پيل کړو، هر خوا ته به يې صحابه کرام استول او خپله به هم د جـهاد او دعوت په کارونو کښې بوخت وو، په دې لاره کښې د ډېرو سختيو سره مخ شو، لوږې، تندې يې تېرې کړې، د احزاب په غزا کښې دومر لوږه پرې راغله چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) او ورسره صحابه کرامو په خپلو نسونو پورې ډبرې تړلې وې. همدا رنګه څو ځله يې د څنګ ملګري صحابه کرام په ډلو ډلو شهيدان شوي دي. د احد په غزا کې يې غاښ شهيد شو او ډېر سخت زخمي شو. په همدې سختيو او د جـهاد په ګردونو کښې يې خپل ژوند پای ته ورسولو او له خپل

رب (جل جلاله) سره يې کړې وعده رېښتینې کړه. زمونږ پيغمبر (صلی الله علیه وسلم) د ژوند له پيل څخه بيا تر پايه پورې ټول ژوند په سختيو کښې تېر کړی دی. همدا سختۍ تېرول نبوي سنت دي؛ بايد چې دا سنت په مېړانه سره وپالو او ترسره يې کړو. د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د ژوند تر پايه پښې او بدن د جـهاد په ګردو خړ وو، اوس خو چې عمر يې تر ځلوېښتو کالو پورته شي جـهاد هېڅ خپل مسئوليت نه ګڼي، داسې کسان به بيا له رسول الله (صلی الله علیه وسلم) سره د محشر په ورځ څنګه مخ کيږي؟ آيا دوی تر رسول الله (صلی الله علیه وسلم) امتياز والا دي چې هغه ټول عمر په جـهاد کښې تېر کړو او دوی خپل آخر عمر د دنيا په خواهشاتو کښې تېروي او خپل ځان مسئول هم نه ګڼي.

## خطرونه په سر اخيستل د اتلانو سنت دي

اې د اُمت اتلانو! د تاريـخ صفحې هغه اتلانو رنګينې او ښايسته کړې چې له خطرونو سره يې لوبې کولې او له خطرونو سره هغه څوک لوبې کولای شي چې غيرت ولري. هېڅ کله سخت اهداف نشو تر لاسه کولای تر څو چې خطرونه په ځان ونه منو او خطرونه په ځان منل بلکل د غيرتي خلکو کار دی؛ هر سړی د دې ميدان لوبغاړی نشي جوړېدلای، د خطرونو ميدان صرف رجال لوبغاړي غواړي. که غواړو چې اسلامي تاريـخ يو ځل بيا را ژوندی کړو، که غواړو چې د صحابه کرامو رضی الله عنهم، موسی بن نصير، طارق بن زياد، محمد بن قاسم، نورالدين زنګي، صلاح الدين ايوبي، يوسف بن تاشفين، عبدالرحمن الناصر، عبدالرحمن الغافقي، محمد الفاتح، ملا

محمد عمر، اختر محمد منصور، جلال الدين حقاني رحمهم الله او داسې نورو اتلانو تاریخ را ژوندی کړو؛ نو راته په کار ده چې د دوی په شان خطرونه په سر واخلو او د جـهاد لمنه ونیسو، د جـهاد په ډګر کښې هر ډؤل سختیو ته تیار شو، په کفارو یرغل وکړو، بېلوونکو او غولوونکو سرحداتو ته د پای ټکی کېږدو، ټول اسلامي اُمت سره یو کړو، د اسلامي اُمت په درد دردمند شو، له خپلو مجاهدینو وروڼو سره په ټوله نړۍ کښې د باطل او ظالم پر وړاندې همکاري وکړو او له هغه سره د یو سنګر ملګري شو. په داسې حال کښې به مونږ د جـهاد حق ادا کړی وي، بیا به مو تاریـخ وستايي او تاریـخ به مو د اتلانو په قطار کښې راولي.
هغه څوک چې په خپل ځان سختۍ او قربانۍ منلی شي او د جـهاد له هر رنګه کړاوونو څخه خوند اخلي، هغه زلمي بیا کولای شي، خپل اُمت ته د قربانۍ او غیرت درس پرېږدي، هغه کولای شي د صحابه کرامو په شان د راتلونکو نسلونو لپاره د جـهاد نمونه وګرځي، هغه زلمي کولای شي چې تاریـخ ته نوی د عزت رنګ ورکړي، د تاریـخ زرینې کرښې په خپلو وینو ولیکي، اسلامي تاریـخ رنګین او لوړ کړي.

## د خواهشاتو او شهوتونه یو مثال

شهد (عسل) داسې نیوونکی (سرېښناک) خاصیت لري کله چې مېږیان د خوراک لپاره وربانديې ګډ شي، نو بیا یې د راوتلو لاره ورکه شي، پښې یې پکښې بندې شي او په دې وخت کښې نور هېڅ کار هم نشي کولای پرته د شهدو له خوراک، تر دې چې هلته آخر پکښې مړه شي؛ همدا مثال د

دنیاوي خواهشاتو او شهوتونو هم دی، کله چې یو انسان پکښې آخته شي، بیا یې د دې کار څخه راګرځېدل او راوتل ډېر ستونزمن وي او د دنیا ټول کارونه ورڅخه پاتې وي، تر دې چې یوه ورځ یې مرګ تر پښو ونیسي او د الله تعالی دربار ته یې ملامت پېش کړي. شهوتونه یو له هغه اسبابو څخه دي چې له ځوانانو څخه د غیرت او ایمانداری ماده اخلي، کوم ځوانان چې یو ځل په شهوتونو کښې مبتلا شي، بیا هېڅ امکان نه لري چې په خپل دین، ناموس او حق غیرت وکړي، د دښمن په مقابل کښې دې د جـهاد لاره ونیسي. د جـهاد لپاره په انسان کښې اساسي ماده غیرت دی، چې په انسانانو کښې د شهوتونو په اساس کمزوری کېږي او آخر له منځه ځي. غربیان په همدې خاطر ډېره هڅه کوي چې په اسلامي ټولنه کښې ښځې د باندې راوباسي او د نرانو سره یې ګډې کړي، ترڅو له دې لارې زمونږ په ټولنه کښې فحاشي خپره کړي، ځوانان مو په همدې هلاکوونکې ناروغۍ کښې آخته کړي او د غیرت، جـهاد او مبارزې استقامت ورڅخه واخلي.

که مسلمانان د مادیت او قومیت بوت په ایماني قوّت ونړوي، شهوتونه او خواهشات د ډېر عبادت او ریاضت په مرسته خاورې کړي، د جاهلیت تاریکۍ د علم په سراج روښانه کړي او په جـهادي توره د کفر سر له تنې څخه کټ (پرې) کړي، نو دا بیا لازمي ده چې په نړۍ به یې راج چلیږي او کفارو ته به هېڅکله موقع په لاس ورنشي چې په مسلمانانو حکومت وکړي او اسلامي نظامونه ونړوي؛ دا ځکه چې الله تعالی د مسلمانانو د عزت او کفارو د ذلیل کولو لپاره مسلمانان په جهاد سره مکلف کړي دي؛ ترڅو پورې چې جهاد دوام لري، مسلمانان به په عزت کې وي.

# جــهـاد په څو جملو کښې وپېژنه!

اې د اسلام زمريه! جهاد داسې وپېژنه: جـهـاد د کفارو وژل دي، اسلام ته دعوت دی، جـهـاد د طاغوت ماتول دي، جـهـاد د دين قائمول دي، جـهـاد د کفارو ذليل کول دي، جـهـاد مسلمانانو ته عزت ورکول دي، جـهـاد په ټوله ځمکه د الله تعالی نظام راوستل دي، جـهـاد د اسلامي ځمکو آزادول دي او جـهـاد له کفارو څخه جزيه اخيستل دي.

همدا جـهـاد دی چې اسلامي نظام ته دوام او ثبات ورکوي. جـهـاد دی چې په ملکونو کښې د شريعت خپرولو او تطبيق کولو ته لاره هواروي، جـهـاد دی چې مسلمانان د عزت او لوړوالي په لور وړي، جـهـاد دی چې مسلمانانو ته د ځمکې پر مخ د ژوند کولو زمينه برابروي؛ جـهـاد دی چې د هر کافر او جابر غرور له خاورو سره خاورې کوي، جـهـاد دی چې د وخت د هر طاغوت ملا ماتوي، جـهـاد دی چې بشر ته د امن چاپېريال جوړوي، جـهـاد دی چې مسلمانان په عزت کوي، جـهـاد دی چې په مسلمانانو کښې مېړني او بې غيرته خلک سره جلا کوي.

د جـهـاد پرته د مسلمانانو ژوند سخت دی. همدا د جـهـاد لار د عزت لاره ده، د جـهـاد لار د قربانۍ لاره ده، د جـهـاد لار د الله تعالی لاره ده، د جـهـاد لار د رېښتينو اتلانو او مېړنيو لاره ده، د جـهـاد لار د شهادت او استشهاد لاره ده، د جـهـاد لار د دعوت او تبليغ لاره ده، د جـهـاد لار د دين او اسلام لاره ده.

د جـهاد په لاره به اتلان ځي، په دې لاره به مخلصين او صابرين ځي، په دې لاره به د غيرت خاوندان او رجال ځي. د جـهاد لاره د قربانۍ درس ورکوي، دا لاره د عزت درس ورکوي دا لاره د شهادت درس ورکوي، دا لاره د قوي ايمان او يقين درس ورکوي.

د جـهاد په لاره تلونکي خلک به جنتيان وي، په دې لاره تلونکي خلک به معزز وي، په دې لاره تلونکي خلک به سر لوړي وي، په دې لاره تلونکي خلک به بې غمه وي، په دې لاره تلونکي خلک به د الله تعالی تر خاصې مهربانۍ لاندې وي.

په دې لاره کښې تکليف ثواب دی، په دې لاره کښې تلل ثواب دی، په دې لاره کښې زخمي کېدل ثواب دی، په دې لاره کښې شهيد کېدل ابدي ژوند او سعادت دی، په دې لاره کښې خوب ثواب دی، په دې لاره کښې خوراک ثواب دی او په دې لاره کښې هر څه ثواب دي.

## دين هم پر مونږ حق لري

اې مؤمنه وروره! د دين حق پېژنې؟ د دين حق پر مونږ دا دی چې زده يې کړو او په خپل ځان يې په پوره معنی عملي کړو، ورپسې يې نورو خلکو ته ورسوو، په ټوله نړۍ کښې يې لوړ کړو او د هغه خلکو سرونه ور مات کړو چې په سپکه سترګه ورته ګوري او يا يې منلو ته تيار نه وي.

همدا د دين حقوق دي پر مونږ باندې، چې بايد هر مؤمن ورور يې ترسره کړي. که چېرې مو دا حقوق تر سره کړل، په داسې حال کښې به مونږ د خپل دين حق ترسره کړی وي او که نه وو، بيا نو د خپل دين د حق په

اساس د قهار ذات په دربار کښې مسئولین یو. د دین رسولو لپاره صحابه کرامو داسې قرباني ورکړې دي چې زیاتره په نورو ملکونو کښې شهیدان شوي؛ تاسې وګورئ اوس هم په ډېرو هېوادونو کښې د صحابه کرامو رضي الله عنهم زیارتونه دي، چې هلته یا شهیدان شوي او یا وفات شوي دي، دا قرباني یوازې د دین په خاطر وې. که چېرته صحابه کرامو د دین لپاره دا قرباني نه وی ورکړې نو دا دین او اسلام به تر مدینه او مکه نه وو را وتلی، که چېرته د دین خپرولو هڅه صحابه کرامو نه وی کړې نو دا دین به د عربو تر جزیره نه وو راوتلی او د عربو په شګو کې به ورک شوی وو، که چېرته صحابه کرامو د دین د خپرولو فرض کفائي جهاد په مېړانه نه وی کړی نن به دا دین د نړۍ بېلابېلو برخو ته نه وو رسېدلی، که چېرته دا دین صحابه کرامو زمونږ ملک ته نه وی راوړی نن به مونږ هم په هغه پخواني کفر کې وو. دا د صحابه کرامو لوی احسان دی چې په دې امت یې کړی دی؛ چې د خپلو سرونو په قربانیو یې دا دین تر مونږ رارسولی دی. نن خو باید مونږ د دې لپاره قرباني ورکړو چې د دین رڼا څوک راڅخه وانخلي، داسې خو نشو کولای چې دین کفري ټولنې ته ورسوو او د صحابه کرامو رضی الله عنهم په شان په کفري هېوادونو کې د دین لپاره شهیدان شو او قرباني ورکړو، دا خپل اسلامي هېوادونه خو باید خپلواک کړو. زمونږ څخه اوس دا لاره ورکه ده چې څرنګه خپلې اسلامي خاورې خپلواکې کړو؟ څنګه د سرحداتو جالونه ټول کړو؟ څرنګه د خپلو مظلومو او ضعیفه مسلمانانو ورونو سره په نورو هېوادونو کې مرسته او همکاري وکړو؟ د دین حق یوازې دا نه دی چې په کور کښې کېنه، په آرامه سره خپل ژوند کوه، تر مسجد

پورې څه او یوازې خپل لمونځ کوه. د دین نوم یوازې لمونځ، روژه او اذکار نه دی؛ دین ډېر پراخه دی او تکلیفونه ورسره تړلي دي. د دین دا حق دی چې باید هر خوا ته خپور شي، ځان وربانديې قرباني شي او رڼا يې بايد ټوله نړۍ روښانه کړي. دين پوره هر اړخيزه عمل غواړي، دين خپرول غواړي، دين قربانۍ او وينې تويول غواړي. که چېرته دين الله تعالی ته ارزښت نه لرلای د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) وينې به يې نه وربانديې تويولې او رسول الله (صلی الله عليه وسلم) به دومره تکليفونه او ستونزې نه وربانديې ګاللې.

## خپل فکر، عقيده او فرهنګ وساتئ!

اسلامي فکر، عقيده او فرهنګ هغه څه دي چې کفارو ته يې د زړه تکليف او رنځ ور جوړ کړی، نو ځکه يې کفار په بېلابېلو لارو سره د تغير او له منځه وړلو هڅې کوي. اسلامي فکر، عقيده او فرهنګ هغه څه دي چې مسلمانان يې له نورو کفارو څخه جلا کړي او مسلمانانو ته قوّت ورکوي، مسلمانان سره يو کوي او د توحيد په رسۍ يې يو له بل سره د مينې، همکارۍ او اخوّت لپاره تړي. کله چې مسلمانان اسلامي فکر، کلکه عقيده او له غيرت څخه ډک فرهنګ ولري، هېڅ کله به کفارو ته موقع په لاس ور نشي چې په مسلمانانو غلبه ترلاسه کړي.

د فکري جګړې په سلسله کې کفار کوښښ کوي چې له مسلمانو نرانو څخه د عزت بګړۍ او د غيرت څادر واخلي؛ د بې غيرتۍ نيکټائي او د بې عزتۍ پتلون

ور په تن کړي. همدارنګه غربیان (کفار) غواړي چې له مسلمانو ښځو څخه د عزت لوپټه لرې کړي، د بې حیايۍ جامې ور په تن کړي او د شیطان لپاره يې د خطرناک دام په ډول د مسلمانانو د بې لارې کولو لپاره بهر راوباسي.
په دې اساس دوی غواړي، خپلې عقیدې او فرهنګ خپرولو ته په اسلامي ټولنه کښې لاره برابره کړي. په اسلامي ټولنه کښې د خپل ځان په اړه غواړي هغه نفرت ته چې مسلمانان يې ورسره لري د پای ټکی کېږدي او د دین په اساس هغه بنسټیزه دښمني چې د مسلمانانو د ایمان برخه ده نوره ختمه کړي. کفار کوښښ کوي چې خپل بې عزته او بې حیا حیواني تهذیب او فرهنګ اسلامي ټولنې ته داخل کړي او د اسلامي ټولنې څخه د غیرت او ایماندارۍ تهذیب او ماده ورکه کړي.
په ټولنه کښې د تعلیم پروسه هغه څه ده چې د خلکو افکار، عقاید، او نظریات اصلاح کوي. په ټولنه کښې که چېرې دوامداره د تعلیم او مراقبت پروسې موجودې وي، هغه اشخاص چې په ناپوهۍ کښې د نظام سره ټکر لري او په نظام بې ځایه نیوکې کوي، ټول اصلاح کېږي او هغه اشخاص چې د کومې سیاسي ډلې او بنیادي دښمنۍ په اساس د نظام په مقابل کښې ولاړ وي، له همدې لارې په نښه کېږي چې بیا وروسته باید خاص تر څارنې لاندې ونیول شي او په جدي ډول له هغه کار څخه منعه شي، خو که بیا هم مخالفت پرېنږدي باید داسې اشخاصو ته بند او سزا ورکړل شي. نو اساسي ستونزه د خلکو د بې ځایه نیوکې همدا ده چې په ټولنه کښې بې علمي او ناپوهي ډېره ده او په پوره ډول د نظام په اړه عامه پوهاوی او تعلیمات

نه کېږي. مونږ وایو هر عالم، مجاهد، لیکوال، خبریال، سیاستوال او مبلغ ته په کار ده چې د نظام، ښېګڼې او له پخوانیو ظالمو نظامونو سره یې توپېرونه په عام ډول په ټولنه کښې بیان کړي او د نظام له مخالفت څخه یې په دنیوي او اخروي عذاب ووېروي.

د اسلامي نظامونو مخالفت هغه اشخاص کوي چې د غربي فرهنګ څخه په مستقیم او یا غیر مستقیم ډول متاثر شوي وي. د کومو اشخاصو فکرونه چې له غربي تهذیب او فرهنګ څخه سرچینه اخلي هېڅ کله به د اسلام او ایمان په اساس پرېکړه او خبره ونه کړي، دا ځکه چې د داسې کسانو هر څۀ د ډیموکراسۍ او بې دینۍ په اساس ولاړ دي، چې له اسلام سره هېڅ تړاؤ نه لري او ربط نه لري؛ همېشه د شخصي خواهش او هدف لپاره د حسد او کینې په اساس د انتقاد لاره غوره کوي.

کله چې مسجد او کلیوالي ټولنه د سیاست سره وتړل شي، نظام به قوي شي، د ټولنې لپاره به د ټولنې له منځ څخه زمریان راووزي، د طاغوت ټول ګیدړان به په لړزه کښې شي او وبه تښتي، ټولنیز امن به رامنځته شي، ټول خلک به په مستقیم او غیر مستقیم ډول د نظام په ساتنه او سیاست کښې داخل شي؛ د نظام دښمنان به خپل ځای په ټولنه کښې له لاسه ورکړي، ټولنه به یو ډول غیر مسلح فوځ وګرځي چې دفاع کولای شي خو مصرف یې نه وي. مسجد هم د عبادت ځای دی او هم د علم او زده کړې ځای. مسجد هم محکمه ده، هم ولایت او قوماندانې. مسجد هم کتابتون دی هم روزنتون. مسجد باید رهبران وروزي، په مسجد کښې باید تعلیم هم وي،

سیاست هم ورسره وي. مسجد باید د ژوند د هرې برخې لپاره اتلان وروزي. مسجد د سیاسي او ټولیزو موضوعاتو او مفکورو مرکز دی او باید یوازې تر نفلونو او عبادت پورې خاص نشي.

مونږ هغه وخت ټولنیز امن رامنځته کولای شو، کله چې د ټولنې د خلکو افکار، نظریات او عقاید ترلاسه او اصلاح کړو. هر عالم، د فکر خاوند او مجاهد په دې مکلف دی تر څو په ټولنه کښې د خلکو د افکارو، نظریاتو او عقایدو اصلاح وکړي. د خلکو نظریات باید د غیرت، جـهاد، قربانۍ، دین او مېړانې په اساس د سپېڅلي جـهادي دندې د ترسره کولو لپاره جوړ کړي.

په کوم ملت کښې چې روزنه د جـهاد په سپېڅلې نظریې ولاړه وي هغه ملت به هېڅکله له ذلت او رسوایۍ سره مخ نشي.

اقتصاد د سیاست او نظام مهمه برخه ده باید ډېر کار پرې وشي، خو د سیاست یا نظام د هرې برخې پرمختګ په فکر او نظریې پورې اړه لري، که چېرې د نظام او ټولنې د خلکو فکر او نظریه جوړه وي بیا هر ډول پرمختګ امکان لري، خلک د نظام هر ډول پرمختګ ته لېواله وي او د نظام تر شا ولاړ وي. که چېرې فکر او نظریه جوړ شوې نه وي، بیا هر ډول پرمختګ او په هغه کښې هڅه کول نظام ته بقاء نشي ورکولی. نو د هر نظام لپاره په کار ده چې لومړی د کارکوونکو او عامو خلکو په فکر او نظریاتو کار وکړي، تر څو خلک خپله خدمت او د نظام پرمختګ ته لېواله شي او د نظام په ځنک کې د نظام د پرمختګ لپاره هڅې وکړي او ورسره همکار شي. هر

حکومت ته په کار ده چې په فکري ډول یو ځل د ټولنې خلک ترلاسه کړي، چې دا کار بیا د نظام د بقاء لپاره بنسټیز رول لوبوي.

## د یرغل سره فکرونه بدلیږي

هر کله چې په یوه ټولنه باندې یو یرغل وشي، نو هغه یرغلګر له خپل ځان سره خپل فکر، نظریه، دین او فرهنګ، هغه ټولنې ته وړي او غواړي چې په هغه ټولنه کې یې تطبیق کړي؛ ترڅو خپله ډله او طرفداران زیات کړي او په مقابل کې یې دښمنان او مخالفین کم شي. کوم وخت چې مسلمانانو هېوادونه فتحه کول نو د فتحه شوو هېوادونو خلکو هڅه کوله ترڅو د مسلمانانو رواج، فرهنګ، دین، اقتصاد، فکر او ټولنیز ژوند زده کړي، ټولو خلکو به د عربي ژبې د زده کولو هڅه کوله او زیاتره مسلمانان کېدل، چې ښه مثال یې د افریقا مسلمانان یادولی شو چې د افریقا له فتحې څخه وروسته مسلمانان شوي وو؛ د اندلس په فتحه کې یې خاص رول ولوبولو او د طارق بن زیاد (چې خپله هم د افریقا د بربر قوم څخه وو) په مشرۍ یې اندلس فتحه کړو. خو کله چې په افغانستان باندې غربیانو یرغل وکړو، د افغانستان زیاتره خلکو هڅه کوله چې د اشغالګرو فرهنګ، ژبه، فکر، اقتصاد، ټولنیز ژوند او نظریه خپله کړي؛ ښه مثال یې د افغانستان غلام حکومت یادولی شو چې د غربیانو سره یو ځای یې د مجاهدینو وینې تویولې او غوښتل یې چې د غربیانو ټول فرهنګ او قانون په افغانستان کې خپور شي؛ تر دې چې ځینې مسلمانانو د هغوی دین هم ومنلو او په عامه سره عیسویت ته دعوت کېدلو، خلک ورته رابلل کېدل. علامه اقبال رحمه الله

وايي: د يرغمل شوې ټولنې هر اړخ د ځوان نسل لپاره په کمین کې وي. دا رښتیا هم ده. په شل کلن دور د اشغال کې چې د ټولنې ځومره ځوانان ګمراه او بې لارې شوي، په تاریخ کې یې مثال نشته او تر اوسه یې فکرونه هغسې زهرجن پاتې دي. کفارو په هر ځای کې د دې لپاره لاره جوړه کړې وه چې خلک له خپل اسلامي فکر او نظریې څخه واړوي او غربي فکر ورباندې تطبیق کړي؛ د ټولنې هر اړخ بدل شوی وو او هر اړخ یې د دې هڅه کوله چې ځوانان بې لارې کړي؛ هغه که مکتب وو، که پوهنتون وو، که دولتي ټولې ادارې وې، که کلی وو او که ښار وو، حتی که ووایم هغه مدرسې هم وې کومې چې د حکومت تر تاثیر لاندې وې؛ دا ټول دې ته مائل شوي وو چې غربي فکر خپور کړي او تر ډېرې اندازې کامیاب هم شول. زمونږ لپاره په کار ده چې په خپله ټولنه ډېر کار وکړو، علمي او فکري پروګرامونه جوړ کړو، خاص کمېټه باید حکومت جوړه کړي؛ چې د غربي فکر، کومې جرړې زمونږ په ټولنه کې موجودې دي د هغې ریښې وباسي. د خلکو په فکرونو، عقایدو او فرهنګ باید کار وشي، تر څو مو ټولنه اصلاح شي او په یوه اسلامي نظریه جوړه او سالمه ټولنه رامنځ ته شي. مونږ باید په نصاب کې پوره بدلون راولو؛ نوي فکري او عقیدوي موضوعات په کښې اضافه کړو؛ تر څو مو د ځوانانو له فکرونو څخه غربي زهرجن موضوعات ووزي، ترڅو په ښکلي اسلامي او جهادي عقیده جوړ نسل راپورته شي. په یو ملک کې تعلیمي ادارې ډېرې مهمې دي، چې د ټولې ټولنې د اصلاح هڅه باید ورڅخه وشي. تعلیمي ادارې صرف د دې لپاره نه دي چې په یو مسلک او هنر کې اشخاص وروزي، بلکې د ټولنې ټول وګړي له تعلیمي ادارو څخه اصلاح

کېږي. له بده مرغه چې زمونږ په ملک کې درې کاله کېږي چې اسلامي نظام قائم شوی، خو تر اوسه پخوانی نصاب نه دی بدل شوی او نه هم فکري موضوعات په نصاب کې داخل شوي. تعلیمي مرکزونه ډېر مهم دي چې باید، پوره روزل شوي اشخاص پکښې وګومارل شي او د ټولې د هر اړخ باید له همدې تعلیمي مرکزونو څخه اصلاح شي.

## جـــهـاد سراسر ګټه ده

اې د اسلامي اُمت ځوانه آیا ته پوهېږې؟ د جـهاد ثمره یا فتحه وي یا شهادت، چې دواړه یې اعلی مرتبې دي. په فتحه سره به مسلمانانو ته د عزت ژوند ور په برخه شي، غنیمت به تر لاسه شي، اسلامي ځمکې به خپلواکې شي، د دین خېرولو ته به لاره هواره شي او کفار به ذلیل شي؛ چې دا هم د جـهاد له اهدافو څخه دي او په شهادت سره به په یو ځل سره هغه هدف ته ورسېږې چې مسلمانان یې په ټول ژوند کښې د ترلاسه کولو هڅې کوي، په دې پوهېږو چې شهادت نوی ژوند دی، د الله تعالی نعمتونه، حورې او غلمان همدې غیرتي شهیدانو ته انتظار کوي. په همدې اساس ویلی شو چې جـهاد سراسر ګټه ده، په جـهاد کښې د مسلمانانو کامیابي، لوی زېری او نیک بختي ده. څوک چې یو ځل د جـهاد او سنګر په مینه پوه شي، هغه ته بیا په آرامه او په کور ژوند تېرول خوند نه ورکوي، هغه بیا د دښمن په وژلو پسې لالهانده وي او د شهادت حب دومره پرې غالب وي چې د دنیا ټول نعمتونه ورڅخه هېر شوي وي. مجاهدین هغه خلک دي چې ژوند د ژوند لپاره قربانوي او نوی حقیقي ژوند ترلاسه کوي. په حقیقي معنی

سره همدې خلکو د ژوند ارزښت پېژندلی دی. **إِنَّ اللَّهَ اشْتَرَى مِنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنفُسَهُمْ وَأَمْوَٰلَهُم بِأَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ** (سُوْرَةُ التَّوبَة: ١١١) **ژباړه: حقيقت دا دی چې الله تعالی له مؤمنانو څخه د هغوی نفسونه او د هغوی مالونه د جنت په بدله کښې اخيستي دي.** نو همدا مجاهدين دي چې د الله تعالی سره د دې سودا او تجارت لپاره خپل مالونه او ځانونه قربانوي او په بدل کښې يې له الله تعالی څخه د هغه د رضا او جنت هيله لري. همدا سبب دی چې مجاهدين د جـهاد ميدان ته په پوره شوق او محبت سره داخلېږي، ځکه چې له شهادت سره متصل د الله تعالی لقاء او جنت باندې ايمان لري، الله تعالی خپلې وعدې ورسره پوره کوي او د جنت له نعمتونو څخه يې برخمن کوي.

## شـــهــــادت بالکل نوی ژونـد دی

اې د جـهاد مستقيم لارويه! راشه د شهادت غوښتنه له الله تعالی څخه وکړه او عملي کوښښ پيل کړه، ترڅو دا لوی نعمت او حقيقي ژوند تر لاسه کړې.

شهيد ته مړ ويل الله تعالی منعه کړي دي، شهيدان مړه نه بلکې ژوندي دي او د جنت له نعمتونو څخه خوند اخلي. شهيدان دي چې د آخرت په ورځ به نه په دوی غم وي او نه د هغه سختې ورځې وېره.

شهيدان هغه څوک دي چې په دې دنيا کښې يې د خپل ټول بدن قرباني ورکړې ده، د آخرت په سخته ورځ به د عرش تر ښکلي او آرامه کوونکي سيوري لاندې دمه وي. د شهيدانو ډله به ډېره په افتخار جنت ته داخله

شي ځکه چې په دنیا کښې یې له خپل رب جل جلاله سره د خپل ځان سودا او په هغه خپله وعده وفا کړې ده. شهیدان دي چې الله تعالی صلاحیت ورکړی چې د نورو ګناهګارو خلکو شفاعت وکړي او له خپل ځان سره یې جنت ته داخل کړي. شهیدانو ته الله تعالی د لومړي ځاڅکي وینې تویېدلو سره د زنکدن په وخت کښې ټول ګناهونه وربښي. د شهیدانو جسدونه نه خاورې کېږي او نه هم خرابېږي، بلکل تازه وي.

## د نسلونو روزنه خپل مسئولیت وګڼئ!

اې د راتلونکو نسلونو روزنکو! د خپل شرعي مکلفیت په اساس خپل ماشومان په اسلامي، ایماني او جـهادي نظریې او د عقیدې په محکم قوّت وروزئ. خپل نسلونه د قرآن کریم په لارښوونو او نبوي سنتو برابر کړئ. کوم فکر چې له قرآن کریم څخه سرچینه واخلي، هغه فکر به هېڅ کله د غلامۍ لاره نه خپلوي او په نبوي سنتو برابر شخص ټولنې ته یو کامل شخص وړاندې کوي، چې په هره برخه د اسلام نمونه وي.

له خپلو ماشومانو څخه علمي، جـهادي او ټولنیز روښانه د اسلام ستوري جوړ کړئ. خپل ماشومان د تاریـخ په هنداره کښې د با احساسه او غیرتي اتلانو په اخلاقو وروزئ. خپلو ماشومانو ته د اسلامي تاریـخ له غیرېږ د زړورو اتلانو کیسې واوروئ او د هغه په څېر د غیرت او ننګ کولو توصیه ورته وکړئ. که داسې غیرتي نسل وروزو بیا به په نړۍ یو ځل د خلافت سیوری غوړوي او یو ځل به بیا کفري نړۍ دې ته اړ کوي چې د مسلمانانو مزدوري وکړي او مسلمانانو ته په عاجزۍ جزیه ورکړي. په جهادي نظریه

روزل شوی نسل به د اسلام برم لوړ کړي او کفار به د غرور له دنګ څلي څخه را وغورځوي.

کوم ماشومان چې د روزنې او فکر جوړېدو په وخت کښې په ګېمونو، سريالونو، ډرامو او کرکيټ کتلو باندې مشغول وي، د هغه څخه په ځوانۍ کښې د نرتوب او غيرت تمه نه کېږي، داسې ځوانان به تل د اُمت په اوږو بار وي او هر وخت به د دښمن په لومو کښې لوېدلي وي.

د دين ساتلو، خپرولو او رسولو لپاره زمري وروزئ، د دين ساتل ډېر لوی کار دی او روزل شوي زمريان غواړي.

د مسلمانانو کورونه بايد له داسې اتلو نسلونو څخه ډک شي چې له زندان، مرګ، زولنو، دنياوي اسبابو، مشرکينو او کفارو څخه هېڅ وېره ونه لري.

داسې نسل بايد ټولنې ته وړاندې کړو چې له کفر، منافقت، فسق، غلامۍ، بې غيرتۍ، فتنې او هرې کمزورۍ څخه کرکه ولري او په مقابل کښې يې کلکه مبارزه وکړي.

د نسلونو ډېرول مهم نه دي د نسلونو روزل مهم دي. کوم نسل چې له جـهاد کولو څخه وېره ولري هغه نسل به په راتلونکي کښې د پرديو غلام وي. په خپلو نسلونو کښې د جـهاد شعار او د جـهاد اصطلاح عامه کړئ، تر څو په راتلونکي کښې په مېړانه جـهاد وکړي او په دې سپېڅلي لاره کښې هر ډول قربانۍ ته تيار شي.

خپل نسلونه په عبادت او بندګۍ کښې عابدان جوړ کړی؛ له فرايضو څخه نيولي بيا تر مستحباتو پورې بايد په ټولو ديني اوامرو پابند وي. هغه خلک

چې شپه او ورځ د خپل رب جل جلاله په دربار کښې په عاجزۍ سره عبادت کوي الله تعالی محبت او مرسته ورسره کوي. یو وخت سلطان صلاح الدین ایوبي رحمه الله د تهجد په وخت کښې په خپل لښکر نظارت او څارنه کوله، وېې لیدل چې د یوې خېمې مجاهدین ویده دي او تهجد ته نه دي ولاړ شوي، نو سلطان وویل که چېرته سبا ورځ لښکر له ماتې سره مخ شي نو سبب به يې د همدې خېمې مجاهدین وي، ځکه چې دوی غفلت کړی.

نو په همدې اساس باید نسلونه په عبادت کښې هم محکم او کلک شي؛ ځکه چې د ایمان کلکوالی په عبادت سره راځي او کوم خلک چې کلک او قوي ایمان ولري هغه بیا د قربانۍ او د جـهاد لاره خپلولی شي.

نسلونو ته غربي تهذیب او فرهنګ معیار مه جوړوئ، خپل نسلونه په اسلامي تهذیب او فرهنګ جوړ کړئ او د اسلامي تهذیب ارزښت وربانديې وپېژنۍ، تر څو د غربیانو د بې حیا او فاحش رواج او تهذیب تقلید ونه کړي.

زمونږ د نسلونو د روزلو لویه ستونزه دا ده چې د نسلونو روزونکي مو هم نه دي روزل شوي او یا که روزل شوي هم دي نظریات او افکار يې نه دي اصلاح شوي. مونږ د راتلونکو نسلونو د روزنې لپاره اړتیا لرو تر څو لومړی د نسلونو روزونکي وروزو او هغه ته د غیرت، مېړانې او جـهاد درس ورکړو.

د ماشومانو په روزنه کښې لومړي مسئولین مور او پلار دي، چې د خپلو بچیانو د تربیې اساس او بنسټ ایږدي، خو افسوس چې په ټولنه کښې ډېر داسې پلرونه موجود دي، چې خپله يې قرآن کریم، لمونځ، او داسې نور نه وي زده؛ که د جـهاد تعریف ورځخه وپوښتۍ هېڅ جواب به ورځخه

ترلاسه نه کړئ. نو په داسې ټولنه کښې به څنګه د ماشومانو تربيه په جـهادي او غيرتي نظريه وشي؟

مونږ ته په کار ده چې د خپلو ماشومانو روزنه د ماشومتوب څخه د جـهاد او غيرت په اساس وکړو، له ماشومتوب څخه هغه بايد خپل دوست او دښمن وپيژني، له ماشومتوب څخه بايد د خپلې اساسي دښمنۍ اصل لاملونه وپيژني، له ماشومتوب څخه بايد د دښمنۍ اسباب او طريقې وپيژني، له ماشومتوب څخه بايد په دې پوه وي چې زه بايد د لويوالي په حال کښې د خپل دين او ملت لپاره قرباني ورکړم.

د اسلامي اُمت تقريباً زياته برخه ځوانان د خپلو خواهشاتو په ناروغۍ اخته دي، د اُمت د درد او غم هېڅ احساس نه لري. په دې هېڅ خبر نه دي چې په اسلامي اُمت څه تېريږي؟ اسلامي اُمت په څه حال کښې دی؟ اسلامي اُمت اوس څه ته اړتيا لري؟ څه سبب دی چې اسلامي اُمت نن په داسې ذليله او کمزوري حالت کښې وينو؟ دا هغه احساس دی چې د اسلامي اُمت ډېر کم ځوانان به يې لري او پرې خبر به وي.

د اسلامي اُمت تقريباً زياته برخه ځوانان د دين او جـهاد څخه ناخبره دي، د جـهاد مقاصد نه پيژني چې جـهاد د څه لپاره کيږي؟ جـهاد څه ته وايي؟ مسلمانان ولې جـهاد کوي؟ جـهاد بايد له چا سره وشي؟ جـهاد ته څومره اړتيا ده؟ دښمن مو څوک دی؟ زمونږ سره کفار ولې دښمني کوي؟ زمونږ تاريـخ څه دی؟ د اسلامي اُمت اتلان څوک دي او څه يې کړي دي؟ د اسلامي اُمت دښمنان څوک وو په تاريـخ کې او زمونږ سره يې څنګه دښمني کړې؟ دا

ټولې هغه پوښتنې دي چې د اسلامي اُمت ډېر کم ځوانان یې جواب احساس کوي، پرې خبر دي او پرې پوهیږي!

## په اسلامي عقیده خپلواک فکر په کار دی

اې د اسلامي اُمت مبارزینو! د اُمت ځوانان او ټوله ټولنه د فکري غلامۍ څخه وساتئ، فکري غلامي د عامې غلامۍ هغه دروازه ده چې قومونه له ماتې او ذلت دواړو سره مخ کوي، هغه قوم به هېڅکله مستقل فکر ونه کړي او نه به پورته شي، چې ځوانان یې د فکري جګړې په ډګر کښې ښکار او غلامان شوي وي. ملتونه هغه وخت له ماتې سره مخ کیږي چې د خپلې عقیدې پر بنسټ آزاد او خپلواک فکر له لاسه ورکړي. هېڅ کله به هغه ملت مات نشي، چې ځوانان یې په خپله عقیده خپلواک فکر ولري. اسلامي اُمت هغه وخت له ماتې او ذلت سره مخ شوی، چې په خپل منځ کښې یې پردي پال پیدا شوي او د نورو د ګټو لپاره یې د اُمت په مینځ کښې تبلیغ او کار کړی. تاسې د تاریخ پاڼې واړوئ؛ په ټول تاریخ کښې کفارو ته همدې فکري غلامانو ډېر خدمتونه کړي او د مسلمانانو په خلاف یې د کفارو سره همکارۍ کړې دي، کفار هڅه کوي چې لومړی په مسلمانانو کښې د خپل فکر څښتنان پیدا کړي او وروسته له هغې لارې په اسلامي ټولنه برید وکړي. تاسې به لیدلي وي ډېر داسې کتابونه په پښتو او فارسي کښې لیکل شوي چې غربي غلامۍ ته زمینه برابروي او غواړي غربي فرهنګ، صنعت، اقتصاد، فکر، اخلاق، علم او داسې نور په اسلامي ټولنه کښې لوړ او غوره تعریف کړي. دا ټول د همدې فکري غلامانو نتیجه ده چې په اسلامي ټولنه کښې

غواړي کفارو ته خدمت وکړي او اسلامي ټولنه اړه کړي ترڅو د کفري ټولنې تقلید وکړي. نو مبارزینو او لیکوالانو ته په کار دي تر څو په ټولنه کښې داسې اشخاص په نښه کړي او د هغه له هر ډوله تبلیغاتو څخه مخنیوی وکړي. لیکوالان او مبارزین باید اسلامي فکر او فرهنګ په ټولنه کښې عام کړي، د رسنیو له لارې یې خپور کړي، د غربي فکر او فرهنګ غندنه او رد باید وکړي، د ټولنې د خلکو په زړو کښې نفرت ورسره پیدا کړي.

## د اُمت علماء او د جـــهـاد مسئله

په هره زمانه کښې د اُمت علماء مکلف دي تر څو د حالاتو له غوښتنې سره سم په ښه ډول د جـهاد مسائل تشریـح او بیان کړي؛ د اسلامي اُمت هر وګړی باید په دې پوه کړي چې په دې زمانه کښې د جـهاد مسائل څه دي؟ له کفارو سره سیاسي حالت ډېر مهم دی، چې باید د دین له نظره تشریـح شي. همېشه د حق په ښکارولو سره مستقیمه لاره پیدا کېږي او ټاکل کېږي. د حق په ښکارولو سره د مسلمانانو زړونه ډاډ ترلاسه کوي. د جـهاد مسئله ډېره مهمه ده، د اسلامي اُمت ژوند ور پورې تړلی دی، اسلامي اُمت د همدې جـهاد په واسطه پورته کېږي او کامیابه کېږي. همدارنګه د جـهاد نه کولو یا په دې مسئله کښې د اختلاف په سبب اسلامي اُمت له زوال سره مخ کېږي، په اسلامي اُمت کښې اختلافات پیدا کېږي او اسلامي اُمت له بېلابېلو خنډونو سره مخ کېږي. اوس خو شیخ عبدالله عزام رحمه الله نشته، چې د جـهاد په فرض عین والي کتابونه ولیکي، په هغه کښې ولیکي چې په ټوله اسلامي نړۍ جـهاد فرض عین دی او بیا وروسته له ټولو علماؤ څخه پرې

لاسليک واخلي. نه هم استاد یاسر رحمه الله شته چې د جـهاد مسئله په عادي او حقیقي ډول بیان کړي، د کفارو دسیسې او خباثت ښکاره کړي، په ځوانانو کښې د غیرت، مېړانې او شهادت جذبې راوپاروي. نو چې هغوی نشته په دې خو د هرې زمانې علماء مکلف دي تر څو دا دنده ترسره کړي. په هره زمانه کښې د هغې زمانې هر عالم چې د جـهاد مسائل ورته معلوم وي او د حالاتو سره سم یې تشریـح نه کړي، هغه به بیا د ټول اسلامي اُمت جواب وایي!

د حق د لارې علماؤ ته وایو چې راشئ، د جـهاد مسائل تشریـح کړئ، باطل ته اجازه مه ورکوئ چې د دې نقطې څخه په نظام نیوکې وکړي او له دې نقطې څخه ناوړه استفاده وکړي. باطل په بېلابېلو لارو کوښښ کوي تر څو زمونږ په اُمت کښې کمزورې نقطې پیدا کړي او د هغې له لارې پر مونږ نیوکې وکړي، ترڅو د خپلو اشخاصو پر مونږ نظر بدل کړي. باطل غواړي خپل ځوانان مو په هره طریقه چې وي زمونږ پر خلاف وهڅوي او زمونږ اعمال ورته غلط ثابت کړي. اې علماؤ! راشئ خپله عملي میدان ته راووزئ؛ خپلو ځوانانو ته د دین، جـهاد او سیاست موضوعات د دین سره برابر تشریـح کړئ؛ هغه پرې پوه کړئ، تر څو عام تشویش ختم شي، د خپلو با احساسه ځوانانو پر مونږ اعتماد او باور زیات شي، تر څو د نورو باطلو په دامونو کښې ونه لوېږي او له هرې فتنې څخه بچ شي. کله چې مونږ دین په هغه ډول بیان کړو، لکه څرنګه یې چې حق دی، په الله تعالی قسم چې هېڅ کله به پکښې تاواني نه شو او نه به راته کوم زیان ورسوي، بیا نو تر څو به د سیاسي، اقتصادي او یا بل دلیل له وجې دین نه بیانوو؟ الله تعالی په قرآن

کریم کښې فرمايي: وَلَا تَلْبِسُوا الْحَقَّ بِالْبَٰطِلِ وَتَكْتُمُوا الْحَقَّ وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ (سُوْرَةُ البَقَرَة: ۴۲) ژباړه: او باطل ته د حق جامه مه وراغوندئ؛ او له پوهېدو سره سره د حق پټولو هڅه مه کوئ. نو له علماو څخه مو غوښتنه ده، چې د اسلامي اُمت په دې حساس پړاو کښې خپل مسئولیت درک او ترسره کړي او د ټول اسلامي اُمت بېړۍ سالمه تر ساحله ورسوي.

کله چې په افغانستان باندې شورویانو یرغل وکړو په خلاف یې د ټول اسلامي اُمت مجاهدین پاڅېدل، جـهاد یې پیل کړو، د دنیا له هرې خوا څخه مسلمانان راتلل او په افغانستان کښې یې د شورویانو خلاف جـهاد کولو؛ چې زیاتره همدلته شهیدان شول. په هغه وخت کښې د نړۍ د علماؤ همدا فتواء وه چې په افغانستان کفارو یرغل کړی او د افغانستان حریم یې تر پښو لاندې کړی، نو د افغانستان د خاورې آزادولو په خاطر په ټوله اسلامي نړۍ جـهاد فرض عین دی او که یې څوک نه کوي ګناه کار او بې غیرته بلل کیږي.

کله چې په افغانستان دوهم ځل امریکایانو د ټولې ناټو په شمول یرغل وکړو، بیا هم هغه فتواء وه، چې د افغانستان د آزادۍ لپاره په ټوله اسلامي نړۍ جـهاد فرض عین دی او چې څوک یې نه کوي ګناه کار بلل کیږي.

بیا په دې لړ کښې علماؤ کتابونه ولیکل، علماؤ د دعوت او تبلیغ لپاره بیانونه وکړل او خلک یې جـهاد ته تشویق کړل؛ خلکو ته یې بلنه ورکړه، د جـهاد مسئله یې د هر منبر خطبه او د هرې مدرسې درس وګرځوله؛ په هغه وخت کښې علماؤ د جـهاد د حکم په خاطر د زندان تورې تیارې خوښې کړې او د همدې جـهادي حکم په اساس ځینې تر ننه ورک دي، لکه

ورک شیخ استاذ یاسر رحمه الله، د جـهاد پوره حق يې ادا کړو په خپل عصر کښې يې ټولې سیاسي فتنې څرګندې کړې، د اُمت د یووالي لپاره يې خپلې مکملې هڅې وکړې، د جـهاد حکم يې عام کړو، د سرحداتو نظریه يې لغوه وبلله اسلامیت يې ټول یو ځان وبللو، د هغه یوه وینا ده، چې وايي (که په مشرق کښې کافران په یوه مسلمانه ښځه تجاوز وکا، د هغې عزت تر پښو لاندې کا، د مغرب په مسلمانانو جـهاد فرض عين دی، تر څو چې د هغې عزت په ځای شوی نه وي؛ که په مغرب کښې په یوه مسلمانه ښځه کافران تجاوز وکا، د مشرق په مسلمانانو جـهاد فرض عين دی؛ تر څو چې د هغې عزت په ځای شوی نه وي. دا د فقهې د کتابونو عام متن دی.) له دې فتواء څخه د استاذ محترم د جـهاد په اړه هر څه واضیح او څرګند دي. خو اوس چې اسلامي اُمت په برخو برخو تقسیم شوی هېڅ یو اسلامي هېواد د بل اسلامي هېواد مرسته او همکاري نشي کولای، په اسلامي اُمت ظالم کفري نظامونه مسلط دي، مسلمانان يې سره تقسیم کړي، د سرحداتو غولوونکي جالونه يې په مسلمانانو غوړولوي او هېچا ته اجازه نه ورکوي چې تر خپل سرحد ووزي، سیاست د اسلامي هېوادونو ټول د کفارو په لاس کښې دی، د مسلمانانو زیاتره هېوادونه اشغال دي مسلمانان په هر ځای کښې د کفارو تر ظلم لاندې په مظلومیت کښې شپې ورځې سبا کوي، مسلمانان له کفارو سره بندیان دي، مسلمانانې خویندې د کفارو سره په زندانونو کښې پرتې دي، هر ډول ظلم او تېری ورباندې کوي، د هغوی عزت او عفت يې تر پښو لاندې کړي، اسلامي مقدسات غصب دي، هره ورځ اسلام، مسلمانانو او اسلامي مقدساتو ته سپکاوی کیږي او مسلسله د

مسلمانانو ټول وژنه او نسل وژنه روانه ده. بل خوا ته ټولې کفري نړۍ د مسلمانانو په خلاف اتحاد او یووالی کړی، سازمانونه یې جوړ کړي، ملل متحد یې رامنځته کړی، ملل متحد یې د شارع درجې ته رسولی، کوم هېواد چې د جهاد نوم اخلي، کوم هېواد چې د اسلام او مسلمانانو نوم اخلي، کوم مسلمانان چې د اسلامي اُمت یووالي ته هڅه کوي؛ د دوی سازمان یې په خلاف د جنګ د مشروعیت حکم ورکوي، ټول یې په یو ځای په خلاف درېږي او په هره ممکنه لاره سره د مسلمانانو مخنیوی کوي. نو د افسوس ځای دا دی چې دا ټول حالات روان دي، علماء ولې دا حالات نه تشریح کوي؟ ولې له دې سخت حالت څخه اسلامي اُمت نه راباسي؟ ولې د اسلامي اُمت د با احساسه ځوانانو احساسات وژني؟ ولې د جهاد مسئله د پخوا په شکل نن هم نه تشریح کوي؟ ولې نن هم د اسلامي اُمت د یو واحد سازمان او اُمت کلو هڅې نه کوي؟

پرون چې د افغانستان په خاطر په ټوله اسلامي نړۍ جهاد فرض عین وو، ولې نن هغه فتواء د فلسطین په خاطر نه ورکول کېږي؟ ولې نن همدا حکم د پاکستان د مرتد، انسان خوړونکي او ظالم حکومت په خلاف نه ورکول کېږي؟ ولې نن هم د پخوا په شان، په ټول اسلامي اُمت جهاد فرض عین نه ګڼل کېږي؟ اوس مونږ حیران یو چې پخواني علماء خطاء شوي او د هغې څخه په هغه حکم کښې سهوه شوې او که د اوس زمانې علماؤ جهاد ته شا ګرځولې ده او نه یې بیانوي؟

له علماؤ څخه مو غوښتنه ده چې په اوس حالاتو کښې د جـهاد مسئله په مکمل شکل تشریـح کړي؛ د ټول اسلامي اُمت سیاسي وضعیت ته دې کتنه وکړي؛ اسلامي اُمت دې له دې سخت بحران څخه راوباسي؛ باطلو ډلو ته دې وخت نه ورکوي چې په بېلابېلو لارو او طریقو سره د اسلامي اُمت ځوانان ګمراه کړي، د خپل حکومت او خپل نظام په مقابل کښې یې ودروي او وکاروي. علماء دې ته باید وخت ور نه کړي چې داعش، تحریریان او یا نورې ډلې د جـهاد له حکم څخه غلطه استفاده وکړي او خپل ځوانان مو په مقابل کښې راته ودروي.

الله تعالی یو شخص دومره نه مکلف کوي چې قدرت یې نه وي. جـهاد چې کله فرض عین شي الله تعالی داسې نه وایي چې ته به د دنیا هغه بل سر ته ځان رسوې هلته دربانديې جـهاد فرض عین دی او هلته به جـهاد کوې؛ جـهاد چې کله فرض عین شي د اسلام او کفر له سرحد څخه جـهاد پیل کېږي، که کفر چا ته نه معلومیږي، هر نظام چې د اسلام او مسلمانانو په مخ کښې دریږي او د اسلامي قوانینو پابند نه وي، قانون یې غیر شرعي وي، د اسلام په مقابل کښې جوړ شوی وي او د مسلمانانو مخنیوی کوي، هغه نظام کفري دی؛ باید لومړی له هغه سره جـهاد وشي تر څو ستا مخه پریږدي، مخته د تللو اجازه درکړي؛ د اسلام سرحدات او خاوره پراخه شي. یا هم هر نظام چې د اسلامي اُمت د علماؤ په فتواء کفري وي (لکه جمهوري نظام چې اوس په زیاترو اسلامي هېوادونو مسلط دی) هغه نظام باید له منځه یوړل شي او په ځای یې باید اسلامي نظام په هغه ځمکه او خلکو

حاکم شي، تر څو خلک د امن احساس وکړي او په ټوله نړۍ کښې مسلمانان د یو بل همکارۍ ته ورسېږي.

ځینې کسان په دې غلط فهمۍ کښې لوېدلي چې فلسطین ته خو مونږ نشو رسېدلای، نو څنګه یې مرسته وکړو؟

خو مونږ وایو چې له فلسطین څخه مخکې تاسې مکلف یئ په هغه جـهاد سره چې تاسې په هغه سره لاره پیدا کولای شئ تر فلسطین پورې. دا خبره مو مخکې هم وکړه کله چې د بیت المقدس یا نورو اسلامي خاورو په خاطر په یو هېواد یا مسلمانانو جـهاد فرض عین شو، اقدام دې له هغه ځای څخه وکړي په کوم ځای کښې یې چې کوم هېواد او خلک د تللو مخالفت کوي او لاره نه ورکوي؛ لکه زمونږ د همسایه هېوادونو حکومتونه چې هم یې نظامونه جمهوري دي او هم زمونږ د تللو مخالفت کوي.

په پای کښې به دا یوه خبره وکړم چې د کلک ایمان، عزم او یقین څخه وروسته، هېڅ اسبابو ته اړتیا نشته، چې د مسلمانانو جـهاد محدود کړي، ورپورې وتړل شي او بس.

علماء باید د استاذ یاسر رحمه الله تاریخ یو ځل بیا تکرار کړي چې په جـهادي مسائلو یې نړۍ ولړزوله، په واقعیت سره یې د اسلامي اُمت لپاره دومره لوی کار وکړو، بیا فکر نه کوم چې مثال یې تکرار شي؛ د جـهاد، استشهاد، شهادت او غیرت په روحیه یې د اسلامي اُمت بچیانو ته نه هېرېدونکی درس او روزنه ورکړه، په رښتیا سره یې په ځوانانو کښې د جـهاد او قربانۍ ولولې راوپارولې؛ د اسلامي اُمت د یووالي لپاره یې دومره لوی کارونه وکړل چې ټول اسلامي اُمت یې د احسان پوروړی دی، د جـهاد حکم یې خاص

له فقهې څخه نقل کولو، معاصر سرحدات او په هغه پسې خاص نظامونه یې د حکم څخه خارج کړل او د ټول اُمت په سطحه یې عامه د فرض عین جـهاد فتواء ورکړه. د اُمت افراد یې یو له بل سره که د ځمکې په هره برخه کښې وای په درد او غم کښې شریک ګڼل، همدا تګلاره د دین ده او همدا تګلاره د رسول الله صلی الله علیه وسلم وه.

کله چې امریکا د ټولې ناټو په سرمشرۍ کښې په افغانستان یرغل وکړو، د نړۍ علماؤ فتواء ورکړه چې په خلاف یې جـهاد فرض عین دی او څوک یې چې نه کوي بې غیرته او ګناه کار دی. اوس چې په فلسطین باندې اسرائیلو د ټولې یهودنې نړۍ په حمایت یرغل کړی او په مسلمانانو یې ټول وژنه او عام وژنه پیل کړې ده، لوی او ماشومان، ښځې او نجونې له یو مخه وژني او بې عزته کوي یې، د مسلمانانو لومړۍ قبله یې په خپل کنترول او واک کښې راوستلې او بې حرمتي یې کوي، مسلمانانو ته وخت نه ورکوي چې په دې د فضیلت په ځای کښې خپل رب (جل جلاله) ته په آزاد ډول عبادت وکړي.

نو اې د نړۍ علماؤ! کوم سبب دی چې تاسې یې نن په دې حساس پړاو کښې د عامې فتواء ورکولو څخه منعه کړي یئ؟ آیا نن د مسلمانانو ځمکې د کفارو په لاس کښې نه دي؟ آیا نن په نړۍ کښې بې شمېره د مسلمانانو ښځې له کفارو سره نه دي بندیانې او بې عزتي یې نه کوي؟ آیا د دین د تبلیغ مخه نه نیول کیږي؟ آیا د دین او اسلامي مقدساتو بې حرمتي نه کیږي؟ آخر څه ته انتظار یاست؟ آخر هغه کوم سببونه دي چې مونږ دې ځای ته مجبور کړي چې له کفارو سره جـهاد وکړو؟ آخر زمونږ او کفارو دښمني په څه سره ده؟

تاسې د خپل علم په اساس ووایئ، چې تاسې به د الله تعالی په دربار کښې کوم جواب ورکړئ؟ نن که د ټولې نړۍ د مسلمانانو جهاد او سرښندنو ته اړتیا نه وي نو بیا کله؟ قسم په الله تعالی چې د جهاد عامه فتواء ورنه کړئ تاسې به د الله تعالی په دربار کښې کوم جواب پیدا نه کړئ!

## کفر یو ملت دی اسلامي اُمت ټوټې شوی دی!

د نړۍ ټول کفار زمونږ پر خلاف سره جمعه شوي، ملل متحد او نور داسې سازمانونه یې جوړ کړي چې قوانین یې ټول په کفري عقیده او فرهنګ ولاړ دي او ټول د مسلمانانو په مقابل کښې یو د بل په همکارۍ سره دښمنۍ ته راوتلي او دا دښمني په ظاهره سره بیانوي او وایي. خو اسلامي اُمت ټول په ټوټو تقسیم شوی دی، یو له بل سره همکاري لا څه کوې په دښمنۍ کښې سره ولاړ دي، دا له دې امله چې کفارو د استعمار له لارې په اسلامي دولتونو کښې خپل غلامان واک ته رسولي ټول کارونه د کفارو په لارښوونه کوي، قانون یې د کفارو دی، فرهنګ یې د کفارو دی، نظام یې د کفارو دی او هر څه یې د کفارو د لارښوونې مطابق چلیږي. تش په نامه اسلامي دولتونو کښې مسلمانان یا په مظلومیت وخت تېروي، یا خو له دین څخه په بې خبرۍ کښې په خپل عیش او خواهشاتو کښې غرق دي، د اسلامي اُمت درد ورڅخه هېر دی، هغه کوم مسلمانان چې د اُمت په درد پوهیږي او احساس لري هغه یې سره تقسیم کړي او هېڅ قدرت نه لري، که کوم یو سر راپورته کړي یا خو د دار څوکې ته پورته کیږي او یا د زندان تورو تمبو ته لویږي.

خو بیا هم مونږ ته په کار ده چې څنګه دوی د بین الملل ناړې وهي مونږ هم باید د ټول اسلامي اُمت غږ پورته کړو او ووایو چې اسلامي اُمت په داسې دین سره تړلی شوی چې نه یې بل څوک بېلولای شي او نه هم خپله د دې اختیار لري چې سره بېل شي، ټول اسلامي اُمت په درد، غم او خوشحالۍ کښې سره شریک دی او هېڅ وګړی د اسلامي اُمت څخه د دې حق نه لري چې له نور اُمت څخه ځان د قوم، سرحد او خاورې په اساس بېل وګڼي.

## د حق علماؤ د بدنام کولو هڅې ولې کېږي؟

په اندلس کښې په امام غزالي رحمه الله د کفر ټاپه ووهله شوه او د هغه په احیاءالعلوم کتاب یې د سوزولو حکم ورکړو؛ دا ولې؟ په اوس عصر کښې ولې ځینې لوی علماء چې د جـهاد په علمي، سیاسي او فکري ډګر کښې زیات خدمت وکړي او د مجاهدینو توجو جلب کړي، په بېلابېلو نومونو یې د بدنامۍ هڅې کېږي؟

په هره زمانه کښې په اسلامي اُمت کښې خود غرضه، دنیا پرسته، پردي پال، چوکۍ پرسته، حاسدین، کینه لرونکي، درباري ملایان او نور اشخاص وي؛ چې د خپلو خواهشاتو لپاره د حق د علماؤ رنګه بدوي، په هغه پسې بېلابېلې خبرې کوي او په هغه باندې هر ډول بدنامې ټاپې وهي کوم چې په ټولنه کښې خلک ورسره کرکه لري. په اوس عصر کښې چې کومو علماؤ د حق له منبر څخه د اسلامي اُمت عام مسائل بیان کړي، د اُمت د یو کېدو لپاره یې هڅې کړې دي، د جـهاد مسائل یې د ټول اُمت په سطحه تشریـح کړي دي او د اسلامي اُمت د ټولو مسلمانانو تر منځ یې د سرحداتو ختمولو

هڅې کړې دي؛ همدې د خواهشاتو په ډنډ کښې لوېدلو خود غرضه علماؤ او نورو اشخاصو يې د رنګ بدولو لپاره بېلابېلې لارې غوره کړې دي، رنګ بدې او خرابې ټاپې يې پرې وهلې دي او په هر نوم چې ښه بدرنګ کيږي دريغ يې نه دی ورباندې کړی.

دا ځکه چې دوی خپله د ځينو ناروغيو ښکار دي؛ لکه:

1. پردي پال دي د غربيانو او يا نورو مذهبي او سياسي ډلو لپاره غواړي د اُمت په منځ کښې اُمت ته نجات ورکوونکي علماء بد نام کړي.
2. خپل خواهشات تر پښو نشي لاندې کولای نو ځکه د هغه نورو علماؤ چې دين په ريښتيني ډول د مذاهبو په تعقيب او د حق سره موازي بيانوي مخه يې نيسي او نه غواړي چې د دوی بې غيرتي اُمت ته ثابته شي او خواهشات يې ضايع شي.
3. د دنيا له ژوند سره محبت لري او له سختو حالتونو سره د مبارزې څخه وېره لري؛ نو ځکه هغه مسائل نشي بيانولای او کوم څوک يې چې بيانوي دوی يې د رنګ بدولو هڅې کوي.
4. حسد کوي او د شهرت تږي دي، نشي زغملای چې هغه نور علماء د مجاهدينو او اُمت په منځ کښې ځای او عزت ولري.
5. قوم پرسته دي، کېدای شي هغه حق علماء د يو بل ملک او قوم څخه وي، د قوم پرستۍ په خاطر ورته د زغملو نه ده چې هغه عالم دې د بل ملک او قوم څخه وي.

6. درباري دي غواړي له دې لارې ځينې سياسي مشرانو ته ځان نيږدې کړي، يو څه ګټه ترلاسه کړي او ځان يو څه ورته مطرح کړي.

خو د باطل باد او سېلۍ هېڅ کله د حق رڼا او ډېوه نه ده خاموشه کړې. په امام اعظم ابوحنيفه رحمه پسې تر ننه پورې داسې بې غيرته اشخاص بېلابېلې خبرې کوي، د هغې عزت يې يوه ذره نه کم کړی او هېڅ کله به يې کم هم نه کړي. په اندلس کښې يې چې په امام غزالي رحمه الله د کفر ټاپه ووهله او د هغه په کتابونو يې د سوزولو حکم وکړو، په دې سره په اُمت کښې د امام غزالي رحمه الله يو ذره حيثيت هم کم نشو او نه هم د هغه احياءالعلوم کتاب له سوزولو سره ختم شو. الله تعالی دې داسې بې غيرته اشخاص زمونږ له ټولنې څخه وباسي چې د خپلو خواهشتاتو لپاره د نورو د عزت څښتنانو د بدنام کولو هڅې کوي.

## نبـوي لوبــې او کرکـيټ

اې د اسلامي اُمت ځوانه! ته خو پوهېږې چې رسول الله (صلی الله عليه وسلم) ستا د اعداد لپار د غشو ويشتلو، آس ځغلولو او لامبو وهلو د لوبو لاربښوونه کړې ده؛ ته بيا ولوې په هغه لوبو کښې خپل وخت صرف کوې چې د اسلامي اُمت له اوسني حالت څخه يې په مکمل ډول غافل کړی يې او هغه لوبې له جـهاد سره هېڅ تړاو نه لري؟

درې هغه لوبې چې رسول الله (صلی الله عليه وسلم) يې د زده کولو توصيه کړې ده.

1. غشي ويشتل چې په اوس عصر کښې يې ځای عصري اسلحې نيولی.

2. آس ځغلول او په هغه باندې جنګي تکتیکونه زده کول، چې اوس یې ځای ټولو د سورلۍ وسایلو نیولی، خو په هغه صورت کښې چې د جـهاد په نیت زده او استعمال شي.

3. په اوبو کښې لامبو وهل.

دا هغه لوبې دي چې مسلمانان یې باید د سنت طریقې او اعداد په نیت ترسره کړي، هره یوه یې د انسان لپاره بې شمېره بدني او ذهني ګټې لري.

لنډه تبصره: په دې دریو لوبو کښې مسلمانانو ته اشاره ده چې ستاسې لوبې باید داسې وي چې جـهاد ته پرې آماده او تیار شئ؛ ځکه چې دا لوبې د اعداد برخې دي، د مسلمانانو لپاره لوبې اعداد دی، په دې دریو لوبو کښې اعداد او د جـهاد لپاره تیاری کېږي. په اوله لوبه کښې چې د غشو ویشتل دي، د کفارو په نښه کول زده کېږي چې باید په ښه ډول په نښه شي او د ویشتلو لپاره یې نښه پخه شي. په دوهمه لوبه کښې چې آس ځغلول دي، هم د جنګ په ډګر کښې د دښمن لپاره جنګي تکتیکونه او تخنیکونه زده کېږي چې مسلمانان باید د جنګ لپاره هره وسیله په ښه ډول زده کړي او وکاروي؛ لکه موټر، موټرسیکل، ټانک، طیاره او داسې نو. په دریمه لوبه کښې چې لامبو زده کول دي، په دې کښې هم مسلمانانو ته اشاره ده چې تاسې باید له سمندرونو څخه په کفارو پسې اخوا تېر شئ او له هغه سره جـهاد وکړئ؛ په سمندرونو او زیاتو اوبو کښې تیریدل د لامبو زده کړې ته اړتیا لري.

د دې دریو لوبو له انتخاب څخه معلومېږي چې د مسلمانانو لوبې هم باید له ګټې، اعداد او جـهاد څخه خالي نه وي؛ هره لوبه چې کېږي په هغه کښې

باید مسلمانان د جـهاد لپاره غښتلي شي. کومې لوبې چې په هغه کښې د اعداد او جـهاد لپاره تیاري نه وي ټولې بې ګټې، بې معنی او هسې د قیمتي وخت ضایع ده. په همدې اساس د کرکیټ لوبه چې اوس ډېره عامه شوې او ډېر خلک پرې مشغول دي، داسې لوبه ده چې نه اعداد ته شاملېږي، نه یې جـهاد ته ګټه رسېږي، نه دین ته او که ووایو بدن ته هم خاص ګټه نه لري؛ بل خواته یې زیان ډېر دی؛ د ځوانانو فکر یې له جـهاد او خپل دښمن څخه اړولی او عام خلک یې په لیدلو سره د عبادت او نورو عامو کارونو څخه مصروف کړي دي، چې یوازې د لوبې کتل او خپله یې نه کول، پرته د وخت له ضایع او زیان څخه هېڅ ګټه هم نه لري. د داسې هېوادونو سره چې کفري وي او یا یې نظامونه کفري وي په ځای د دې چې باید جـهاد ورسره وشي او له منځه یوړل شي؛ کرکیټ او لوبې ورسره کول، د عامو خلکو نظریه داسې جوړوي چې دا مو کېدای شي دوست هېواد وي، ځکه چې زمونږ د هېواد لوبغاړي ورسره لوبې کوي؛ نو زیاتره عوام خلک به داسې هېوادونو ته هېڅ د دښمن په سترګو ونه ګوري. په لنډ ډؤل باید ووایو چې کوم کسان کرکیټ کوي او یا یې د مېډیا له لارې تعقیبوي داسې کسان په پوره معنی د فکري جګړې څخه متاثر او په هغه کښې ښکار شوي؛ په پوره اندازه یې په فکرونو منفي کار شوی.

## د ټولنې فرهنګ بد خلک خرابوي

هغه زمانه راغلې چې د ټولنې کمزوري، بکاره، بد فرهنګه، بد نسبه او بد خلک د عزت څښتنان دي؛ ډېر قدر یې کېږي او هر څوک دا کوښښ کوي

چې د دوی په شان خپل صورت او سیرت جوړ کړي. په اوس زمانه کښې ګورو چې هغه کسان زیات ارزښت لري او خلک د قدر په سترګه ورته ګوري چې لوبغاړي وي د ژوند هدف یې خاص لوبه ګرځېدلې وي، ډم او سندر غاړی ډېر قدر لري په ښو ښو محلونو کښې ژوند تېروي. مشکل دا نه دی چې دوی دا کار کوي، مشکل دا دی چې په ټولنه کښې دوی د عزت څښتنان شول، اوس چې دوی هر کار او فرهنګ خوښوي د ټولنې ځوانان او نور خلک یې تقلید کوي. د کرکټ او فوټبال لوبغاړي ټول هغه اشخاص دي چې د ټولنې له فرهنګ سره یې نه صورت جوړ دی نه سیرت. زیان یې دا دی چې زمونږ د ټولنې ناپوهه ځوانانو یې ټولو تقلید کړی او د دوی په شان خپل صورت او سیرت جوړوي؛ آخري هیله یې هم دا وي چې د هغه په شان خپل ځان هم جوړ کړي. زمونږ د ځوانانو د فرهنګ په خرابېدو کښې په اوس زمانه کښې ډېره ونډه دا کرکټ واله لوبډله لري چې ټول جوړښت یې د غربیانو په فرهنګ برابر دی. الله تعالی مو دې له دې فتنې څخه خلاص کړي، نوی نسل یې ټول برباد کړو. په کار خو دا ده چې زمونږ ځوانان د هغه چا صورت او سیرت ته وګوري چې د کفر ملا یې ماته کړې وي، د غیرت ژوند یې کړی وي او هر وخت یې د ضمیر په فیصله عمل کړی وي؛ سلطان صلاح الدین ایوبي، محمد الفاتح، موسی بن نصیر، طارق بن زیاد رحمهم الله او داسې نورو د اسلام زمریانو سیرت کتل په سړي کښې د جـهاد، غیرت او قربانۍ جذبه پیدا کوي. همدا خلک دي چې باید په مېړانه او غیرت کښې یې تقلید وشي؛ تر څو د اسلامي اُمت د ځوانانو صفات ورڅخه زده شي. کفارو په هره زمانه کښې زمونږ د ټولنې د بې غیرته او کمزورو کسانو څخه چې دین

ارزښت نه ورته لري، د خپل ځان په ګټه استفاده کړې ده او زمونږ په خلاف يې د ډال په ډول کارولي دي. دا تاريخ ثابته کړې ده، د ټولنې هغه کسان چې نسب يې کمزورى وي زر په نورو پسې روانيږي او په تقليد کښې د حق او باطل هيڅ توپير نه کوي. ټولنې ته چې خارجي فرهنګ داخليږي هم لومړى په همدې نسبي کمزورو اشخاصو کښې ښکاره کيږي. کفار (غربيان) کوښښ کوي چې د ټولنې مشهورې څېرې خپل فرهنګ ته واړوي، زمونږ په ټولنه کښې ځينې هغه مشهورې څېرې چې هر څوک يې پيژني، غربي فرهنګ خوښوي او همدا مشهورې څېرې خپل صورت او سيرت د غربيانو په څير جوړوي؛ نو په همدې اساس زمونږ د ټولنې ناپوهه خلک هم د همدې مشهورو څېرو په تقليد کښې غربي فرهنګ اختياروي. دا خپله د فکري جګړې يوه پروسه ده چې غربيان غواړي زمونږ د ټولنې له مشهورو څېرو او خلکو څخه په خپله ګټه استفاده وکړي، ځکه چې همدا مشهورې څېرې په ټولنه کښې ډېر تاثير لري او هر څوک يې تقليد کوي. يو مثال يې که زه د دې لوبغاړو  ووايم ټول صورت او سيرت يې له اسلام څخه خلاف دى؛ زمونږ په ټولنه کښې ډېر مشهور هم دي، هر څوک يې پيژني، په خاص ډول په ځوانانو کښې ډېر تاثير هم لري، حتى ځينې سپينږيري داسې محبت ورسره لري لکه د خپل زوى سره، جهل فى الجهل دې ته وايي. همدا سبب دى چې په ټولنه کښې مو د غربي فرهنګ تاثيرات ليدل کيږي؛ له کفارو سره دښمني کمه شوې او دوستانه اړيکو پراخوالى کړى دى. د کومې ټولنې چې فرهنګ بدل شو هغه ټولنه بيا خپل عزت له لاسه ورکوي. په هره ټولنه کښې حتى که کفري هم وي د خپل فرهنګ او رواج بدلول پېغور وي؛ خو

د افسوس ځای دا دی چې په اسلامي ټولنه کښې داسې کسان هم شته چې په غربي او کفري فرهنګ افتخار کوي او د ځان لپاره یې یو ډول پرمختګ هم بولي. په کار ده چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم سیرت مطالعه شي، تر څو د ژوند د هر اړخ لپاره لاره په سنت طریقه وټاکل شي.

## جـــهـادي فـــکر

اې ځوانه! ځوانان په جـهاد ښه ښکارېږي. د ځوانۍ سره ښایي چې جـهاد پکښې وشي. ځوانان د اُمت لپاره د روح حیثیت لري. هغه ځوانان د اسلامي اُمت لپاره په هېڅ حساب دي چې په نورو ملکونو کښې د جـهاد کولو فکر ونه لري. ځوانان باید په غیرت کښې ژوند وکړي که څه هم څو ورځې وي، په دنیا کښې که هر څومره لږ ژوند الله تعالی درکړي، خو چې په غیرت، مېړانه او دینداری کښې تېر شي زیات ارزښت لري او د انسان د افتخار سبب ګرځي. په دنیا کښې که هرڅومره زیات ژوند الله تعالی درکړي، خو چې په بې غیرتۍ او بې دینۍ کښې تېر شي، هېڅ ارزښت نه لري د انسان د دنیا او آخرت د شرم سبب ګرځي. ځوانان باید د جـهاد نړیوال فکر ولري، له ځوانانو سره باید د ټول اُمت د درد احساس موجود وي. جـهاد د ځوانانو دنده ده. د جـهاد او د قربانیو تاریـخ به ځوانان لیکي. قربانۍ ځوانان ورکوي. ځوانان د اُمت لپاره د امن فضاء د خپل غیرت ثمره بولي. اسلامي اُمت به هېڅ کله خوار نشي ترڅو پورې یې چې د ځوانانو څښې او بدن د جـهاد په ګردونو سپېره او خړ پړ وي. اسلامي اُمت د تاریـخ په اوږدو کښې لوی د ځوانانو د سرښندنو او قربانیو تاریـخ لري، کوم اتلان چې اسلامي اُمت

وړاندې کړي بل هېڅ قوم يې مثال نه لري. دا ځوانان دي چې ملکونه فتحه کوي، ځوانان دي چې د کفر ستنې د جـهاد او مېړانې په توره لړزوي، ځوانان دي چې د عزت تاج د اُمت په سر ايږدي، ځوانان دي چې انقلابونه راولي، ځوانان دي چې په سرو اورونو کښې د ابراهيم عليه السلام په شان ګډېږي. مسلمانان او جـهاد سره تړلي دي؛ تر څو پورې چې مسلمانان په جـهاد کښې وي د عزت څښتنان به وي. خو کله چې مسلمانانو جـهاد ته شا کړه او ترک يې کړو، نو پوه شه چې د عزت، بقاء او لوړوالي يې آخري سلګۍ دي. له جـهاد څخه لرې کيدل له غيرت څخه لرې کېدل دي، له غيرت څخه لرې کېدل له دين څخه لرې کېدل دي، ځکه چې زمونږ دين غيرتي دين دی غيرتي خلک به يې پالي او ساتي. د خپلو بچيانو فکر دومره جوړ کړئ چې جـهاد خپله دنده وګڼي، له کفارو سره دښمني او سختي ولري، له مسلمانانو سره محبت، مينه او دوستي ولري؛ همدا د فکر او نظريې جوړېدل دي. کوم ماشومان چې په جـهادي فکر رالوی او ځوانان شي هغه ځوانان بيا خپل مسئوليت ادا کولای شي. په جـهادي فکر روزل شوي ځوانان اسلامي اُمت ته بقاء ورکولای شي او داسې ځوانان بيا کولای شي د تاريـخ د اتلانو کارنامې را ژوندۍ کړي. په اوس وخت کې جهادي فکر ډېر مهم دی چې د ټولنې له ډېرو کمو ځوانانو سره موجود دی، زياتره د ټولنې ځوانان مو د جهاد نظريه او فکر نه لري، د جهاد په مقاصدو نه دي خبر، په خپلو لوبو او بې ځايه بنډارونو کې خپل وخت تېروي. د هغه ځوانانو شمېر مو ډېر کم دی چې په اوس وخت کې به دا نظريه لري چې عملي جهاد ته تياری وشي او په اسلامي نړۍ کې د کفارو د ظلم لاس ورلنډ شي، اسلامي خاورې خپلواکې شي؛ چې

لوی مشکل او ستونزه هم همدې ځای جوړه کړې ده، زمونږ د بااحساسه ځوانانو شمېر ډېر کم دی. په کومه ټولنه کې چې بې ځایه او کمزوري ځوانان زیات وي او بااحساسه غیرتي ځوانان کم وي پرته له شکه داسې ټولنه مخ په ښکته روانه وي.

## د حکومت دوې مهمې دندې

امام غــزالي رحمه الله په احیاء علوم الدین، کتاب کښې د سیاست تعریف داسې کوي: (استصلاح الخلق وارشادهم الی الطریق المستقیم المنجی فی الدنیا والاخرة) ژباړه: د خلکو اصلاح کول او هغه مستقیمې لارې ته یې لارښوونه کول چې په دنیا او آخرت کښې نجات ورکوونکې وي سیاست بلل کېږي.

دا چې د ټولنې اصلاح ډېره اړینه ده، او د حکونت لازمي دنده هم ده، نو په همدې اساس اسلامي حکومت دنده لري چې په ټولنه کښې خلکو ته د دین د ضروریاتو تعلیم ورکړي، د ټولنې ټول وګړي پرې پوه کړي، جنت او دوزخ ته د تللو اسباب ورته تشریح کړي، د نظام د له منځه تللو په اسباب یې پوه کړي او د ټولنې په ټولنیزو اړیکو یې پوه کړي.

کله چې دا تعلیم ورکړل شي بیا د مراقبت او څارنې مرحله پیل کېږي او له ټولنې څخه څارنه کېږي، حکومت باید په ټولنه کښې څارنه وکړي، تر څو معلوم شي چې کوم خلک سرغړونه کوي؟ ټولنه څومره اصلاح شوې ده؟ او کومو اصلاحاتو ته نوره اړتیا ده؟ هغه اشخاص چې د دین په ضروریاتو

کښې کمزوري کوي او یا يې نه کوي باید مکلف شي او مجبور شي، تر څو د ټولنې سره سم په دین پوره پوره عمل وکړي.

تعلیم او مراقبت هغه څه دي چې ټولنیزه او عامه اصلاح رامنځته کوي او د ټولنې وګړي پرې اصلاح کیږي.

دا چې زموږ حکومت تر ډېرې اندازې دا دنده تر سره کړې؛ خو بیا هم لیدل کیږي چې په ټولنه کښې له دین څخه غفلت ډېر زیات دی. موږ هیله لرو چې نور به هم دې برخې ته زیاته پاملرنه وکړي تر څو زموږ د ټولنې په ځوانانو کښې د دین، جـهاد، غیرت او اُمت مظلومه احساس پیدا شي.

نظام په ټولنه جوړیږي، کله چې ټولنه اصلاح وي نظام به خپله پرمختګ کوي، خو که ټولنه خرابه شي نظام خامخا ورسره خرابیږي.

## دا صـحنې به هم تاریخ ولیکـــي

دا صحنې به هم تاریـخ ولیکي چې د مسلمانانو د یو ښار (غزې) خلک په سرو اورونو کښې کباب کیدل، کورونه وربانديې رانړیدل، تر خاورو لاندې کیدل، له لوږې شهیدان کیدل ښځې او هلکان يې بې عزته کیدل. د ټولې نړۍ کفارو په مستقیم او غیر مستقیم ډول اشر ورته کړی وو. د نورې ټولې اسلامي نړۍ مسلمانان د غفلت په خوب ویده او په خپلو خواهشاتو کښې بوخت وو نه يې مرسته ورسره کوله او نه يې له حال څخه ځانونه خبرول، په داسې حال کښې چې ځینو مسلمانانو بیا هم د دښمن لمن نیولې وه او د

هغه هر امر ته يې لبيک ويل! په مستقيم او غير مستقيم ډول د دښمن په صف کښې ولاړ وو! يقيناً چې دا صحنې به تاريخ وليکي!

استغفرالله! اسلامي اُمت خو د تاريخ غيرتي اُمت دی؛ دا آخر ولې نن په دومره کمزوري حالت کښې وينو؟ دا په څنګه حالت کښې شپې او ورځې سبا کوو؟ مسلمانان په سخت امتحان کښې دي؛ الله تعالی دې پرې رحم وکړي. دا معامله د اسرائيلو او فلسطينيانو نه ده، دا معامله د اسلام او کفر ده. دا معامله د حق او باطل ده. دا معامله به د رحمن او شيطان اهل سره جلا کوي او تميز کوي به يې.

سوال دا دی چې د نورې نړۍ مسلمانان د دې جـهاد حکم ته له کومې زاويې ګوري؟ د نورې نړۍ مسلمانان د دې جـهاد د حکم په اړه کوم نظر لري؟ اسلام د دې جـهاد په اړه کومه فيصله او کوم حکم کوي؟ که په ټوله اسلامي نړۍ د فلسطين د ظلم په اساس جـهاد فرض عين نه وي بيا خو نو مونږ پوه کړئ، چې بيا خو مونږ خپل ضمير نه ملامتوي؟! او که فرض عين وي، بيا خو نو تر دې کوم سخت حالت او ظلم ته انتظار کوئ؟! ولې نن د اخوّت او وحدت غږ نه پورته کوئ؟! ولې نن د اسلام غږ نه کوئ؟ ولې نن د جـهاد او غيرت نارې نه بدرګه کوئ؟! ولې نن د قوميت او سرحداتو غولوونکې نظريه له منځه نه وړئ؟! ولې نن د حق منبر ته حق علماء نه پورته کيږي؟! ولې نن له منبرونو څخه د اُمت د نجات او مرستې ته د ترغيب هڅې نه کيږي؟! ولې نن خلک د جـهاد په جذبه او قربانۍ نه روزل کيږي؟! ولې نن ځوانان په لرې او پرتو سيمو کښې د دين په خاطر جـهاد، هجرت او شهادت ته نه هڅول کيږي؟! دا هغه سوالونه دي چې په نن

زمانه کښې د اُمت علماؤ او حاکمانو ته راجع دي، هغه يې په اړه مسئول دي، الله تعالی به خامخا د دې روانو حالاتو پوښتنه ورځخه کوي او د غزې د هر مظلوم (شهيد، زخمي او يتيم) په اړه به د الله تعالی په حضور کې خپله محاسبه پېش کوي او هغه عذر به بيا هلته پېش کړي کوم چې نن د فلسطين د مظلوميت په اړه له جهاد او فتواء څخه بند کړي دي.

## اسلحه ستا عزت دی

اې مجاهده وروره! اسلحه وساته اسلحه ستا عزت دی، اسلحه ستا وقار دی اسلحه ستا برم دی، اسلحه ستا زينت او ستا ښايست دی آخر که درته ووايم چې اسلحه ستا هر څه دي!

اسلحه د مؤمن لپاره بلکل لازمه ده، اسلحه او مؤمن لکه د لاس دوه ګوتې چې هېڅ کله نه سره جلال کېږي. مؤمن په اسلحه ښايسته وي، د نرانو د ښايست لپاره نور سينګار ته هېڅ اړتيا نشته د نرانو د ښايست لپاره صرف جنګي لباس او اسلحه کفايت کوي. تر څو پورې چې مسلمانان د اسلحې قدر کوي او حق يې پر ځای کوي، هېڅ دښمن به هم پرې غالب نشي. له مسلمان سره بايد په هر ځای کښې اسلحه موجوده وي، ځکه چې د اسلام له پيل څخه بيا تر نن پورې، د ټول تاريخ په سلسله کښې اسلحه ګرځول د اسلامي اُمت د اتلانو سنت دی او دا سنت به صرف غيرتي خلک لمانځي او په ځای کوي. مسلمانانو چې په کوم وخت کښې د اسلحې قدر کړی او پورته کړې يې ده، عزت يې ترلاسه کړی او کامياب شوي دي، خو له کله نه يې چې د اسلحې قدر پرېښی بيا ذليل شوي او خوار شوي دي.

په اسلحه کښې درې شیان فرض دي: د جـهاد په نیت زده کول، ساتل او استعمالول. دا فرضونه په کار دي چې هر مسلمان يې په ځای کړي؛ په اسلحه دې کور او بنګلې نه جوړوي.

کوم وخت چې د تورې (اسلحې) ځای قلم نیولی په هغه وخت کښې له شک پرته په مسلمانانو کښې بې دیني او دنیا پرستي خپره شوې ده، مسلمانان په خواهشاتو کښې لوېدلي، د مسلمانانو په منځ کښې د اختلافاتو اور بل شوی او په خپل منځ کښې سره مختلف شوي دي.

قلم چلول پرته له تورې هېڅ ګټه نه لري، توره او قلم یو د بل سره لازم او ملزوم دي. مسلمانان چې کله قلم او توره پورته کړي او د دواړو حقوق پوره کړي، پرته له شکه چې د نړۍ قدرت لرونکی قوم به وي او هېڅوک به د دې جرئت ونه کړي چې د مسلمانانو مخې ته ودرېږي او په مسلمانانو حکومت وکړي. مسلمانان به د تورې په زور په دنیا کښې په عزت ژوند کوي که چیرې يې د تورې حق ورنکړو او تر خاورو يې لاندې کړه؛ بیا نو په دې کښې شک نشته چې د ذلالت ژوند يې په برخه کیږي.

یهود او نور کفار په پوره اندازه کوښښ کوي چې له ماشومتوب څخه د جنګ په روحیه خپل بچیان او نسل وروزي، اسلحه او نور جنګي وسایل له ماشومتوب څخه ور زده کوي او د مسلمانانو په مقابل کښې يې د دښمنۍ روحیه ورجوړوي. خو افسوس دا دی چې زمونږ ماشومان له اسلحې څخه وېرېږي او تر څوانۍ پورې يې مور او پلار اسلحه ورڅخه پټوي تر څو ځان پرې خوږ نه کړي، دې ته وایي د بې غیرتۍ او ډار ثقافت! اې د اسلامي نسل

مسئولینو خپل نسل ته د غیرت، مېړانې او قربانۍ درس ورکړئ، د جـهاد په نه وېرېدونکې روحیه یې وروزئ؛ تر څو تاسې ته د عزت ژوند درکړي. له بې غیرته نسلونو څخه قسم په الله تعالی که په دنیا کښې هم خیر ووینئ او په آخرت کښې هم. ټول وخت به مو سترګې پرې ټیټې وي. خپل نسلونه له اسلحې سره له کوچینوالي څخه عادت کړئ، خپل د اسلحې دښمن وروپېژنئ، اسلحه ورزده کړئ، غیرتي او قوي یې وروزئ، د اسلام زمریان ترې جوړ کړئ چې له دښمن څخه ځرمن وباسي او په پنجو کښې یې ټوټې ټوټې کړي. ګیدړان مه ورڅخه جوړوئ چې له خپل سیوري څخه وېرېږي.

## د کفارو ملګرتیا د دنیا او آخرت رسوایي ده

تاریـخ ثابته کړې ده کومو بې غیرته مسلمانانو چې د کفارو ملګرتیا کړې ده او د مسلمانانو په خلاف یې د کفارو سره همکارۍ ته ملا تړلې ده، ډېر زر د ذلت سره مخ شوي، د دنیا ژوند یې ډېر په ذلت او خوارۍ سره تېر کړی دی او په آخرت کښې به هم د الله تعالی محکمې ته په محکوم ډؤل او ټیټو سترګو پېش شي. زمونږ دښمني الله تعالی ټاکلې ده زمونږ او کفارو دښمني په اسلام، عقیده، ایمان او توحید سره ده. د دې دښمنۍ لپار الله تعالی خپل اصول ټاکلي، هېڅوک حق نه لري چې په دې دښمنۍ کښې اساني او نرمي راولي او یا دا دښمي په دوستۍ بدله کړي. څوک که له کفارو سره دوستي کوي د هغه لمنه نیسي لومړی دې تاریـخ وګوري چې د داسې اشخاصو آخر انجام څنګه وو؟ او څنګه له ذلت سره مخ شوي؟

يوه بله موضوع ډېره مهمه ده هغه دا چې زمونږ د ټولنې ځينې خلکو ته غربي فرهنګ خوند ورکوي ځنګه چې غربيان خپل سيرت او صورت جوړ کړي وي، زمونږ د ټولنې زياتره ځواانان هم هغسې خپل سيرت او صورت جوړوي؛ دا بايد په ياد ولرو هغه اشخاص چې د غربيانو فکر او فرهنګ خوند ورکوي او د هغه په شان خپل ځان او اعمال جوړوي، هغه خلک به له هغوى سره وي.

رسول الله (صلى الله عليه وسلم) فرمايلي دي: **من تشبه بقوم فهو منهم** (ابوداؤد) **ژباړه: څوک چې د يو قوم سره مشابهت او ورتوالى وکړي (په افعالو، اقوالو، عاداتو، خوراک څښاک، لباس او داسې نورو) کښې هغه به له هغه قوم څخه وي چې مشابهت يې ورسره کړى.**

د دې حديث شريف په اساس به ډېر غرب پال افغانان يا د ټولې اسلامي نړۍ غرب پالان او غلامان به د غربيانو سره يو ځاى د قيامت په ورځ ولاړ وي، سترګې به يې ټيټې نيولې وي، مونږ به يې پېژنو خو غربيان به يې نه پېژني، غربيان که پوښتنه ورڅخه وکړي چې تاسې خو په دنيا کښې له مونږ سره نه وئ اوس ولې زمونږ سره يو ځاى ولاړ يئ، دوى به نو څه جواب ورته ووايي؟ مجبور دي چې د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) دا حديث ورته ووايي چې ويلي يې دي **من تشبه بقوم فهو منهم** (ابوداؤد) مونږ ستاسې سره مشابهت کړى وو ځکه او ستاسې سره يو ځاى يو، نو الله تعالى مو دې د غربيانو له فکر، نظريې او بې حيا فرهنګ څخه وساتي او الله تعالى دې د کفارو او د هغه د رسم او رواج نفرت زمونږ او زمونږ د ځوانانو په زړو کښې ور واچوي.

خو بيا هم دا خبره تکراروم چې دا هر څه د مور او پلار او استاذانو دنده ده

چې خپل بچیان او شاګردان له کفري رواجونو څخه وساتي، د هغه بدوالی او ګناه ورته تشریح کړي، له کوچونیوالي څخه باید داسې روزل شوي وي چې خپل اصلي دښمن او له هغه سره دښمني، د دښمنۍ لارې چارې او د هغه له فریبونو څخه د ځان ساتلو لارې ورته معلومې وي.
الله تعالی دې مونږ په دنیا او آخرت کښې د کفارو له اجتماع او دوستۍ څخه وساتي!

## څـوک بـــشر دوستان دي؟

آیا بشر دوستان دا معنی چې هر څوک د غرب فرهنګ، قانون او خلکو ته احترام لري د هغه خلکو باید پالنه او احترام وشي؟ آیا بشر دوستان دا معنی څوک چې د اسلام او جـهاد نوم اخلي باید په قتل ورسول شي او له خاورو سره خاورې شي؟ آیا بشر دوستان دا معنی چې هر څوک باید خپل نفسي خواهشات په پوره اندازه ترسره کړي او هېڅوک يې هم باید مخه ونه نیسي؟ اوسني بشر دوستان د امر باالمعروف او نهی عن المنکر په مقابل کښې یوه لویه شیطاني وسوسه ده چې په اسلامي او کفري هېوادونو کښې خلک غولوي. غرب پال بشر دوستان هېڅ کله د بشر دوستان نشي کېدلای. دا بشر پالان خو د انسانانو په سرونو، وینو، مالونو او عزتونو تجارت کوي، دا بشر پالان خو د بشر پالنه د بشر په قتلولو سره کوي، د دې بشر پالانو خو اصول دا دي چې کفار او کفر دې خوندي وي، مسلمانان که ټول وژل کېږي له لوږې مري او بې عزته کېږي هېڅ باک او پروا نه لري.

مونږ باید اصل حیقیي بشر دوستان وپېژنو. حقیقي بشر دوست خو رسول الله صلی الله علیه وسلم وو، چې انسانیت ته یې د جنت او دوزخ لارې وښؤدلې او انسانان یې د جنت په لوري رهبري کړل، ټول بشریت ته یې د امن زېری راوړو، انسانیت یې خپل اصلي حالت ته راوګرځولو، د ژوندیو لوڼو له خښولو څخه یې خلک منعه کړل، د ظلم، وحشت، وینې تویولو، قتلونو، زنا، غلا او ټولو بې لاریو مخه یې ونیوله، په بشریت یې د جهل تورې تیارې رڼا کړې.

بشر پال صحابه کرام وو چې د امن دین یې په ټوله نړۍ کښې خپور کړو.

بشر دوستان دا معنی چې د بشر د دنیوي او اخروي خلاصون لپاره یې د خپلو مالونو، ځانونو، اولادونو او کورونو قربانۍ ورکړې وي، د بشر د خلاصون په غم کښې ټول په نورو ملکونو کښې شهیدان شول، د بشریت د نجات لپاره یې هجرتونه او جـهادونه وکړل. صحابه کرامو رضي الله عنهم د دې لپاره چې د امن دین خلکو ته ورسوي او بشر، د کفر او جهل له تاریکیو څخه راوباسي ټول وخت یې د دین رسولو ته ورکړی وو.

بشر دوستان مجاهدین دي چې خلک د خلکو له غلامۍ څخه خلاصوي او ټولې نړۍ ته د امن ډاډ ورکوي؛ د مظلومانو لاس نیوی کوي او د ظالم لاس ورلنډوي.

بشر پال او بشر دوست اسلام دی چې پرته له تقوا څخه نور ټول امتیازات له منځه وړي. اسلام د بشر لپاره هر اړخیز قانون دی، په اسلام کښې د بشر ټول حقوق خوندي دي، اسلام د امن دین دی، اسلام د بشریت لپاره دین دی، اسلام د بشر د پالنې او د بشر له حقوقو څخه د ساتنې زیمواري

اخیستې او اسلام هر وګړي ته خپل حقوقو مشخص کړي او د هغه له تلف کولو څخه يې منعه کړې ده.

## د مـــور او پـلار يوه غلط فهمي

ځينې مور او پلار دا فکر کوي چې الله تعالی يوازې له اولاد څخه زمونږ په اړه پوښته کوي او داسې فکر هېڅ کله نه کوي چې د خپل اولاد په اړه به کله هم الله تعالی پوښتنه راڅخه وکړي؟

خو دا لويه تېروتنه ده! د دوی لپاره د رسول الله صلی الله عليه وسلم دا حديث کفايت کوي چې وايي: **الا کلکم راعٍ وکلکم مسئول عن رعيّته** (صحيح البخاري) **ژباړه: خبر دار هر يو ستاسې څخه شپون (څارونکی) دی او له هر يو ستاسې څخه به د خپل ماتحت (تر امر) لاندې کسانو په اړه پوښنته کيږي.**

يعني هغه څوک چې دوی يې مسئوليت په غاړه لري په اړه به يې پوښتنه ورڅخه کيږي.

له دې ډول مسئوليت څخه يو نسبي مسئوليت دی چې ځينې دوستان يې د ځينو نورو په اړه لري؛ چې له دې جملې څخه مور او پلار هم د خپل اولاد په اړه ځينې مسئوليتونه لري، لکه: د پيدايښت څخه وروسته ښه نوم ورباندې اېښوول، د هغه ښه تربيه کول، اسلامي احکام ورښوول، په ښه شکل يې لويول او پالنه يې کول، د ځوانېدو په وخت کښې هغه ته کوزده او واده کول، ظلم نه پرې کول، اسلامي اخلاق ورښوول، خپل نسب ورته ثابتول او داسې نور. دا ټول هغه مکلفيتونه دي چې د مور او پلار په غاړه دي، خو زياتره مور او پلار يې په خپله غاړه نه اخلي او خپل

مسئولیت او وجیبه يې نه ګڼي. زیاتره مور او پلار د خپل اولاد سره ډېر د تحدید ژوند کوي، ټول وخت ظلم ورسره کوي او فکر يې هم دا وي چې الله تعالی زما څخه د خپل اولاد په اړه پوښتنه نه کوي او د دې ظلم حساب به هېڅکله راسره ونه کړي، چې زه يې د خپل اولاد سره کوم، خو داسې نه ده هغه ورځ راتلونکې ده چې سخت حساب به ورسره وشي که هغه مور او پلار وي یا نور مسئولین وي. مور او پلار ته مو توصیه دا ده چې د خپلو اولادونو سره ښه ژوند وکړئ، اړتیاوې يې پور او وسنجوئ، ښه اخلاق ورسره وکړئ، مینه ورکړئ، په خپل ځان يې را مات کړئ، ځان په جبر مه ورته محترم کوئ، د ځان احترام د ښو اخلاقو په اساس پرې ومنئ، له ځان څخه رحمت ورته جوړ کړئ، غضب يې مه ورته جوړوئ، ښه تربیه يې وکړئ، په اسلامي روحیه يې لوی کړئ، د اسلام او جـهاد درس ورکړئ، اولاد هغه کارونه زده کوي او بیا يې ترسره کوي کوم يې چې خپل مور او پلار ترسره کړي وي، نو د خپلو بچیانو څخه د اسلام زمریان جوړ کړئ ترڅو مو د دنیا او آخرت افتخار وګرځي. د کوچونیوالي څخه يې کلک او غیرتي وروزئ چې د دین لپاره د خپل ځان، مال او هر څه قرباني ورکړي.

یوه غوښتنه: کله مو چې بچیان لوی شول او هوښیاران وو بیا د ژوند په چارو کښې یو څه اختیار ورکړئ، ځکه چې ځواني یو څه تقاضاوې لري، که چېرې هغه تقاضاوې له دین او ټولنې سره په ټکر کښې نه وي هېڅ کله يې مخنیوی مه کوئ. که چېرې هغه کارونه کوي چې د دین او اسلام

تقاضا وي لکه جـهاد هېڅ کله يې مه راګرځوئ هسې نه چې د دې عمل په اساس مو الله تعالی جهنم ته واستوي، ځکه چې په اوس زمانه کښې جـهاد ته ډېره اړتيا ده، تاسې يې تشويق کړئ ترڅو ټول هغه د غيرت کارونه وکړي؛ د بې غيرتۍ په کارونو يې تحديد کړئ او له هغه څخه يې منعه کړئ. دا ستاسې مسئوليت دی، د دې په اړه الله تعالی پوښته درڅخه کوي، د هر بچي په اړه به پوره پوره جواب وايئ؟ که ستا د اخلاقو له وجې دې اولاد اطاعت ونه کړي، بې لارې شي او يا يې په حقوقو کښې کمزوري وکړې نو يقيناً چې ته هم په دې اړه د الله تعالی په حضور کښې مسئول يې او پوښتنه به درڅخه کوي. اولاد د خپل مور او پلار لپاره په دنيا کې ځينو ته رحمت وي او ځينو ته عذاب؛ که چېرې يې د ماشومتوب څخه ښه او اسلامي روزنه ورکړې وي، په لويوالي کې به پرته له شکه، خپل مور او پلار ته رحمت او هوسايي وي؛ خو که يې روزنه له ماشومتوب څخه خرابه، بد اخلاقه او بې پروا وه بيا نو په دې کې شک نشته چې داسې اولاد به د خپل مور او پلار لپاره سترېيا او غضب وي.

## په ځوانانو کښې دوه شيان ډېر قوي وي

په ځوانانو کښې دوه شيان ډېر قوي وي، يو غيرت او جذبه دوهم شهوت او نفسي غوښتنې. کومو ځوانانو چې د غيرت او جذبې خواته ميلان وکړو، د غيرت او جذبې په اساس يې خپل ځان برابر کړو، داسې ځوانان کولای شي د اُمت لپاره آزادي راوړي، د اُمت نظام جوړ کړي، د اُمت د يووالي او وحدت لپاره هر ډول قرباني تېرې کړي، د مسلمانانو عزت د خپل سر په قيمت

وساتي او د دښمن په مقابل کښې کولای شي داسې محکم ودريګي لکه غر.
نو د اسلامي اُمت ځوانان بايد د غيرت او جذبې ماده په ځان کښې پيدا کړي
د دې ځوريدلي اُمت احساس وکړي. نن اسلامي اُمت د ځوانانو قربانيو ته
ضرورت لري. نن بايد ځوانان د نړۍ د کفارو غرور مات کړي. نن بايد د
اسلامي اُمت ځوانان د صحابه کرامو رضی الله عنهم، عمر رضی الله عنه،
خالد بن وليد رضی الله عنه، عمر بن عبدالعزيز رحمه الله، صلاح الدين
ايوبي رحمه الله، موسی بن نصير رحمه الله، طارق ابن زياد رحمه الله،
محمد الفاتح رحمه الله، عمر مختار رحمه الله او داسې نورو سالارانو تاريخ
را ژوندی کړي، چې کفار يې د نوم اوريدلو سره په لړزه کېدل، دا ټول د اسلامي
اُمت هغه زړور او با احساسه اشخاص تير شوي چې غيرت او اسلامي جذبې
يې په سينو کښې د سمندر په شان څپې وهلې او هم دارنګه شهوت او نفسي
غوښتنې يې د خاورو په څير تر پښو لاندې کړې وې؛ د ژوند اصلي مقصد
يې د اسلام پرمختګ او لوړوالی وو.

عمر بن عبدالعزيز رحمه الله چې کله د اسلام خليفه شو شهواني قوه يې
ټوله ختمه شوه. ای ځوانه يو څه فکر وکړه، خپل هدف وپېژنه، د پخوانيو
مسلمانانو تاريخ وګوره. د دنيا ژوند تېريګي خو ته يې په غيرت کښې تېر کړه،
د تاريخ صفحې رنګينې کړه اسلامي اُمت ته د افتخار يوه نمونه وګرځه د
اسلامي اُمت د مظلومانو فرياد واوره.

ځوانانو چې کله شهوت او نفسي غوښتنو ته ميلان وکړي او په هغه اساس
د ژوند چارې رواني کړي، نو هېڅکله بيا هغه څه نشي کولای چې يو اُمت
يې له ځوانانو څخه اميد لري لکه: جـهاد، اتحاد، اطاعت، غيرت، د خپل

ناموس او خاورې څخه دفاع او  د کفارو سرکوب کول؛ چې دا د اُمت د ځوانانو اصلي دندې دي. شهوت پرسته او نفس پرسته ځوانان هېڅکله د اُمت د درد دوا نشي کېدلای او نه هم د اُمت د تاریـخ پاڼې رنګینې کولای شي؛ داسې ځوانان به تل د اُمت لپاره د شرم او پیغور اسباب وي.

کوم قوم چې په خواهشاتو پسې تللی او د خپل نفس یې منلې ده هغه قوم بیا خوار او ذلیل شوی، هغه قوم بیا د نورو پښو ته لوېدلی او د هغه قوم خلک بیا تل د نورو په دروازو کښې د غلامانو په څېر درېدلي دي.

نو ځوانانو ته پکار ده، چې هېڅکله د خپل نفس غلامي ونه کړي؛ په چوکۍ دې نیمګړي یې بقاء ژوند، او محلونو باندې باید خپل اصلي هدف له لاسه ورنه کړي. الله جل جلاله فرمايي: ان النفس لامارة بالسوء (یوسف ۵۳) ژباړه: بېشکه نفس امر کوونکی دی په بدیو باندې. نفس نه غواړي چې ته جـهاد وکړې، نه غواړي چې ته تکلیف وړکړې، نه غواړي چې لوږې تندې تیرې کړې؛ د نفس غوښتنې ټولې ناروا او حرامې دي، د نفس سره مبارزه به تر مرګه روانه وي. نو اې ځوانه وروړکه ته ډېر لوی سړی یې، ته ډیر لوی کارونه کولای شې، که یوازې ته وغواړې ډېر لوی بدلون راوستلی شې.

دا مخکې چې د تاریـخ په صفحه د اسلام د مبارزینو تاریـخ ګورې چې نړۍ ته یې اسلام رسولی، په نړۍ یې مالیه منلې وه او په ټوله نړۍ کښې یې راج چلیدو؛ دا هم زما او ستا په شان خلک وو، خو توپیر یوازې په دې کښې دی چې هغوی خپل خواهشات شاته کړي وو، د الله جل جلاله نظام او د هغه لپاره قرباني یې مخته کړې وې. خو برعکس اوس ډېری ځوانانو خپله اصلي دنده (جـهاد) او د الله جل جلاله نظام شاته کړي دي او په خپلو یې بقاء

خواهشاتو پسې تللي، نو ځکه اوس کفار په هر ځای کښې په مسلمانانو ملنډې وهي، بې عزته کوي يې او له خپلو کورونو يې پسې اخلي.

## د اسلامي حکومتونو د زوال اسباب

قسم په الله تعالی چې ښومره مې تاريخ مطالعه کړی، کومو اسلامي حکومتونو چې سقوط کړی او له منځه تللي زياتره سببونه او لاملونه يې دا دي، چې زه به يې دلته په لنډو ټکو کښې راوړم؛ په کار ده چې د نظام هر وګړی ځان ورڅخه وساتي، هغه که لوی مسئوليت لري او که کوچنی مسئوليت لري. د الله تعالی سنت داسې دي چې نظامونه له منځه وړي او انقلابونه راولي، په هغه صورت کښې چې يو قوم د الله تعالی له اصولو څخه ځينې سرغړونې وکړي. الله تعالی فرمايي: **إِنَّ اللهَ لاَ يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتَّى يُغَيِّرُواْ مَا بِأَنْفُسِهِمْ** (سورة الرعد: ١١) **ژباړه: حقيقت دا دی چې الله تعالی د يو قوم حالت نه بدلوي، ترڅو پورې چې هغوی خپل نفسونه (اوصاف) نه وي بدل کړي.** الله تعالی هغه وخت د قومونو په حالت کښې تغير راولي کله چې دوی ځينې سرغړونې وکړي. په لاندې ډول به هغه کارونه په لنډ ډول بيان کړو، چې په اساس يې د تاريخ په اوږدو کښې ډېر اسلامي حکومتونه د زوال تر کندې رسېدلي او له منځ څخه تللي دي.

1. له دنيا سره دومره محبت کول چې خپل اصلي مقصد (جـهاد، د اسلامي نظام ساتل او جوړول) به ورڅخه پاتې شول.
2. د ښځو او هلکانو سره مينه، محبت او ناروا اړيکې. فحاشي هغه ناجوړې ده کوم قومونه چې پرې آخته شي بيا پرته له ذلت او زوال

ښځه بله لاره نه لري. الله تعالی داسې قومونه ذليله کوي چې په هغه کښې فحاشي او بې حيايي عامه شي. په کوم قوم کښې چې بې حيايي زياته شي الله تعالی نفرت وښځه کوي او داسې قوم ته بيا وخت نه ورکوي. نو تاريخ شاهد دی، چې کوم حکومتونه د فحاشۍ په ګند ککړ شوي؛ ډېر زر بيا د هلاکت په سيند لاهو شوي او تباه شوي دي.

3. قوم پرستي او په خپل مينځ کښې يو تربل ځانونه بهتره ګڼل. قوم پرستي داسې بد بويه مرض دی چې کوم قومونه پرې آخته شي په هغه قومونو کښې نفرتونه، بې اتفاقۍ او خپل منځي شخړې رامينځ ته کوي. کله چې مسلمانان په خپل منځ کښې سره په اختلاف او جګړو کښې شي، بيا يې د نظام بقاء امکان نه لري. که چېرې تاريخ مطالعه شي ډېرې به داسې صحنې تر سترګو شي چې حکومتونه او خلافتونه د قوم پرستۍ په اساس له منځه تللي دي؛ چې مونږ يې ښه او ښکاره مثال اموي خلافت بللای شو.

4. د کفارو له مقابلې ښځه غفلت، جـهاد پرېښؤدل او له کفارو سره نرمي اختيارول. کفار هيڅکله زمونږ سره دښمني نه ختموي خو کله چې مونږ له هغوی سره دښمني پرېږدو، بس په هغه وخت کښې دوی رابانديې غالب کيږي. که چېرې ځانونه يوازې تر دې خپل ملک، چوکيو او منصوبو پورې محدود کړو او په نورو ملکونو کښې د جـهاد کولو اراده ونه لرو او جـهاد ونه کړو، په دې کښې هيڅ شک نشته چې الله تعالی به بيا يو ځل دا نظام راښځه اخلي او هغه کفارو او مفسدينو ته

په لاسته ورځي چې د اسلام د ورکولو لپاره يې اراده او اقدام کړی. هغه چا چې تاريخ مطالعه کړی وي هغه ته معلومات کېږي، همدا د تاريخ ثابت اصول دي او د اسلامي تاريخ مسير همداسې را روان دی. د اسلام او اسلامي نظام بقاء له کفارو سره په دوامداره دښمنۍ او جـهاد کښې ده.

5. په دين کښې هغه شيان چې حق اوليت لري لکه (جـهاد او شرعي حدود) هغه ته حق اوليت نه ورکول. کومو اسلامي حکومتونو چې د جـهاد سپېڅلې لارې ته شا ګرځولې ده، له هغه ورځې څخه يې ذلت او غلامي په برخه شوې ده. کومو حکومتونو چې له شرعي اصولو څخه بغير د خلکو د اصلاح او امنيت رامنځته کولو لپاره بله لاره ټاکلې ده، په ملک کښې ټولنيز فساد رامنځته شوی دی؛ چې پای يې آخر د نظام په سقوط تمام شوی دی.

6. له خپل ملت سره خيانت او ظلم کول. هېڅ کله هغه حکومتونه په پښو نه دي درېدلي چې له خپلو عوامو خلکو سره يې د ظلم او خيانت په لار قدم ايښی دی. حکومت په ټولنه ولاړ وي کله چې د ټولنې سره ظلم او زياتی وشي، د ټولنې او حکومت ترمنځ فاصله پيدا کېږي چې آخر پای يې انقلاب وي.

7. د دين په احکامو کښې کمزوري کول، دين نه تطبيق کول او يا د نظام اصول له اسلام سره نه برابرول. کوم حکومتونه چې د دين په احکامو او لارښوونو خپل کارونه برابر نه کړي، له داسې حکومتونو څخه الله تعالی خپل نصرت پورته کوي او چې کله الله تعالی نصرت ورسره ونه

کړي، نو ظاهره خبره ده چې داسې حکومت به له منځه ځي او د زوال کندې ته به لوېږي.

8. په حکومتي چارو کښې د ښځو شاملول. کوم حکومت چې ښځو ته په چارو کښې برخه ورکړې ده، هغه حکومت بیا د عزت او غیرت له دنګ منار څخه غورځېدلی دی. د ځوانانو د بې لارۍ لپاره د ښځو څخه لویه فتنه بله نشته او هغه ځوانان چې د ښځو سره نا مشروع اړیکې ولري هېڅ کله د غیرت، مېړانې او جـهاد امید مه ورڅخه کوئ.

9. د یو حکومت پر ځای څو حکومتونه جوړېدل او په خپل مینځ کښې شخړې او جنجالونه کول. له کوم وخت څخه چې مسلمانانو په خپل منځ کښې شخړې کړې دي اصلي دښمن ته موقع په لاس ورغلې ده؛ چې ښه مثال یې په تاریخ کښې اسلامي اندلس دی، چا چې تاریخ مطالعه کړی وي پوره معلومات ورته کېږي، په اندلس کې به په یو وخت کې څو اسلامي حکومتونه وو، چې آخر پای یې داسې شو، دوی به یو د بل په ضد به د خپلو مسلمانانو ورونو په مقابل کې د عیسویانو سره مرسته او همکاري کوله، چې آخر ټول له منځه لاړل.

10. د جـهاد مسائل نه بیانول او یا هم جـهاد خلکو ته کمزوری شی معرفي کول؛ په ځای یې په نورو مسائلو کښې کوښښ کول، په پاکستان کښې له یو لوی عالم څخه غوښتنه وشوه چې د جـهاد پر برابر یو څه ووایې جواب یې ورکړو چې وخت نه لرم، خو په بانکداري کاروبار کښې بیا په ورځو ورځو د کنفرانسونو او سفرونو وخت ورسره شته؛ داسې عالمان

به هم د الله تعالی حضور ته ورځي. کله چې د جهاد مسائل بیان نشي او په دې مسئله کې غفلت وشي، له شک پرته چې د جهاد جذبې د ځوانانو له سینو څخه وزي او بیا به دومر ځوک نه پیدا کیږي چې جهاد او سنګر ته راووزي، په دین باندې غیرت وکړي او د قربانۍ لاره ونیسي.

11.منصب او چوکۍ غوښتل، د هغه تر لاسه کول؛ خو د هغه حق کما حقه نه ادا کول او په هغه کښې غفلت کول او یا هم له خپل منصب څخه غلطه استفاده کول. په کوم حکومت کښې چې منصب او چوکۍ نا اهله خلکو ته لاس ته ورغله، بیا نو له داسې حکومت څخه د بقاء او پاتې کېدلو هیله نشي کېدای. تاسې تاریخ وګورئ، په کومو حکومتونو کې چې نا اهله اشخاص په منصبونو او چوکیو کې ټاکل شوي، نظام یې له منځه وړی، ظلمونه او وحشتونه یې کړي؛ ټولنه او نظام یې له هلاکت سره مخ کړی.

12.د مسلمانانو له مینځ څخه ځینې بې غیرته او بې ضمیره کسان له دښمنانو سره یوځای کېدل او د هغوی په ملګرتیا کښې له مسلمانانو سره دښمني او جګړه کول. داسې ډېرې واقعې د تاریخ په زړه کښې ثبت دي ان شاءالله په وخت سره به یې په یوه رساله کښې بیان کړو، چې د مسلمانان څخه ځینې کمزوي کسان له کفارو سره یو ځای شوي او د اسلامي نظامونو له منځه وړلو هڅې یې کړې دي.

13.اسلامي نظامونه هغه وخت د زوال په سیلۍ او سېلاب لاهو شوي کله چې دوی خپله اصلي تګلاره غلطه کړې، له خپل تاریخ څخه

غافل او بې خبره پاتې شوي، خپل تېر تاريخ يې هېر کړی او له هغه څخه يې عبرت نه دی اخيستی، په عصري نړۍ پسې يې اقتدا کړې ده، د کفري ټکنالوژۍ او فکر څخه متاثره شوي دي. الله تعالی مسلمانانو ته خپله تګلاره ټاکلې ده په دې تګلاره چې مستقيم روان وي هېڅ کله به د زوال سره مخ نشي، خو که له خپلې لارې څخه واوړي او غلطه لاره اختيار کړيو بيا په دې کې شک نشته چې الله تعالی په داسې نظامونه او حکومتونه له منځه وړي.

دا هغه اسباب دي چې بې شمېره اسلامي حکومتونه يې په اساس له منځه تللي. په کار ده چې هر څوک يې له ځانه سره ياد کړي او ځان ورڅخه وساتي.

## د کفارو ظلمونه او زمونږ چوپتيا

دا څنګه حالات اورو او وينو؟ دا په څنګه زمانه کښې ژوند کوو؟ څنکه د خوشحالۍ او خپلواکۍ احساس وکړو؟ څنګه د نړۍ مظلومان هېر کړو؟ څنګه د کفارو دا ظلمونه او وحشتونه هېر کړو؟ ډېر په سخت حالت کښې يو، له هرې خوا د مظلومانو سلګۍ او زګېروي اورو او هره لحظه مو د وا معتصما او وا مسلما آوازونه تر غوږونو راتېرېږي. د کفر د ظلمونو حد اوج ته رسېدلی دی، په هېڅ ځای کښې مسلمانان په آرامه نه دي، د مسلمانانو ښځو بې عزتي کېږي، کفار جنسي تېری پرې کوي. آخر د مسلمانانو ضمير په څه سره راوژندی کېږي؟ هغه به کوم څه وي چې مسلمانان به غيرت پرې کوي؟ په مدينه منوره کښې د بن قينقاع يهودو د يوې مسلمانې ښځې بې عزتي وکړه په هغه ځای کښې چې کوم صحابي وو د ښځې فرياد يې واورېدو

او په هغه زرګر يې حمله وکړه او ويې وژلو او د هغه مسلمانې ښځې انتقام يې ورڅخه واخيستو، وروسته نورو يهودو دا مسلمان هم شهيد کړو، بيا رسول الله (صلى الله عليه وسلم) ته خبر ورسېدو هغه هم لښکر ور روان کړو او هغه يهود يې له مدينې څخه وايستل او ټول يې پسې واخيستل. دا رسول الله (صلى الله عليه وسلم) او صحابه کرامو رضي الله عنهم غيرت وو، د خپلو ښځو د عزت په خاطر. افسوس دا دی چې نن خو بې شمېره مسلمانې ښځې د کفارو سره په زندانونو کښې پرتې دي، په فلسطين کښې هره ورځ په مسلمانو ښځو باندې جنسي تېرى کېږي، خو د ټولې نړۍ مسلمانان يې په اړه چوپ دي او هغه د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) تاريخ او غيرت سترګو ته نه ورته درېږي. ولې نن مسلمانان په دې اړه عمومي پاڅون او اقدام نه کوي؟ آيا دا ښځې اوس له دې حق څخه محرومې شوې دي چې عزت يې نه ساتل کېږي؟ مشکل دا دی چې مسلمانان زياتره خپله په دې شهواني نړۍ کښې غرق شوي! دوی ته دا مسئله عادي ګرځېدلې! دوی د خپلو پخوانيو اتلانو تاريخ هېر کړی دی! دوی اوس د دنيا په خواهشاتو کښې تللي دي!

يوه خبره دې ياد وي، کفار که هر څومره سرحدات، باطل نظامونه باطلې ډلې د اسلام په نامه را منځ ته کړي، دا يوه خبره بيا مونږ په ډاګه وايو چې د دې وعده به هېڅ کله کفارو ته ورنکړو چې مونږ د نړۍ له مسلمانانو سره نه يو ولاړ ځکه چې داسې اجازه مونږ ته الله تعالى او د هغه رسول (صلى الله عليه وسلم) نه راکوي داسې وعده مونږ په دين کښې نه لرو. مونږ په دين سره شريک يو، دين مو يو دی، عزت مو يو دی، ايمان مو په يو الله دی،

رسول مو یو دی، بیا نو زمونږ تر مینځ بېلتون له کومې خوا شو؟ سرحدات او باندېزی له کومې خوا شوې؟ قسم په الله تعالی چې د نړۍ د مسلمانانو په اړه به هم الله تعالی پوښتنه راڅخه کوي.

قسم په الله تعالی چې د دې موجوده قدرت او نظام پوښتنه به هم الله تعالی راڅخه کوي. قسم په الله تعالی چې د اسلامي مقدساتو پوښتنه به هم الله تعالی راڅخه کوي.

## د افکارو خپلواکي فرهنګي خپلواکي زېږوي

کله چې افکار خپلواک وي بیا د هغه په اساس د فرهنګ خپلواکي لازمې ده او فرهنګ به خامخا خپلواک وي. خو کوم څوک چې فکري خپلواکي له لاسه ورکړې هغه بیا د فکري غلامۍ په اساس تحلیل او لیکنه کوي او هر وخ یې کوښښ دا وي چې د خپل بادار فرهنګ خپل او خپور کړي؛ هغه بیا د ضمیر او غیرت په اساس هېڅ کله تحلیل او لیکنه نشي کولای.

خپلواک فکر خپلواک تحلیل کوي، خپلواک فکرونه همېشه د حق په معیار لیکنه، خبرې او تحلیل کوي. او هر وخت داسې خلک چې خپلواک فکر ولري د خپلواک فرهنګ هڅه کوي او هېڅ کله یې د بدلولو فکر نه کوي.

لیکوال هېڅ کله باید په فکري لحاظ د چا تر تاثیر لاندې نه وي او هېڅ کله لیکوال ته نه ده  په کار چې د حق څخه پرته لیکل وکړي؛ ځکه لیکوالي د حق تعالی یو لوی نعمت دی چې په یو شخص یې لوروي، هغه یې هم باید په حقه سره حق ادا کړي او خپله لیکوالي د حق په محور راوڅرخوي.

لیکوال ته په کار ده چې لیکنه د حق په اساس په داسې الفاظو ترتیب کړي، ترڅو یې لوستونکي په ښه ډول تصدیق کړي او د عمل جامه ورواغوندي.

لیکوالي ډېر حقوق لري چې څو به یې په لنډ ډول بیان کړو.

لیکوالي باید د حق په معیار وشي او د حق په تله وتلل شي.

لیکوال باید له خپلو شخصي اهدافو څخه په لیکوالۍ کښې ځان وساتي او ټولې لیکنې باید په پوره اخلاص سره د الله تعالی د رضا لپاره، د حق په اساس وکړي.

لیکوالي باید له بدو او توهین کوونکو الفاظو څخه خالي وي او زړه راښکونکي او ادبي الفاظ باید پکښې وکارول شي.

لیکوال باید د موضوع مهم ټکي په نښه کړي او په څرګندو ټکو کښې یې واضح کړي. په لیکوالۍ کښې باید ټول ادبي او املايي اصول مراعات شي.

لیکوالي باید د ټولنې اصل د درد ځای واضح او اصلاح کړي. په لیکوالۍ کښې باید هغه څه په ګوته شي چې ټولنه ډېر ضرورت ورته لري. لیکوالان باید هغه څه ولیکي چې په همدې وخت کښې ورته اړتیا وي او مسئولیت یې هم دی چې په داسې وخت کښې خپل قلم له لیکولو څخه باید بند نه کړي. په داسې وخت کښې چې یوې لیکنې ته ډېره اړتیا وي او لیکوال یې په اړه غفلت وکړي، داسې مثال لري لکه د جهاد او جګړې په وخت کښې اسلحه نه استعمالول.

# غرب ته تللي او تلونکي خلک

له ځينو ځوانانو سره زما معلومات شوي، کله چې له افغانستان څخه غربي هېوادونو ته ځوک ځي او غواړي هلته قبولي تر لاسه کړي، نو د دې کار لپاره خپل اسناد جوړوي او ورته وايي چې زه په افغانستان کښې له مجاهدينو څخه تکليف وم او زما سره يې ظلم کولو، ستاسې نظام عادل دی او د بشر حقوق ورکوي، نو تاسې زما سره مرسته وکړئ، زما لپاره د مزدورۍ او دلته د اوسېدو زمينه برابره کړئ؛ زه مظلوم يم په ما ظلم شوی.

استغفرالله! خپل امن په يو غربي او کفري هېواد کښې غواړي، په داسې الفاظو چې ښکاره د کفر بوی ورڅخه راځي!

هغه حکومت بيا وروسته د نظام ټول قوانين پرې تصديق کوي او ورته وايي چې تاسې به زمونږ قانون ته غاړه ايږدئ، احترام به ورته کوئ، دلته به خپل ټول ژوند زمونږ د قانون په لارښوونه پرمخ وړئ.

نو اې لوستونکيه ته په دې کښې فکر وکړه يو کفري قانون ته غاړه ايښؤدل، د هغه په لارښوونه ژوند کول، احترام ورته کول څنګه دي؟ په اسلام کښې کوم اساس لري؟

کفري نظام ته له اسلامي نظام څخه پناه وړل د ژوند د خواهشاتو او ګټې لپاره دا کار د شريعت له نظره تاسې څنګه ارزوئ؟

د يو اسلامي حکومت څخه يو کفري حکومت او نظام ته شکايت کول څنګه دي؟ په دې شخص کفر لازمېږي او که نه؟ آيا داسې شخص به

**مسلمان وي که کافر چې د اسلامي حکومت څخه شکایت کوي، هغه هم په دروغ او دوکې سره؟**

**د یو اسلامي حکومت پر ځای یو کفري حکومت ته ترجیح ورکول آیا تر دې عامې معقولې لاندې راځي او که نه؟ چې وایې (په کفر رضا کېدل کفر دی) د غربي هېوادونو څخه زیاتره هېوادونه اوس حربي دي، په یو دېؤل نه یو دېول په اسلامي خاورو اشغال او استعمار لري آیا له حربي کافر سره بغیر له جـهاد څخه کومه بله معامله جائز ده؟ آیا له حربي کافر سره مزدوري جائز ده؟ آیا له حربي کافر سره یو ځای اوسېدل او ژوند ورسره کول جائز دي؟ افسوس چې د دنیا د څو خواهشاتو لپاره مسلمانان اوس د کفارو غلامي کوي او د څو خواهشاتو لپاره له هغه سره مزدوري کوي. افسوس چې د دنیا د خواهشاتو لپاره له دین څخه تېر شول او خپل ایمانونه یې خرڅ کړل.**

## د صحابه کرامو رضي الله عنهم یقین

**صحابه کرامو رضي الله عنهم په لاندې اصولو عمل کولو او پوره یقین یې وو؛ نو ځکه کامیاب او د ځمکې قدرتمند خلک وو!**

1. **دین مو حق دی.**
2. **الله تعالی مو مرستندوی دی.**
3. **تېر، راتلونکی او حال مو په ګټه دي.**
4. **احتیاط ته اړتیا نشته الله تعالی راسره دی.**
5. **پرته له الله تعالی له هیچا څخه هم وېره نه ده په کار.**

6. چې الله تعالی راسره وي بیا خو کومو اسبابو ته اړتیا نشته.
7. د الله تعالی مرسته راسره ده، نو د هیچا مرستې ته اړتیا نشته.
8. یوازې زمونږ لپار الله تعالی بس دی او په هغه مو توکل دی.
9. له کفارو سره مو دښمني ده.
10. له مسلمانانو سره مو دوستي او همکاري ده.

مونږ هم صرف الله تعالی په اقدام کولو مکلف کړي یو، بریاوې او فتحې زمونږ انتظار کوي. دا هغه کارونه دي چې صحابه کرامو رضي الله عنهم، عملي عمل پرې کړی وو او د همدې په اساس کامیاب وو. مونږ خو د هر کار په کولو کښې په شک کښې وو چې دا به څنګه شي. مونږ خو اوس د کفري نړۍ اسبابو په وېره کښې اچولي یو. مونږ خو اوس یوازې د سرحداتو د ماتولو اراده نشو کولای، صحاب کرام رضي الله عنهم به د یوې وچې څخه بلې وچې ته د دین رسولو پسې تلل او فرض کفائي جـهاد به یې کولو.

## زه په دې وېره کښې یم!

زه په دې وېره کښې یم هسې نه چې دا چوکۍ، قدرت او نعمتونه مو د غفلت په مرګوني خوب ویده نه کړي، هسې نه چې د جـهاد سرې شوګیرې سترګې، ګرد وهلې سپېرې څڼې، په سپېرو خاورو کښې خوب، شهیدان او ځوانې کونډې، یتیمان په غم نیولي د شهید پسې یې منډې، راڅخه هېرې نه کړي. زه په دې وېره کښې یم چې د خواهشاتو غولوونکې نړۍ مو له خپلې لارې څخه کاږه نه کړي، هسې نه چې دا ډېر خواهشات مو له دښمن سره په دښمنۍ کښې تغیر او اساني را نولي هسې نه چې دا له دنیا سره محبت آخرت

راشخه هېر نه کړي، هسې نه چې دا ډېره هوسايي د سختۍ زور راشخه وانخلي او له جـهاد څخه مو غافله نه کړي. هسې نه چې دا نړيوال سازمانونه او مؤسسې دښمنان راته د دوستانو په جامو کښې ونه نغاړي. حالات عميق دي، باريک فکر په کار دی، له سطحي فکر څخه راوتل او پوره سوچ او فکر کول په کار دي.

## د اسلام پخوانی او اوسنی حالت

غرب ته تمدن او پرمختګ مسلمانانو رسولی، د اسلام له ورتللو سره په اروپا کښې انقلاب راغلو او د پرمختګ په لور لاړه، له اسلام څخه مخکې دومره وروسته پاتې وو چې کالي يې نه اغوستل، ښځې به يې د خاوند له مړينې سره يو ځای سوزولې، خوراک او څښاک يې د حيواناتو په څېر وو او د حيواناتو په څېر به په ځنګل کښې اوسېدل.

خو د افسوس ځای دا دی چې اوس مسلمانان د غربيانو په دروازو کښې ولاړ دي سؤال او مزدوري ورسره کوي. دا سبب د غيرت دی، پخواني مسلمانان غيرتي وو، په مېړانه يې جـهاد کولو، په الله تعالی يې يقين او باور وو. اوسني مسلمانان زياتره بې غيرته دي د قربانۍ او جـهاد له ميدان څخه وېره لري او د غربيانو په دروازو کښې سؤال او غلامي يې کار او کسب کرځېدلی دی.

دا په رښتيا سره هم يو تريـخ حقيقت دی.

# دیـــن او سیاسـت

**کفار د دې نارې وهي چې دين له سياست څخه جلا دی، نو اوس مونږ څه وکړو؟ آيا دا قرآن کريم يوازې تلاوت کړو او عمل پرې ونه کړو؟ په قرآن کريم کښې چې د حدودو حکم راغلی د هغې د تطبيق لپاره آيا يو حاکم او با قدرته ټولی جوړ نه کړو؟ په قرآن کريم کښې چې له کفارو سره د جـهاد بې شمېره آياتونه راغلي آيا هغه عمل ته اړتيا نه لري او که يوازې تلاوت کېږي؟ په نېکۍ باندې امر کول او له بديو څخه منعه کول خو زمونږ د دين غوښتنه ده؛ آيا دا پرېږدو او ترسره يې نه کړو؟ آيا په اسلام کښې د آمر او مأمور، امر او اطاعت صرف يوه يادونه شوې ده، که عملا يو سيستم جوړول غواړي؟ د اسلام دين د انسان ټول ژوند ته داخلېږي، د اسلام دين د انسان دنياوي او هم اخروي اړخ په خپل ځان کښې رانغاړي. اسلام او سياست سره تړلي دي، کله چې سره جلا شي نو زمونږ دين کامل نه پاتې کېږي، نه هم په دنيا کښې کاميابۍ ته رسېدلای شو او نه د آخرت کاميابي ترلاسه کولای شو. زمونږ که اقتصادي کارونه دي، که ټولنيز کارونه دي، که سياسي کارونه دي او که عبادات دي ټول له دين څخه سرچينه اخلي، مونږ له دين سره تړلي يو او دين مو سياست (با صلاحيته حکومت) ته اړتيا لري. دا سيستم يوازې مونږ نه دی جوړ کړی، د دې سيستم بنسټ مونږ ته رسول الله صلی الله عليه وسلم ايښی دی، او سلسله په سلسله تر مونږ پورې رارسېدلی دی.**

**سياست څه ته وايي؟ سياست د دين او اسلام د تطبيق لپاره د دين او اسلام د خپرولو لپاره، د دين او اسلام د ساتلو لپاره يوې منظمې او د واک**

او اختیار درلودونکې دولې( حکومت ) له خوا د اسلام ټول احکام تطبیق کول دي. د دین عملي تطبیق ته سیاست وايي. کله چې پوره دین تطبیق کوې نو د دې کار لپاره به یو منظم حکومت جوړوې چې هم محکمه ولري هم قدرت.

ډیموکراسان او سیکلوران وايي چې تاسې یوازې عبادت کوئ او په نور څه به کار نه لرئ، امر باالمعروف نهي عن المنکر مه کوئ، هر څوک پرېږدئ چې د خپلو خواهشاتو په اساس ژوند وکړي؛ دوی وايي چې په هغه دین عمل مه کوئ کوم چې د نړیوال قانون (ډیموکراسۍ) سره په ټکر کښې وي. دوی وايي چې په خپل دین عمل وکړئ؛ خو د ډیموکراسۍ په اصولو. مونږ وایو چې زمونږ دین او ډیموکراسي دوه متضاد اړخونه دي، هېڅ کله یو له بل سره نه جوړېږي. دا خو نه کېږي مونږ خو خپل دین نشو پرېښودلی، زمونږ دین کامل او مکمل دین دی. زمونږ د ژوند د هر اړخ په اړه به زمونږ دین پرېکړه کوي. زمونږ قانون دین دی. سیاست مو د دین یوه برخه ده؛ سیاست مو د دین د تطبیق لپاره یوه وسیله ده چې پرته له سیاست څخه زمونږ دین نه تطبیق کېږي، نه ساتل کېږي او نه پرمختګ کوي. زمونږ دین او سیاست سره تړلي؛ وروسته بیا جـهاد او سیاست سره تړلي دي.

یوه توصیه ذهن ته راغله: پوهېږئ! د اسلام دین ډېر ښکاره او ښه والی یې هم ښکاره دی، خو بیا هم ډېر خلک د کفارو په دسیسو کښې ښکېل کېږي او د هغې په دامونو کښې نیښلي؛ نو د ټولنې هر یوه وګړی مکلف دی چې په دې دسیسو د ټولنې ټول خلک خبر کړي او د کفارو له دې دسیسو څخه یې وساتي.

## د ښځو په اړه غربي فرهنګ

په غرب کښې له ښځو څخه د حیواناتو په شکل کار اخیستل کېږي، دوی بیا ولې زمونږ څخه د ښځو حقوق غواړي؟

مونږ ښځو ته د بشر حقوق ورکوو، همدا یې حق دی او غربیان د حیواناتو په حقوقو هم نه دي ورته قائل.

غربیان د ښځو حق شادي، بیزو او نورو حیواناتو ته ورکوي او له هغه سره د ژوند لپاره ازدواج کوي. دا د دوی فرهنګ دی؟ دا د دوی د بشر احترام او لوړوالی دی؟

غربیان له ښځو څخه پرته له رضایت، د خپلې جنسي غریزې پوره کولو کار اخلي او په دفترونو کښې د همدې لپاره ورسره موجودې وي، ترڅو یې د ضرورت په وخت کښې جنسي غریزې پوره کړي. آیا دا د انسانیت تقاضا ده؟ آیا همدا د بشریت او ښځې حق ورکول دي؟

غربیان په کوم فرهنګ افتخار کوي؟ کوم فرهنګ یې د انسانیت په چوکاټ کښې برابر دی؟

غربان له حیواناتو سره ګډ ژوند کوي، سپي او نور حیوانات په یوه کوټه کښې ورسره اوسېږي. آیا دا انساني فرهنګ دی؟ آیا دا حیواني فرهنګ نه دی؟

غربي فرهنګ همدا وایي چې ښځې دې د حیواناتو په شکل د نرو په منځ کښې د جنسي غریزو پوره کولو لپاره وکارول شي.

همدا د دوی فرهنګ دی چې له یوې ښځې څخه دې ډېر سړي خپل جنسي خواهشات پوره کړي.

## اوسني او پخواني پلرونه او سپینږیري

پخوا به سپینږیري خپله هم د جـهاد په صف کښې ولاړ وو او خپل زامن به یې هم د جـهاد میدان ته ترغیبول، روزل او استول.

اوسني زیاتره سپینږیري خپله هم جـهاد نه کوي او خپل زامن هم نه ترغیبوي، نه یې د جـهاد په روحیه روزي او نه یې جـهاد ته استوي.

دا ډېر لوی توپیر دی د اوسنیو او پخوانیو سپینږیرو او پلرونو ترمنځ! په داسې حال کښې چې په هغه وخت کښې جـهاد فرض کفایي وو او په اوس وخت کښې تر هر څهٔ ډېره اړتیا ده ورته. هغه پخواني خلک چې کامیاب، په عزت او فاتحین وو، د رسول الله صلی الله علیه وسلم په دې حدیث شریف یې عمل کړی وو چې فرمایي: ان سیاحة امتي الجـهاد في سبیل الله (رواه صیح ابو داؤد) ژباړه: زما د اُمت سیاحت (تفریـح) د الله تعالی په لاره کښې جـهاد کول دي.

پخوانیو مسلمانانو جـهاد په داسې شکل کولو چې خوند به یې ترې اخیستو او د یوې تفریـح په ډول به جنګ ته تلل؛ خو اوس زیاتره کسان د سنګر او د جـهاد د نامه اخیستلو څخه وېره لري؛ په ځای د دې چې لاړ شي سنګر ته او له دښمن سره عملي جـهاد وکړي، نور خلک هم له جـهاد څخه منعه کوي؛ دا سبب دا دی چې په دوی خپل نفسونه درانه شوي، د دنیا او خواهشاتو حب یې په زړه کښې ځای نیولی، د مرګ څخه یې کرکه کیږي.

اوس چې په نړۍ کښې مسلمانان کمزوري ذليل او خوار دي لوی علت يې دا دی، چې پلرونو جـهاد ته شا ګرځولې، زامن منعه کوي او د کوچنيوالي څخه يې په غيرتي روحيه نه لويوي.

موسی بن نصير رحمه الله د جـهاد سره دومره محبت لرلو په 73 کلنۍ کښې چې په يوه پښه ګوډ هم وو، له خپل وطن څخه ليرې په اندلس کښې د اسلام د خپرولو لپاره مسافر وو، د جـهاد مقدسه لاره يې اختيار کړې وه. دا چې دوی د اروپا زړه ته داخل شوي وو او د فرانسې ځينې ساحې يې فتحه کړې وې، کله چې د وخت د خليفه له خوا امر وشو او دمشق ته راوغښتل شول، نوره يې د فتحې لړۍ ختمه کړه او د خليفه دربار ته يې د خپل باتدبيره قوماندان طارق بن زياد رحمه الله په ګډون ځان حاضر کړو. وروسته يې له خليفه سره د حج سفر وکړو او دا دعا يې وکړه (يا الله تعالی بېرته مې د جـهاد ميدان ته واستوه او که بيا نه وي نو د دې حج په سفر کښې مرګ راکړه او نور ژوند نه غواړم) هغه وو چې الله تعالی يې دوهم سؤال قبول کړی وو د حج په سفر کښې د خپل رب جل جلاله په لور وروسته له ډېرو جـهادي فتوحاتو او کارنامو په لوړو سترګو لاړو او وفات شو. يادونه بايد وکړو چې په هغه وخت کښې جـهاد د اسلام  د خپرولو لپاره کېدو او فرض کفايي وو، خو د دوی محبت او کارنامې په هغه اندازه وې چې افريقا اندلس او د اروپا ځينې ساحې يې په يو سفر فتحه کړې.

مونږ خو تاسې خپله پوهيږئ، چې جـهاد د دين او ناموس د ساتول لپاره راباندې فرض عين شوی، خو بيا هم تر خپل کور نشو وتلای!

## د حـــزب التحرير ګوند

دا يو سياسي ګوند دی چې په عموم کښې خلافت راوستل يې شعار دی او دوی وايي چې لومړی بايد خلافت او مرکزي حکومت قائم شي، وروسته بيا جـهاد وشي، له کفارو څخه اسلامي خاورې آزادې شي او انتقام ورڅخه واخيستل شي. معنی دا چې په نبوي طريقه يو ځل مکي دوره عملي شي چې هغه دوره د دعوت دوره وه، بيا ورپسې مدني دوره، چې هغه دوره د جـهاد دوره وه.

د دې ګوند بنسټګر شيخ تقي الدين نبهاني فلسطيني دی، په ۱۹۰۹ م کال پيدا شوی او په ۱۹۵۳ م کال کښې يې د حزب التحرير ګوند تاسيس کړی. دا ګوند د اخوان المسلمين له تحريک څخه داسې جلا شوی لکه داعيش چې له القاعده څخه جلا شو او بيا يې د القاعدې په مشرانو د کفر ټاپې ووهلې، ټولو مسلمانانو ته يې مشرکين وويل او د هغه وينه تويول يې جـهاد وبللو. دا ټولې داسې د کفارو دسيسي دي چې د اسلامي اُمت په منځ کښې غوارې بېلابېلې ډلې رامنځته کړي او مسلمانان په خپل منځ کښې سره مختلف کړي. د دې نبهاني صاحب سره سيد قطب رحمه الله ډېر بحثونه وکړل چې له تفرقې څخه ځان وساتي او بېرته له اخواني ګوند سره يو ځای شي، خو شيخ نبهاني صاحب خبره ورسره ونه منله او خپلو اختلافاتو ته يې زور ورکړو.

دا داسې ګوند دی لکه د پاکستان د فضل الرحمن چې د اسلام نارې وهي او په عمل کښې هيڅ اقدام نه کوي او که کوم کوښښ کوي هم د الله تعالی

په لاربښوونه يې نه کوي، کوم چې په هغه سره کاميابي ترلاسه کېداى شي لکه عملي جهاد، دې فضل الرحمن هم يې شمېره خلک او ځوانان له جهاد څخه راګرځولي او غولولي يې دي. حزب التحرير واله وايي چې لومړى دې خلافت راشي بيا به له جـهاد سره ګورو. اې لوستونکو تاسې فکر وکړئ داسې امکان لري چې خلافت دې پرته له جـهاد او قربانۍ څخه راشي؟ آيا داسې په اسانه سره د خلافت راوستل په تاريـخ کښې کومه مخينه لري؟

دا ګوند هم اسلامي اُمت ته يو فتنه جوړه شوې ده او ډېر مبارزين ځوانان يې غولولي دي. نو په همدې اساس غواړم چې يو څه يې درته واضيح کړم.

يو سؤال کوونکي راته وويل چې تاسې وايئ دا ګوند چې اويا کاله کېږي نه دى کامياب شوى نو کاميابي خو د الله تعالى په لاس کښې ده، په دې اساس په کار نه ده چې دې ګوند ته بې ځايه او ناسم وويل شي.

جواب دا دى چې مونږ دې ګوند ته يوازې په دې اساس نه وايو چې ناسم دى، ډېر اسباب نور هم شته په دې دلالت کوي چې د دوى د خلافت هڅې هسې د اوبو يخى دي.

لومړى: دا ګوند چې د واحد نارې وهي د لومړي سر څخه دوى ولې د اخوان المسلمين له اسلامي تحريک څخه جلا کېدل؟

دوهم: دوى ته که څوک باطل وايي، هغه په دې خاطر چې د نظام او خلافت راوستلو طريقه الله تعالى بيان کړې ده چې جـهاد دى خو که د دوى کتابونه او رسالې وکتل شي دا خلک بلکل د عملي جـهاد څخه منکر دي. تاسې تايخ مطالعه کړى چې اسلامي خلافتونه د تورې په زور قائم شوي او که د دعوت له لارې؟

دريم: دا رښتيا هم د تعجب ځای دی چې په اويا کلونو کښې دوی هېڅ قرباني نه ده ورکړې حتی د دوي پوزه هم وينې نه شوه، په داسې حال کښې چې دين د قربانۍ امر کوي او قربانۍ په جـهاد کښې وي، دوی جـهاد له سره مني نه. الله تعالی مسلمانانو ته امر کوي چې تاسې د جنت په بدل کښې پر ما ځانونه او مالونه خرڅ کړئ او له دښمن سره جـهاد (جګړه) وکړئ.

څلورم: دا خلک په زياتو داسې مسايلو کښې سهوه شوي چې ټول د اُمت علماء ورسره مخالف دي، چې وروسته به ان شاءالله بيان شي.

پنځم: کله چې رسول الله ((صلى الله عليه وسلم)) مدينې منورې ته هجرت وکړو، نو الله تعالی د جـهاد کولو حکم ورته وکړو او ورته وويل شول چې کوم ظلمونه په تاسې کيږي د هغې د انتقام لپاره تاسې ته اجازه ده چې جـهاد وکړئ. الله تعالی فرمايي: أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقْتَلُونَ بِأَنَّهُمْ ظُلِمُوا ۚ وَإِنَّ اللَّهَ عَلَىٰ نَصْرِهِمْ لَقَدِيرٌ (سُوْرَةُ الحَجّ: ٣٩) ژباړه: هغو کسانو ته د جګړې اجازه ورکړل شوه چې پر خلاف يې په جګړه لاس پورې کيږي، ځکه چې هغوی مظلومان دي؛ او الله په يقيني ډول د هغو د ملاتړ وس لري.

دا چې الله تعالی د ظلم او تېري په مقابل کښې د جـهاد کولو حکم ورکړو، نو له دې ښخه معلومېږي چې د ظلم او تېري په مقابل کښې د جـهاد ښخه پرته بله بهترينه وسيله نشته، تر څو د ظلمونو انتقام واخيستل شي.

زه به د (حزب التحرير ګوند پېژندنه) کتاب ښخه دلته يو څه نظريات د دې ګوند راوړم، دا کتاب الحاج مولوي محمد قاسم سجاد صاحب ليکلی

او په خلاصه ډول یې د دې ګوند یو څه نظریات راوړي، چې دوی پرې معتقد دي.

1. څوک چې د نړۍ په قطبینو کښې اوسیږي د هغه لپاره روژه معاف ده، ځکه چې هلته شپږ میاشتې ورځ او شپږ میاشتې شپه وي.
2. له پردۍ ښځې سره په لاس روغبړ او په شهوت یا غیر شهوت یې ښکلول جواز لري.
3. په لوڅو عکسونو کتلو کښې مشکل نشته جواز لري.
4. امر بالمعروف او نهی عن المنکر نشته خلک خپلې مخې ته پرېږدئ او اختیار ورکړئ.
5. د قبر له عذابه انکار کول او دا وېل چې مسیح الدجال نشته.
6. شیعه ته د خلافت دعوت ورکول او د شیعه ګانو په شا کښې درېدلو هیله کول.
7. هېڅوک د کتاب چاپولو حق نه لري.
8. امت خلیفه ټاکلی شي، خو لرې کولای یې نشي.
9. خلیفه باید په رایو سره وټاکل شي.
10. کاندید کېدل او رایه اچول جواز لري.
11. په یوه اداره کښې ښځه او کافر هم ټاکل کېدای شي.
12. په شورا کښې ښځه او کافر هم ټاکل کېدای شي.
13. د خلیفه په منلو کښې هر څوک اختیاري دي، که یې مني او که نه.
14. د ښځو د مخ پټول اصل نه لري.
15. د اجتهاد حق هر څوک لري.

16.ښځه کولای شي په پتلون کښې هم له کوره ووزي او شرعي حجاب ضروري نه دی.

نو له دې نظرياتو څخه وروسته مونږ ویلای شو چې دا داسې یو ګوند دی چې د اسلام په خير څه، بلکې د اسلام د بنياد نړول يې هدف دی او دا ټول هغه نظريات دي چې کفري ټولنه او ډيموکراسي يې غواړي.

مسلمانان ورونه دې په دې ګوند نه غولېږي. د دين خپرولو او شرعي نظام راوستلو طريقه الله تعالی بيان کړې، ده قرآنکريم دې مطالعه شي، چې الله تعالی قربانۍ او جـهاد ته څومر ترجيح او ترغيب ورکړی دی، څوک دې په پټو سترګو په چا پسې نه روانېږي. تاسې تاريـخ مطالعه کړئ چې دا دين په نړۍ کښې په کوم شي خپور شوی؟ اسلامي نظامونه مسلمانانو په څومره قربانۍ سره جوړ کړي دي؟

د دې ګوند اويا کاله کېږي هېڅ ثمره يې نشوه معلومه، هسې يې مسلمانان غولولي دي او د اتحاد نارې وهي. د افغانستان د جـهاد ثمره په شلو کلونو کښې معلومه شوه، چې ټولې ناټو ته يې ماتې ورکړه او په افغانستان کښې يې يو اسلامي نظام رامنځته کړو.

په پاکستان کښې فضل الرحمن او د هغه امثال همدومره وخت کېږي چې په دې ګنده جمهوري نظام کښې ورسره ککړ دي هېڅ نتيجه يې معلومه نشوه او په دې طريقه سره به هېڅ کله معلومه هم نشي.

نو په همدې اساس اسلام د قربانۍ دين دی او پرته له قربانۍ او جـهاد کولو هېڅ امکان نه لري چې کامياب شي او هدف ته ورسېږي.

زه به د دې ګوندونو ډلو او نظامونو پېژندلو لپاره يوه قاعده درته ووايم

ګوند، ډله او یا یو نظام باید څنګه درته معلوم شي چې دا سم او دا ناسم دی؟ تر ډېره حده پورې لاندې قاعده کار کوي د ډلو په پېژندلو کې.

اول: ډله به یا سیاسي اړخ لري او یا غیر سیاسي. که چېرته سیاسي اړخ ولري بیا دوې خبرې په ذهن کښې ولره؛ لمړ: شرعي مشروعیت به لري یعنې د شرعي اصولو په اساس به جوړه شوې وي، د یو اسلامي حرکت په مقابل کښې به نه وي راپورته شوی او د بغاوت لاره به یې نه وي نیولې، دوهم د جـهاد په شمول به ټولو اسلامي لاربښوونو ته ژمن وي، چې مهم یې جـهاد دی له کفارو سره، یعنې عملي جـهاد به کوي په خپلو شرایطو پوره.

دوهم: که یوه ډله غیر سیاسي وه یعنې اصلاحي بڼه یې لرله هغه ته بیا په کار ده چې د یو شرعي نظام په سیوري کښې د اسلام په اصولو د خلکو اصلاح وکړي؛ لکه تبلیغیان چې سیاسي اړخ نه لري، خو په کار ده چې د یو اسلامي نظام پیروي وکړي او د شرعي اصولو موافق تبلیغ وکړي.

حزب التحریر وایي مونږ فکري کار کوو، خو عملي جـهاد نه کوو او ځان مستقل هم ګڼي، په یو نظام پسې ځان شریک هم نه ګڼي. نو دا ګوند اوس څنګه په شرعي اصولو روان دی؟ او څنګه شرعي مشروعیت لري؟

تبلیغیان هم یوه ډله ده هغه بیا ځان ته سیاسي ډله نه وایي، یوه اصلاحي ډله ځان بولي، نو دغه ډله هم باید د یو اسلامي شرعي نظام تر سیوري لاندې خپله دنده ترسره کړي، او طریقه یې هم باید د شرعي اصولو برابره وي، خو که چیرې یو سیاسي حرکت هم کوي بیا نو په کار ده چې شرعي مشروعیت هم ولري او د جـهاد په شمول ټول دیني امور ترسره کړي، بیا مونږ ورته صحیح ډله ویلای شو.

د حزب التحرير ګوند د دوی په وینا له له ۵۰ څخه تر ۶۰ هېوادونو کښې فعالیت لري، په دې هر یو هېواد کښې جلا حکومت دی او جلا قوانین لري، چې زیاتره نظامونه د اسلام په اساس نه دي جوړ، خو حزب التحرير ګوند ورسره سازش کوي، نو له دې څخه معلومه شوه چې دوی ته د نظام مشروعیت مهم نه دی، هر نظام چې وي دوی ورسره جوړېږی، چې دا کار په اسلام کښې هېڅ اصل نه لري. بل د دوی او داعش تر منځ په نظریه او کارونو کښې ډېرې نیږدې اړیکې دي صرف دوی فکري اړخ لري او داعش نظامي. تېر کال امارت د دې ګوند ۴۵ غړي په دې اساس چې له داعش سره يې اړيکې وې په بدخشان ولایت کښې ونیول او ټول فارغ التحصیل وو د شرعیاتو له پوهنځي څخه.

د دې ګوند زیات فعالیت په هغه ځایونو کښې دی، چېرته چې روزنه کېږي، چې زیاتره کسان اوس هم د دوی سره د پوهنتون محصلین ولاړ دي او د حزب التحرير ګوند د نظریې لپاره کار کوي.

## تحریریان د نبوت په یوه برخه عمل کوي

تحریریان وایي چې مونږ په مکي دوره عمل کوو، یو ځل محکم مرکزي حکومت جوړ و، بیا به جـهاد کوو او مدني دورې ته به داخلیږو.

دوی چې په مکي دوره عمل کوي بیا خو نو په نیم نبوت باندې عمل وشو، داسې خلافت خو بیا په منهج نبوت باندې نه دی، په منهج نبوت خلافت خو باید په مکي او مدني دواړو دورو سره راشي. تر څو پورې چې الله تعالی د جـهاد امر نه وو کړی رسول الله صلی الله علیه وسلم په دعوت او

تبليغ مکلف وو او په دې لاره کښې د صبر او استقامت توصيه هم ورته کېدله. بيا چې کله مدني دوره پيل شوه بيا هم مسلمانان په قوّت او زور کښې نه وو، ډېر کم تعداد مهاجر او انصار صحابه کرام رضی الله عنهم وو ورسره، په همدې حال کښې الله تعالی د جـهاد حکم وکړو او په ډېر کم تعداد او کمو اسبابو سره د بدر غزا وشوه، په داسې حال کښې چې د قريشو تعداد درې چنده زيات وو له مسلمانانو څخه؛ خو الله تعالی فتحه ورکړه او کامياب يې کړل. له کوم وخت څخه چې د جـهاد حکم وشو بيا رسول الله صلی الله عليه وسلم په آرامه نه دی ناست او د ژوند تر پايه يې د دې کوښښ وکړو چې د مسلمانانو حکومت او خاوره پراخه شي او د حکومت د پراختيا او جوړېدو لپاره لومړنۍ وسيله جـهاد ګڼل کېدو؛ تر دې اندازې چې په لسو کالو کښې يې عربي جزيره فتحه کړه.

تحريريان چې وايي مونږ دعوت چلوو (اوس او خزرج) قبيلې په خولا کوو، مرکزي حکومت جوړوو؛ دا هسې بانې او خبرې دي، دوی غواړي چې د ځوانانو ذهنونه له عملي جـهاد څخه واړوي او په آرامه په کور ناست دعوت يې مشغول کړي، دعوت يې هم ټول داسې دی چې زياتره رايې يې د اُمت د جهورو علماو خلاف دی. دوی وايي چې لومړی دې خلافت قايم شي بيا به جـهاد کوو، بيا نو ولې د فلسطين او نورو مظلومو مسلمانانو د مرستې لپاره په نورو حکومتونو غږ کوي چې بايد مرسته او لاس نوی يې وشي؟ خو بيا دوی ته هم ووايئ چې تاسې هم يو ځل خلافت قايم کړئ، بيا د مظلومانو مرسته وکړئ، د دوی رسنۍ چې مونږ تعقيبوو په نورو مسلمانانو د جـهاد او جګړې غږ کوي خپله يې نه کوي، حتی ترې منکر

دي او په مدني دور کښې مصروف دي. دا دین خو مکمل دی الله تعالی هم راته وايي چې په اسلام کښې پوره پوره داخل شئ یوازې په مکي دور اکتفاء مه کوئ. تبلیغ او دعوت هم وکړئ، د خلافت راوستلو کوښښ هم وکړئ، په ځنګ کښې جـهاد هم ورسره وکړئ، تر څو مو خواري پر ځای شي.
رسول الله (صلی الله علیه وسلم) چې لومړی دعوت کولو په هغه وخت کښې خو د اسلام ابتدایي حالت وو د جـهاد هېڅ حکم او لارښوونه نه وه شوې.
دوی وايي چې مرکزي دولت باید جوړ شي، مونږ خو دومره مرکزي حکومت لرو اخوا صرف جـهاد پاتې دی چې اوس پرمختګ ورکړو، تاسې هم راشئ له دې مرکزي حکومت څخه خلک مه بېلوئ له همدې سره یو ځای شئ، تر څو داسې حکومت او خلافت ترې جوړ شي چې په ټوله نړۍ یې راج وچلېږي.
خلفاوو راشدینو رضي الله عنهم چې تر فارس او روم پورې اسلام ورسولو کفارو ته یې شکست ورکړو هغه په جـهاد سره وو که په تبلیغ سره؟
د خلافت احکام جلا دي او دا خبره په ځای ده چې مهم دی د مسلمانانو د وحدت او اخوّت لپاره یوازینۍ لاره ده، خو د جـهاد بیا جلا مسائل دي، په جـهاد پورې هم د اُمت ژوند تړلی او اُمت ورباندې ژوندی وي، کفار پرې ذلیل کېږي او مسلمانانو ته عزت ورکوي، کله چې د جـهاد خپل شرایط پوره شي، بیا که خلافت وي او که نه وي، بیا که مسلمانان قوي وي او که کمزوري، که زیات وي او که کم وي؛ بیا به جـهاد کوي، د جـهاد میدان ته به راوزي او په مېړانه به مبارزه کوي. خو دوی ته مونږ وایو چې کله د جـهاد مسائل تاسې تر نظر تېر کړي؟ کله مو د جـهاد په

آیاتونو او شرایطو کښې فکر کړی دی؟ نو چې کله جـهاد فرض عین شي، بیا خو د دې اړتیا نشته چې ته یو مرکزي حکومت جوړ کړې، خلافت راولې!

کله چې کفار په مسلمانانو حمله وکړي په دې وخت کښې ستا مال، ځان عزت او ناموس ټول په خطر کښې ولویږي او دا ټول لوټ کوي، نو آیا په دې وخت کښې به ته وایې چې زه دعوت کوم؛ مرکزي حکومت او خلافت جوړوم؟ په دې وخت کښې خو په کار دا ده چې ته جـهاد وکړې خپل ځان، ناموس، مال او عزت خوندي کړې.

په درنښت

حقمل (خادم المؤمنین)

د دعاء په هیله!